# بایبل پیژندنه

په پښتوژبه کي پرمقدس بایبل باندی یوبې بیلګې معلوماتي اوښـــــــکلـــــــې تحــــــــــفه ده.

## لیکنه اوڅیړنه:

## عبدالغفارجُبیر

تقریظونه:

[illegible]ستار احمد ([illegible]) صاحب - کاناډا

دوکتوراکرام الدین الحاج - لیبیا

Ketabton.com

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library93
@Greater_Afghan_Library_Group

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library93
@Greater_Afghan_Library_Group

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دکتاب پیژندنه

نوم: بایبل پیژنده
لیکوال: عبدالغفارجُبیر
کتنه: ډاکترنثاراحمد((صمد))صاحب کاناډا
دلیکوال بریښنالیک:
Jubair_akcc@yahoo.com
دلیکوال دفیس بوک درک:
www.facebook.com/abdul ghaffar jubair
عیسایت څه شی /www.facebook.com/page
دی؟
اسلام اوساینس /www.facebook.com/page
دچاپ کال: میلادی کال۲۰۱۴
کمپوزر: مزمل کمپیوټرسینټر
دچاپ وار: لومړی
دچاپ شمېر: (۱۰۰۰) ټوکه
دچاپ ځای: لاهور
خپرونکی: صدیقی خپرندویه ټولنه
دکتاب ټول حقوق دلیکوال سره خوندي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غوښتنه

له ټولوښاغلواو خوږو
لوستونکوڅخه لطفاًدا هيله
لرم ، چي ددې کتاب دهرې
پاڼې په لوستلوسره، وماحقرته
دزړه له تله دعاوي وکړي ؛چي
الله جل جلاله زماګناهونه
،نقصانونه او نيمګرتياوې
معاف کړي او پرمااحقربانده
رحم وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یوه نړۍ مننه!

## له دې ښاغلونه یوه نړۍ مننه چې وماته ئې ددې کتاب دلیکلولپاره لاندی کتابونه راولیږل.

۱- شیخ الاسلام محمدتقی عثمانی صاحب مدظله العالیه کراچی:
اعجازعیسوی، ایک معمارمجاهد، بایبل کیاهے؟
۲- دروندمشرورورمفتی ابوتقی الرحمن گوجرانواله:
انجیل برناباس، اسلام عیسایت اوسیدناعیسی علیه السلام، مسیحت،انجیل یوحنا، انجیل متی اوداسی نور...
۳- دمرحوم شیخ احمددیدات رحمة الله علیه له مرکز(IPCI) جنوبی افریقا څخه:

**۱-Is Bibel the word of God?**
**۲- Combate Kit**
**۳- Debates of Ahmed Deedat**

۴- عایشه عمر- هالند:

**The Holly Bible (RSV, KJV, ICV)**

۵- راهب یوحنالبنانی - لبنان:
الکتاب المقدس (عربی بایبل)
۶- مریم اسلام - جرمنی:

**۱- Origion of Scriptures**
**۲- Our Bible and the Ancient Manuscripts**
**۳- Jesus or Paul**

۷- مکتبة الحقیقة استانبول ترکیه:

**Islam and Christianity**

۸- ډاکترجان سکاټ لندن:

**Introduction to the Old Testament**

۹- لاریس، لاهور:
۱- تاریخ کلیسا،۲- قاموس الکتاب،۳- بایبل مقدس
۱۰- المهندسه صفاء المصریه:
العقائدالاسلامیة وانجیل برنابا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالـــــــۍ

- وټولوحقيقت اوحقانيت
مندونکوته.
- وټولوهغوعلماء،مشايخو
روحانيونو، مخورو، اودقلم
څښتنانوته چې په دې لاره
کي ئې سترې برياوې درلودې.
- دځوان نسل وهغه قشر ته
چې داسلام په سپيڅلې لاره
کي خدمت عبادت ګڼي.
- په اخرکي وټولوهغووروڼواو
خويندوته چې ددې کتاب
دلوستلواوخپرولوتکل لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library




| شماره | مضمون |
|---|---|
| ۱ | په رڼاکي تیاره |
| ۲ | زه (بایبل پېژندنه) داظهارالحق خلاصه بولم |
| ۳ | دسرخبرې- اړین ټکي |
| ۴ | بایبل ته ولی بایبل وایی؟ |
| ۵ | د (Bible) بایبل دتوری دښه پېژندلولپاره مخته ځو |
| ٦ | دقرآن کریم توری په قرآن عزیزکي |
| ۷ | انجیل (Gospel)څه ته وایی؟ |
| ۸ | اصل انجیل څنګه له منځه ولاړی؟؟؟ |
| ۹ | تورات(Pentateuch) څه ته وايي؟: |
| ۱۰ | اصل تورات څنګه له منځه ولاړی؟؟؟ |
| ۱۱ | زبور:(Psalm)څه ته وايي؟ |
| ۱۲ | بایبل پردووبرخووېشل شوی دی |
| ۱۳ | عهدنامه قدیم یاعهدنامه عتیق (Old Testament) چي (۴٦) کتابونه لری: |
| ۱۴ | اپوکریفه، Apocrypha وڅه شی ته وایی؟ |
| ۱۵ | دعهدنامه قدیم کتابونه په پښتو، عربي، اردواوانګلیسي ژبو کي: |
| ۱٦ | دعهدنامه قدیم لیکوالان څوک دی؟؟؟ |
| ۲۷ | داوسني تورات (Pentateuch)لیکوال څوک دی؟ |
| ۲۸ | دکتاب یوشع لیکوال: |
| ۲۹ | دقاضیانولیکوال |
| ۳۰ | دکتاب روت (راعوت) لیکوال |
| ۳۱ | دکتاب سموئیل لیکوال |
| ۳۲ | دپاچايان اوتواریخ لیکوالان |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | |
|---|---|
| ۳۳ | دکتاب نحمیاه لیکوال |
| ۳۴ | د کتاب ایوب لیکوال |
| ۳۵ | دزبورلیکوالان |
| ۳٦ | دامثال لیکوال |
| ۳۷ | دکتاب جامعه (تولنه) لیکوال |
| ۳۸ | دغزل الغزلات(نشیدالانشاد) لیکوال: |
| ۳۹ | دکتاب حزقی ایل لیکوال |
| ۴۰ | دکتاب داني ایل (دانیال) لیکوال |
| ۴۱ | دکتاب یوئیل لیکوال |
| ۴۲ | دکتاب عوبدیا لیکوال |
| ۴۳ | دکتاب ناحوم (نحمیاه) لیکوال |
| ۴۴ | دکتاب حبقوق لیکوال |
| ۴۵ | دکتاب ملاخیا، ملاخی (ملاکي) لیکوال |
| ۴٦ | دکتاب آستیر(استر)لیکوال |
| ۴۷ | دکتاب باروک (باروخ)لیکوال: |
| ۴۸ | کتاب طوبیاه: |
| ۴۹ | کتاب یهودیت |
| ۵۰ | کتاب دانش( دسلیمان پوهه): |
| ۵۱ | دکلیسانصیحتونه |
| ۵۲ | په (ار ایس وی R.S.V) بایبل کې دعهدنامه قدیم دکتابونولیکولان |
| ۵۳ | عهدنامه قدیم (عتیق) له څه شی څخه بحث کوی؟ |
| ۵۴ | نوې عهدنامه/نوی تړون(New Testament) چې (۲۷) کتابونه لرې اوهغه دادې |

(c) ketabton.com: The Digital Library





| | |
|---|---|
| ۵۵ | دنوې عهدنامې کتابونه ،دهغولیکوالان اوداختلافاتوڅېړ |
| ٥٦ | انجیل متی |
| ۵۷ | انجیل مرقوس |
| ۵۸ | انجیل لوقا: |
| ۵۹ | انجیل یوحنا |
| ٦٠ | دڅلوروانجیلونودلیکلونېټې |
| ٦١ | درسولانواعمال |
| ٦٢ | دپولس لیکونه |
| ٦٣ | **دپطرس لیکونه،دیوحنالیکونه، دیعقوب رساله، دیهودا رساله اودیوحنامکاشفه:** |
| ٦۴ | **نوې عهدنامه (نوی تړون) له څه شی څخه بحث کوی؟** |
| ٦۵ | **دبایبل ایاتونه اوبابونه** |
| ٦٦ | دعیسایی علماء اختلاف دنوې عهدنامې دکتابوپه هکله |
| ٦٧ | دبایبل په هکله دعیسایی نړیوالوعلماء اوڅېړونکو ښکاره څرگندونې |
| ٦٨ | بروس متزروایی: |
| ٦٩ | بارټ ډی ارمن (Bart D. Ehrmann) وایی |
| ۷٠ | ټیډي بیزا(Teddy Beza) وایی |
| ۷۱ | قسطنطین وان (Constantin Van Tischendorf) وایی: |
| ۷٢ | عیسایی عالم فاضل پروفیسربلیک هارډ وایی: |
| ۷٣ | هانس کونگ (Hans Kung) پخپل کتاب کې وایی: |
| ۷۴ | هغه انجیلونه چې داسلام دراتگ څخه مخکې موجود وو: |
| ۷۵ | دبایبل پخوانی نسخې |
| ۷٦ | سینایی نسخه (Codex Sinaiticus) |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| ۷۷ | ا سکندریه نسخه (Codex Alexanderinus) |
| ۷۸ | وطیقانی نسخه (Codex Vaticanus) |
| ۷۹ | افرائیمی نسخه (Codex Ephraemi Syri Rescriptus) |
| ۸۰ | بیزائی نسخه (Codex Bezae) |
| ۸۱ | دمرداري بحيرې طومار |
| ۸۲ | دعهدعتيق/قديم عهدنامه پخوانی نسخې درې دي |
| ۸۳ | عبراني نسخه |
| ۸۴ | يوناني نسخه |
| ۸۵ | سامري نسخه |
| ۸٦ | دعهدنامې قديم پخوانی نسخې هم يوشانته نه دي |
| ۸۷ | هفتادي ترجمه (Septuaginta) سپتواگنتا/سپتواجنتا |
| ۸۸ | دورژن (Version) اوژباړې ترمينځ توپير |
| ۸۹ | ترجمه (ژباړه) څه ته وايی؟ |
| ۹۰ | په تورات کي (۷۰۰) ځلی راغلي دي چي دادخدای کتاب نه دی: |
| ۹۱ | اوسنی تورات دحضرت موسی عليه السلام کتاب نه دی |
| ۹۲ | کتاب يشوع ديشوع کتاب نه دی |
| ۹۳ | عهدنامه عتيق ځکه دخدای کتاب نه دی |
| ۹۴ | لوی فاضل عالم پادری وايی: |
| ۹۵ | اوسني انجيل(نوې عهدنامه/نوی تړون) يازېری دخدای کتاب نه دی!!! |
| ۹٦ | دلوقاانجيل دخدای کلام نه دی |
| ۹۷ | په اوسني انجيل کي غيرواقعي کرښې |
| ۹۸ | بله هېښونکې په بايبل کي |
| ۹۹ | دپولس ليکونه ناقص دی |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | |
|---|---|
| ۱۰۰ | ډاکټرموريس بوکائی دنوی عهدنامې په هکله وايي |
| ۱۰۱ | فاسټس چي د(مانی کیز)دیوې عیسایی ډلې یوعالم دی وایی چي: |
| ۱۰۲ | استاولن پخپل یوکتاب کي وایی |
| ۱۰۳ | دمتی انجیل دمتی کتاب نه دی؟ |
| ۱۰۴ | دیوحناانجیل دیوحناکتاب نه دی!!! |
| ۱۰۵ | دالیګزیدراعتراف |
| ۱۰۶ | دانسایکلوپیډیابریتانیکااعتراف |
| ۱۰۷ | دواټس اعتراف |
| ۱۰۸ | دهورن صاحب دتفسیراعتراف |
| ۱۰۹ | دلوتهرصاحب اعتراف |
| ۱۱۰ | دپروټسټنټ دفرقې دنوروعلماء اعتراف |
| ۱۱۱ | دنړیوالوعیسایی علماء اعتراف |
| ۱۱۲ | داکهارن صاحب اعتراف |
| ۱۱۳ | دډاکټرګراهام سګروګی (Dr. Graham Scoggie) اعتراف |
| ۱۱۴ | کنیت ګرېګ (Kenneth Cragg) چي یوعیسايي عالم دی وایی |
| ۱۱۵ | پروفیسرګیسر(Prof. Geiser) اعتراف کوي |
| ۱۱۶ | دپروفیسرجان سکاټ اعتراف |
| ۱۱۷ | دډاکټرجوزف پارکر(Dr. Joseph Parker) اعتراف |
| ۱۱۸ | فاضل عالم ریو- پیکر(Rev. Packer) اعتراف |
| ۱۱۹ | دښاغلی ګراهام سکورګي (Dr. W Graham Scroggie ) اعتراف: |
| ۱۲۰ | دډاکټرلوبیګاټ اعتراف |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | |
|---|---|
| ۱۲۱ | دامریکادسي این این(CNN) تلویزون اعتراف |
| ۱۲۲ | دسي ایس لویس (C.S Lewis) اونورواعتراف |
| ۱۲۳ | ولی په مطابق؟؟! |
| ۱۲۴ | دآرایس وي (Revise Standard Version) بایبل اعتراف |
| ۱۲۵ | دتثلیث ریښه اوحقیقت |
| ۱۲۶ | دصلیب ریښه اوحقیقت |
| ۱۲۷ | دنوي عهدنامې ۱۰٪ سلنه لاهم دحضرت عیسی علیه السلام ویناوې نه دي |
| ۱۲۸ | اوسنی عهدنامه قدیم ځکه دخدای کتاب نه دی |
| ۱۲۹ | دبایبل ورک کتابونه |
| ۱۳۰ | دعیسایت بنسټ ایښودونکي پولس(ساول/ شاول) دی |
| ۱۳۱ | پولس که حضرت عیسی علیه السلام |
| ۱۳۲ | پولس له حواری برناباس سره |
| ۱۳۳ | په بیت المقدس کي دحوارینوغونډه |
| ۱۳۴ | دبایبل اوتالمودپه هکله دقرآن عزیزبله وړاندوینه |
| ۱۳۵ | بایبل لیکلي وحي نه دي!!! |
| ۱۳۶ | په بایبل کي تکرونه |
| ۱۳۷ | بایبل ځکه دخدای کتاب نه دی چي ! په بایبل کي فحشات دبیلگې په ډول سره |
| ۱۳۸ | په قرآن عزیزکي دزناپه هکله راځئ |
| ۱۳۹ | ولی وبایبل ته اجازه نشته چي په اسلامي نړی کي تبلیغ شی؟ |
| ۱۴۰ | ځواب: |
| ۱۴۱ | په بایبل کي بې معنا، غیرمعقولې،دعقله لیری اوپوچي خبرې بی شماره دي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library





| | |
|---|---|
| ۱۴۲ | په بایبل کي تحریف |
| ۱۴۳ | الله که خدای؟ |
| ۱۴۴ | ولی عیسایان دالله جل جلاله نوم نشی استعمالولای؟ |
| ۱۴۵ | په بایبل کي خیالي ،مبهم اوسرگردانه نومونه |
| ۱۴۶ | په بایبل کي غلطیانې دبیلگي په ډول سره |
| ۱۴۷ | په بایبل کي پنځوس زره (۵۰۰۰۰) غلطیانې |
| ۱۴۸ | په بایبل کي دانبیاء په هکله گستاخي |
| ۱۴۹ | په بایبل کي ساینسي غلطیانې دبیلگې په ډول |
| ۱۵۰ | په بایبل کي ساینسي غلطیانې دموریس بوکایی له نظره: |
| ۱۵۱ | دراهب یوحنالبناني سره دبایبل په هکله بحث |
| ۱۵۲ | وښاغلی یوحنالبناني ته زماځرگندونې |
| ۱۵۳ | انجیل برناباس: |
| ۱۵۴ | برناس څوک دی؟ |
| ۱۵۵ | زیوس څه شی ته وایی؟ |
| ۱۵۶ | دبرناباس انجیل |
| ۱۵۷ | پرانجیل برناباس بندیز |
| ۱۵۸ | دبرناباس دانجیل بله اصلي نسخه پیداشوه |
| ۱۵۹ | په انجیل برناباس کي دفخرالموجودات صلی الله علیه وسلم په هکله رښتني اوسپيني وړاندوینې |
| ۱۶۰ | انجیل برناباس مسلمان نه دی لیکلی |
| ۱۶۱ | مسلمانان بایددانجیل برناباس په هکله څه عقیده ولري؟ |
| ۱۶۲ | وعبدالغفارجُبیرته ډالی |
| ۱۶۳ | دلیکوال چاپ اثار |
| ۱۶۴ | دلیکوال ناچاپ اثار |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| ۱٦۵ | هغه سرچينې چې په دې کتاب کې ورڅخه کاراخيستل شوی دی |

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرکتاب باندی دډاکترنثاراحمد((صمد)) صاحب لیکنه

# په رڼا کي تیاره

یو عالم څه ښه ویلی دي : درې شیان په ډېر سنجش او احتیاط سره واخله : قلم ـ قدم ـ قسم ! نو زه وایم چی جُبیر صاحب د دې کتاب په تهیه کي همداسی کړې دي.

»بایبل پیژندنه» داسی کتاب دی چی د بایبل په ظاهري رونا کي د هغه باطني تیاره معلوموي ، یعنی د نني تحریف سوي انجیل اصلی متن او بطن سپړی او داخلی اختلافات ، نواقصات او تناقضات یې بیانوی . هسی خو د حق او باطل شخړه له ازله جاری ده او تر ابده به درومی.

دا علمأ او منطقأ ثابته ده چی اصلی تورات او اصلی انجیل قطعأ نسته بلکي دواړه تحریف ، تعدیل او تبدیل سوي دي . ځکه نو قرآنکریم نازل سو . معنی دا چی یهودیت او عیسویت دواړه نسخ او فسخ سوي ادیان دي چی حق دین یعنی اسلام یې ځای نیولی دی.

د« بایبل» کلمه د یوناني ژبی څخه مشتق سوې ده یعنی کتاب . عجیبه خو دا ده چی د عیسی (ع) څخه ۱۴۰۰ کاله وروسته پر دې کتاب د بایبل نوم ایښودل سوی دی . تر دې عجیبه لا دا چی دا نوم نه خدای پر ایښی دی ، نه حضرت عیسی (ع) پر ایښی دی ، او نه هم د عیسی (ع) حوارینو پر ایښی دی . بله عجیبه لا دا چی په ټول بایبل کي د عیسی (ع) نوم نسته . نو دا څنګه الهی کلام او د عیسی (ع) لپاره نازل سوی کتاب دی ؟ بله عجیبه لا دا چی پخپله د بایبل نوم هم په ټول بایبل کي نسته ، دا ولی ؟ بله دا چی په ټول بایبل کي دا خبره نسته چی دا د خدای کتاب یا کلام دی ! حال دا چی قرآن خپل هر اړخیزه معرفت او وضاحت وړاندی کوی او ځان له هره حیثه راپیژني ( البقره : ۸۹ ؛ هود : ۱ ؛ الجاثیه : ۲ ؛ السجده : ۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



؛ التوبه : ٦ ؛ الزمر : ۲۳ ؛ الفتح : ۲۵ ؛ محمد : ۲ ؛ البقره : ۹۷ ؛ آل عمران : ۳ ؛ الاعراف : ۲ ؛ النحل : . ( ۴۴

دا چی ویل کیږی« عیسویت یا مسیحیت» ، نو دا خو ښېله شکه عیسی (ع) ته منسوبه کلمه یا اصطلاح ده . پس دا ترې معلومیږی چی د الله دین یو انسان ته منسوبوي چی دا پخپله د دې دین تحریف والی او بطلان دی . فلهذا ، دغه دین خالق ته نه بلکي مخلوق ( یعنی عیسی علیه السلام ) ته منسوب کیږی چی معنی به یې دا وی چی دا نه د عیسی (ع) دین دی او نه هم د الله ! خو په حقیقت کي ټولو پیغمبرانو صرف یو دین درلود چی هغه اسلام دی.

د دې باطل دین پیروانو د عیسی (ع) سره د افراطي محبت له امله هغه د خدای زوی وباله او د هغه د پلار ( خدای ) العیاذبالله سره یې محبت لړ کړ . خو افراطي محبت بدعت دی او بدعت کفر ته ځي . همدا علت دی چی رسول الله (ص) خلک د ځان د خورا زیات توصیف څخه منع کړي دي ، یعنی داسی یې فرمایلی دي :« زما په مدح ( ستاینه ) کي مبالغه مه کوئ لکه عیسویانو چی د عیسی (ع) په مدح کي مبالغه وکړه او هغه یې د خدای زوی وباله او کافران سول . زما په حق کي ووایاست چی د خدای بنده او رسول دی» ( صحیح بخاری ، حدیث نمبر ۳۱۸۹ ) . پس عیسویت پر باطله عقیده ولاړ دی نو ځکه باطل دی .

دا لا څه ، عیسویان پر تثلیث عقیده لری ( یعنی پلار خدای ، زوی خدای او روح القدس ) او ګواکي دا درې واړه سره یو ځای کیږی او یوازینی لوی خدای رامنځته کوی . دا عقیده هیڅ عقلي او منطقي نه ده ، نو ځکه هر کال په زرګونو عاقل او منور عیسویان له خپل دینه بیزاره کیږی او په اسلام مشرف کیږی.

عجیبه لا دا چی هغوی وایی چی عیسی (ع) خپلو دښمنانو اعدام کړ او پر صلیب یې وځړاوه او درې ورځی وروسته بیرته ژوندی سو ، آسمان ته ولاړ او هلته د خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار سره ناست دی ! انجیل مرقس ، شپاړسم اصلاح سوی متن ، نهم نمبر ، ۱۱۵ صفحه داسی وایی :« رب وروسته له دې چی د هغوی سره خبری وکړې آسمان ته وخوت او هلته د الله راسته څنګ ته کښېناست» آیا دا یو احمقانه شِرک نه دی ؟ څنګه دوه ربه ؟ او څنګه دواړه څنګ پر څنګ ؟ د یو ثابت حقیقت په توګه د الله سره نه باید په« ذات» کي ، نه په« صفاتو» کي ، نه په« افعالو» کي ، نه په «ربوبیت» کي ، او نه هم په« معبودیت» کي شریک و نه نیول سی او نه امکان لری . له همدې امله د هغوی راهبان او اسقفان په خپلو عقایدو کي راګیر او بې ځوابه دي او ځکه نو مسلسل اسلام ته پناه وړی.

دا چی تحریف سوی انجیل او عیسویان ادعا کوی چی عیسی (ع) د خدای زوی دی او هغه په خپل روح سره د بی بی مریمی (ع) په نس کي داخل کړ او ګواکي نهه میاشتی وروسته وزوکېد ، هیڅ منطق او عقل یې نه منی . امام ابن القیم (رح) یې څه ښه او معقول رد وړاندی کړی دی :« پر خدای ـ که یې حکمت او نیت تقاضا کولای چی بندګانو ته راڅرګند سی او د خپلی عظیمی کرسۍ څخه راکښته سی او مستقیماً پخپله د هغوی سره وږغیږی ـ لازمه وه چی د یوې ښځی شرمګاه ته داخل نسي او د هغې د بدن په دننه کي د بولو ، مدفوع او وینو په منځ کي څو میاشتی تیری نکړی . او څنګه چی دا کار یې وکړ نو بیا ورته لازمه وه چی د یو کوچني هلک په حیث چی شیدې خوری او ژاړی ، باید راوتلی نه وای . خو څنګه چی بیا هم دا پیښه وسوه ، نو ورته لازمه وه چی د انسانانو سره یې غذا نه خوړلای ، اوبه یې نه څښلای او نه بیده کېدلای . خو دا چی اوبه یې وڅښلې او غذا یې وخوړله نو بیا ورته لازمه وه چی نه یې ادرار کولای او نه هم مدفوع . حال دا چی الله د جلال او کمال د صفتونو لرونکي دی او دا خاص د ده صفات دي . یعنی هغه کمالي او جلالي صفات چی آسمانونه او ځمکه یې د پراخۍ او غټې والي حد نلری .

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د هغه کرسي خو د آسمانو او ځمکي په اندازه پراخه ده . پس دا څنګه کېدای سی چی د یوې ښځی فرج او شرمګاه دی د هغه پراخوالی او وسعت ولری ؟ نو پاک او منزهَ دی الله د دې بیهوده او چټی اقوالو څخه .» ( هدایه الجباری فی اجوبه الیهود والنصاری ؛ الامام ابن القیم ؛ ص : ۱۴۷ ـ . ( ۱۴۸

هو ، جبیر صاحب په خپل دغه علمی او تحقیقی اثر کي د بایبل چټیات ، اختلافات او تناقضات او د دې ټولو رد د هغوی په خپلو کتابو سره تصریح او توضیح کړی دی . که څوک دغه جامع او نافع اثر په غور او حوصله ولولی ، نو ثابته به سی چی جبیر صاحب د نني بایبل ټول مجهولات او معلومات عمیقاً او دقیقاً لټولی دي . ده په خپل دغه علمی او عینی اثر کي بایبل د هغه په اصلی ماهیت او حقیقت سره راپیژندلی دی.

د کتاب ژبه او لهجه پاکه او بې باکه ده . لوستونکو ته یې هر څه په دومره وسعت او قوت سره په مخکي ایښي دي چی هیڅ د پوښتنی مجال نه پیدا کېږی . یعنی هر څه یې په ډېر فصاحت او بلاغت سره ښنلی او ویلی دي ، نو ستر رب دی ستر اجر ورکړی.

د دې خورا اړین او ګټور کتاب د ژوری لوستنی څخه به معلومه سی چی جبیر صاحب هغه په ډېر دقت ، صداقت او محنت سره تهیه او ترتیب کړی دی . د ده ژوره مطالعه ، د موضوعاتو تل ته ورننوتنه ، د مبهمو ټکو پلټنه او د مجهولو مفاهیمو ګرویږنه دا ثابتوي چی جبیر صاحب پر بایبل او ټول عیسویت باندی مضبوطه غیږ راګرځولې او هغه یې علماً ، عملاً او عاملاً ښنلی او راپیژندلی دی . نو ځکه زه دې پایلی ته ورسېدم چی د« بایبل پیژندنی» دغه معتبر او مغتنم اثر په خپله حصه کي یو کاملترین او شاملترین کتاب دی چی تر ننه افغاني ټولنی ته نه و وړاندی سوی . نو الله دی محترم جبیر صاحب ته دنیوي او اخروي بری عطا کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



. او درنو لوستونکو ته می سپارښتنه دا ده چی دا کتاب عمیقاً او په ښه غور ولولی تر څو ننني باطل عیسویت ښه ورته ثابت سی ،

والسلام

ستاسو د دعاوو محتاج نثار احمد صمد-کاناډا

2014، 11، جون، چهار شنبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرکتاب باندي ددوکتوراکرام الدين الحاج ليکنه

# زه((بايبل پېژنده)) داظهارالحق خلاصه بولم

ليکنه: دوکتوراکرام الدين الحاج- طرابلس ليبيا

ژباړه: فاطمه عُمر- بحرين

الحمدلله وحده والصلوة والسلام على من لانبى بعده.

په ډېره خوشحالى سره يوځوکرښې دخپل ورورعبدالغفار جُبير صاحب په يوه ښکلى ،معلوماتي اوحيرانونکي کتاب ((بايبل پېژنده)) باندي ليکم.

دنړيوالومذهبونومطالعه اوپرتله زماډيره خوښه ده، خوزمادژوند محوريواځي پردې باندی نه راګرځي،مادعيسائيت په هکله دشيخ مرحوم احمدديدات رحمة الله عليه کتابونه، مناظرې ، بحثونه (الله فى اليهودية والمسيحية والاسلام، المناظرة الکبرى، حوارمع ديدات فى باکستان،الخمربين المسيحية والاسلام وغيره) اويو نړيوال کتاب ((اظهارالحق)) لوستى دى الحمدلله ثم الحمدلله، داچي عيسائيت اوس نسبت تر عجموپه عربوکي په سرعت سره روان دى داځکه چي عيسايى نړۍ ودې پايلوته رسيدلې ده چي په مسکينانوخه جوړه ده، ترسلوافريقايانويوبداېه عرب ودوى ته ارزښت لرى، نوځکه دوى اوس وعربي نړۍ ته مخه کړيده، نوځکه زه ددوکلونوراهيسى دداسى مرکزاوملګروپه لټه کي يم چي په عيسائيت کي ئې ژوره مطالعه کړې وي اويوڅه الهام ورڅخه واخلم ،چي يوله هغوخوږوملګروڅخه عبدالغفارجُبيردى،ماچي کله د(بايبل پېژنده) يوڅوبرخى ولوستلې نوداسى فکرمى کاوه چي مرحوم احمدديدات راسره ناست دى اوياهم مناظرعرب والعجم حضرت مولانارحمت الله کيرانوى الهندى رحمة الله راسره دى،لله الحمدوالمنة

په حقيقت کي دعبدالغفارجُبيرصاحب داکتاب زه د(اظهارالحق) خلاصه بولم اوبل

(c) ketabton.com: The Digital Library



داچي په دې کتاب کي له اوسنیواثاروخخه ډېره گټه اخیستل شوېده، هذامن فضل رب العالمین -زماتوصیه وټوله امت مسلمه مرحومه ته داده چي داکتاب بایدپه عربي ، انگلیسي اونوروژبوته وژباړي، ترټولولومړی ما دعربي ژبې دژباړې ژمنه ماورسره کړیده،خوزه به دپوهنتون درسمیاتوسره- سره ودې ژباړې ته اولیت ورکوم، داکتاب به هغه وخت ډیراغیزمن شي چي په انگلیسي ژبه کي هم چاپ شي، وافوض امرالی الله ... دالله په مرسته سره هرڅه شوني دي داځکه چي- ان الله علی کل شئ قدیر-

ددې کتاب ښکلاپه دې کي ده چي ښکلي نړیوال ماخذونه لري، دهرماخذپاڼه اوچاپځای جوت دی، اوهرڅوک کولای شي چي تل ورڅخه دعلمي اواکاډمیکې سرچینې په توگه سره ورڅخه استفاده وکړی.

په عربي نړۍ کي دمرحوم احمددیدات کتابونه چاپیږی اوخپریږی، خوداسی اشخاص دگوتوپه شمېردی چي په عیسائیت باندی نوي څېړنې وکړی اوددې څېړنوگراف پورته کړی،زه داکتاب (بایبل پیژندنه) ددې امت محمدی صلی الله علیه وسلم لپاره یوښه زیری اودسوکالی یوه بیلگه گڼم.

دامت مسلمه مرحومه دې ځوان لیکوال عبدالغفارجُبیردبایبل پرهرڅه باندی رڼااچولې ده،زه داپه یقیني ډول سره درته ویلای شم چي ددې کتاب په لوستلوسره به هیڅوک هم مرتدنشي،که ئې یوڅه ماغزه په سرکي وه، مگرکه یوڅوک دروپواویاهم دښځو په جال کي راگیرشو نوبیاکیدای شي چي داسلام دمبارک دین له کړۍ څخه ووځي؛اوپاتي دی نه وي چي عیسایی نړي تل دعیسائیت په خپرولوکي دهمدغودوولا رو(ډالرو+ښځو)څخه کاراخلي، خوکه په حقیقت کي رښتنی اسلام اوایمان شتون ولري نوبیاداهرڅه (ډالر+ښځه) هیڅ ارزښت نلري،اوکه بیاهم مرتدشي نو په اسلام کي دمرتدژوند (خسرالدنیاوالاخره)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده،موږخودلته په لیبیا اونورو عربي هیوادونوکي دمرتدپه هکله هیڅ نشوویلای،اوتل دمرتدپه هکله تأویلونه کوو، چي دادقرآن اواحادیثوسره په ټکرکي دي.
زه دقرآن عزیزددې ایات (واعدوالهم مااستطعتم من قوة) په دایره کي قلمي جهادهم داخل بولم،داچي زماسره به دامت مسلمه مرحومه علماء کرام موافق وي که یا،دابه وواحداحدالصمدجل جلاله ته معلومه وي،خودا په ډاډسره ویلای شم چي دامت مسلمه مرحومه دعلماء مشراستادقرضاوي دام ظله اونړیوال استادوهب الزحیلی دامت برکاته زماسره هم فکره دي،دوی په دې آنددی چي داسلام ددین دژغورلوپه موخه هرتکل، هوډ اوحرکت ددې ایات ترسیوری لاندی دی، لله الحمد.
عبدالغفارجُبیرصاحب پرښه وخت باندی داکتاب ولیکي،داچي په افغاني ټولنه کي عیسائیت صفردی اواوس ځینی عیسایی کړي داکوښښ کوي چي دامنسوخ اومتروک دین خپورکړی نودالازمه ده چي ټولنه اواولس پروخت باندی ورته مسلح شي (فکري روزنه ولری)، زه وافغاني ټولنې ته دازیری ورکوم چي که داکتاب په افغاني ټولنه کي شتون ولری نوعیسائیت به له صفره څخه هم کم شي،زه ددې کتاب مبارکي ترهرڅه نه مخکي وځوان لیکوال عبدالغفارجُبیر ته اوبیاپه مجموع کي وټول افغاني اولس ته ورکوم.

**مننه:**

زه دفاطمه عُمرخورڅخه مننه کوم چي زمادایوځوکرښې ئې وژباړلې اوکله ئې هم دعبدالغفارجُبیرصاحب څه لیکنې په عربي اویا انګلیسي ژبوسره رالیږلې دي.
همدارنګه دې خور دعبدالغفار جُبیر(زمامناظره دیوه عیسایی راهب سره، سوال ځواب،ماولی اسلام قبول کړ؟، اسلام اونوي ساینسي څېړنې ۱، ۲، ۳ ټوکونه) ئې راولیږل زه ډیرورڅخه خوشحال شوم که څه هم داکتابونه په پښتوباندی دی خوزماکتابتونورباندی ښکلی ښکاری، خوچي کله مي اراده شي چي داکتابونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولولم نوفاطمه عُمرخورددې کتابونو یوه یوه برخه راته ژباړی،لله الحمد، اوبیائې زه گورم.

## غوښتنه:

۱- له ټولومسلمانانوڅخه موپه کلکه سره داغوښتنه ده چي ددې کتاب په خپرلوکي پوره ونډه واخلی، داښکلی کتاب بایدونوروژبوته وژباړل شي، په ویب پاڼوکي خپورشي،په مجلوکي کي خپورشي، په ورځپاڼوکي خپورشي، پرانټرنیټ باندی انلاین خپورشي.

۲- دځوان تکړه لیکوال عبدالغفارجُبیرسره هرډول مرسته باید وشي ، ترڅودی وکولای شي چي په دې اړوندنورې لیکنې هم وکړی، دکفري نړۍ عادت ومورته معلوم دی که چیری په غربي نړۍ کي دمستشرقینوله لوری یوکتاب داسلام په خلاف ولیکل شي نوپه زرهاو خپرندویې ټولنې ورته په انتظاروي، اوکله چي ئې ویوې خپرندویې ټولنې ته ورکړی هغه ټولنه بیاداکتاب په ډیروژبوسره په میلیونهاوټوکه چاپوي اوپه نړۍ کي ئې خپروي نومورته هم پکارده چي داسلام لپاره وهرڅه ته چمتوشواودادارینوسعادت وګټو.

یامسبب الاسباب یاحی یاقیوم

اهدناالصراط المستقیم صراط الذین انعمت علیهم غیرالمغضوب علیهم ولاالضالین.

۳- داسلامي نړۍ دمتدینوعلماء اولیکوالانوڅخه می داغوښتنه ده چي په هرځای کي دعیسائیت په خلاف قلم اوچت کړي،په ځانگړې ډول سره وافغاني ټولنې ته داویل غواړم چي ددې مهلک سرطان (عیسائیت) په مقابل کي قلم اوقدم پورته کړی،اوخپل اولس ددې وایروس(عیسائیت) څخه وژغوري، داځکه اوس ئې لادرملنه شونې ده، اوکه مووخت ورکړی !!! نوبرخلیک به مودعربي نړۍ په شان شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- زموږپه تاريخ کې داسې مجاهدين وه چې ترمرګه پورې ئې وصليب ته ځانونه تسليم نکړل، لکه عمرمختار(السيدعمربن مختاربن عمرالمنفى الهلالى ۱۸۵۸-۱۹۳۱ ميلادى) چې ورته دصحرازمرى هم وايى،هغه ترهغه مهاله پورې چې ونيول شو ،شهيدشو(په داروځړول شو)، داسلام له دين څخه تيرنشو، اوحتى وصليبيانوته ئې نرمه خبره هم جرم ګڼه،هغه به تل ويل داسلام روح په جهادکې دى،هلال بايددصليب څخه پورته وي،صليب بايدتل تعقيب اوتذليل شي، داسلام په لاره کې کوښښ زماروحي غذاده ،دتورى ترسيوري لاندى ژوندراته ځړورتيااولوړتياده،داسلام ودښمنانوته تل په مورچل کې اوسى ترڅودوى ستاسودروازه ونه ټکوي اوداسى نور...

وماتوفيقى الابالله، عليک توکلت

اخوکم فى الدين

شيخ دوکتوراکرام الدين الحاج - طرابلس ليبيا

السبت، ۱۵ شعبان، ۱۴۳۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دسرخبرې

# اړین ټکي

الحمدلله الذی خلق فقدر، وخلق آدم من طین، وعیسی بن مریم من غیر أب لیکون حجة علی العالمین فیثبت أن الخلق بالازادة لابالعلیة، فتبارک الله أحسن الخالقین، والصلوة والسلام علی سیدنا محمدوسائر النبیین، المبعوثین رحمة للناس أجمعین.

اللهم صل علی النبی محمدحتی لایبقی من صلوتک شیئ وبارک علی النبی حتی لایبقی من برکاتک شیئ وارحم علی النبی حتی لایبقی من رحمتک شیئ وسلم علی النبی محمدحتی لایبقی من سلامک شیئ.

ولوی واحداولایزال خدای جل جلاله ته دي داسمان دستوروپه شان ثناءاوستاینه وي، اوپرفخرالموجودات امام الانبیاء خاتم الانبیاء حضرت محمدمصطفی صلی الله علیه وسلم باندی دي دټولو کائناتو دشمېرپه شان درودونه اوسلامونه وي،والله جل جلاله ته په دې سرپه سجده اوشکراداء کوم چې زه احقرئې ددې کتاب دلیکلو جوګه کړم، وماته ئې دومره زمینه اووخت مساعدکړ ترڅو ما وکولای شوای چې ددې کتاب لپاره سرچینې دمختلفو هیوادونو څخه دمخلصو مسلمانانواوغیرمسلمانانوپه مرسته راټولې کړم، اوبیائې دومری طاقت وماته راکړترڅوداکتاب مې بشپړکړ. الحمدلله ثم الحمدلله

ددې کتاب سرچینه اومصدردعیسایي علماء، مؤرخینواوڅېړنکو مستندنړیوال کتابونه دي،په دې کتاب کې ډیرلږدهغوکتابونو اوماخذونوڅخه کاراخیستل شوی دی چې دامت مسلمه علماء لیکلی دي،وبل لورته په دې کتاب کې څېړنې، پلټنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوحقایق په عادلانه اوصمیمانه ډول سره شنل شوی دي؛ددې کتاب دلیکلوڅخه موخه داده چي خپله افغاني اوپه مجموع کي پښتني ټولنه د عیسائیت په اصلي اوحقیقي څهره خبرکړو،دعیسائیت بنسټ او ریښه ورته روښانه کړو،دعیسائیت حقیقت ورته څرګندکړوداځکه چي په مجموع کي عیسایي مبشرین پوره کوښښ کوي چي په افغاني اوپښتني ټولنه کي دعیسائیت داناولې څپې خپرې کړي ،ددوی دڅرګندونومطابق دوی دبایبل پښتولومړۍ ژباړه په هندوستان کي په (۱۸۵۳) میلادي کال کي وکړه،اوهغه ئې چاپ کړه،دبلوڅي اوبراهوي ژبو بایبلونه ئې په (۱۹۰۷) میلادي کال کي چاپ کړل،ددری/فارسی ژبې بایبل په (۱۸۸۴) میلادي کال کې خپوراوچاپ شو دنورومعلوماتولپاره تاسی کولای شی چي لاندی کتاب وګوری:

قاموس الکتاب پاڼه ۱۲۷

لیکوال: ایف ایس خیرالله، خپرونکي: مسیحی اشاعت خانه ۳٦ فیروزپورروډ لاهور۲۰۰۸

عیسایی علماء دکلیساپه تاریخ (Church History) کي لیکي:

موږډېرکوښښ وکړچي په ټوله نړۍ کي صلیب وځلوواوهرځای دلویې برطانیې پرمهال کامیابه شو،خوپه سعودي عربستان او افغانستان کي موځای ونه موندی. موږبه وخپلوراتلونکونسلونوته توصیه وکړوچي دټولوامکاناتوڅخه په استفادې په همدغو دوو ځایونو کي لومړی نوک ځای اوبیاسوک ځای کړي.

ددوی هغه لومړی پښتوبایبل چي دوی په (۱۸۹۵ )میلادي کال کي چاپ کړی دی هغه (دالله کلام) په نامه سره دی چي دعهدنامه عتیق۱۲ کتابونه ئې زماسره شته،اووبل لورته په هغه وخت کي موږ په پښتوژبه سره کوم قرآنکریم نه درلودی،چي داددوی پرکوښښ اوزموږپرغفلت باندی دلالت کوي، په هندوستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي چي کله د قرآنکریم لومړی فارسی ژباړه محدث دهلوي شاولی الله رحمة الله علیه وکړه نوداکه یوه لورته ویاړؤوبل لورته ځینوخلکوخه ستونزي هم پیداکړې.
داکتاب وتېول اولس ته لا رښوودی وساده لوحه، تعلیه یافته قشر، سیاستوالاواوپه مجموع کي وتېولوته، هغه څوک چي دعیسائیت په حقیقت باندی خبرنه وي نوکیدای شی چي د عیسایی مبشرینو جادو اوسحرورباندی څه اغیزه وکړی اوپایی دڅه پیسو، امتیاز اوجایدادپه مقابل کي داسلام دکړئ ښخه وباسی چي همداسی ناکامه هلې ځلې دوی دخپل نسخ اوفسخ دین لپاره تل کوي، داځکه چي دوی وناخبرومسلمانانوته وایی چي ستاسوپه قرآن کریم چي کوم دانجیل ، تورات اوزبورنومونه راغلې دي هغه همدا کتابونه دي، خودادوی تخیل اوتجاهل دی اوبس، په دې کتاب کي به وتاسوته جوته شي چي اوسنی تورات هغه تورات نه دی ، اوسني انجیلونه هغه انجیل نه دی اواوسنی زبورهغه زبورنه دی چي مسلمانانورباندی ایمان اویقین لري اوانشاء الله دوی به وخپلو اوړدواوکړوارادوته ونه رسیږی.
په دې کتاب کي دبایبل پرمنبع، منشاء،حقیقت،حقانیت، ماهیت ،تحریف،ترمیم،اونورو.... باندي پوره رڼاچول شوېده. دنړئ دهر مذهب منونکي په ځانګړي ډول سره عیسایان اویهودپه دې ګروهه دي چي زموږکتابونه الهامي اوالهي دی لکه دقرآن کریم په شان ، وبل لورته که ددوی څېړنه اوکتنه وشي نودابه جوته شي چي دوی اصلاً په غلطه ګروهه دي داځکه چي کله موږددوی دمقدسو کتابونومتن اوبطن ګورونوهغه کتابونه وموږته وایی چي موږکوم الهي اوالهامي وحی نه یو،چي داهرڅه به په دې کتاب کي وتاسوته څرګند اوبربنډ شي .
که په انصاف سره دعیسائیت مطالعه وشي نودابه ورڅخه ښکاره شي چي عیسائیت ټوله دپولس (ساول/شاول) څرګندونې دي نه دحضرت عیسی علیه السلام تعلیمات

(c) ketabton.com: The Digital Library



پکښې دي اونه هم دهغه وېناوي،له همدې کبله د(۲۰۰۰) کلونوراهیسی دعیسائیت درنښت اومنښت ترپوښتنولاندي دی،داځکه چي په اوسني عیسائیت کي دپولس هرڅه دحضرت عیسی علیه السلام خلاف دي،چي مائې په دې کتاب کي بیلګه ورکړیده،نړیوال منلی کتاب انسایکلوپیډیا بریټانیکا په ځرګندوټکوسره دکلیسادتاریخ (Church History) ترسرلیک لاندی لیکي:

مقدس پولس دعیسائیت ځخه یونوي دین جوړکړ.

دوتلی نړیوال عالم زیسلرپه ویناچي؛

اوسنی عیسائیت په اصل کي پولسي عیسائیت دی.

ددې کتاب ښکلاپه دې کي ده چي ددې کتاب ماخذونه اومصدرونه نړیوال منل شوی دمسلمانانو، عیسایانواویهودوکتابونه دي.

## وامت مسلمه ته توصیه!

له دې ځخه علاوه دوی بایبل په (۲۰۰۰) ژبوباندی ژباړلی دی او خپروي ئې،په امریکاکي دعیسایانویوه ډله ده د مورمون (Mormon) په نامه دوی پخپلوپوهنتونونوکي په ۳۸ ژبوباندی تدریس کوي،چي داټول عیسایی مبشرین دي اوبیائې په نړۍ کي تقسیموی وهرې سیمې ته چي ځي دهغې سیمې دخلکوعادات، عبادات، رواجونه اوخویونه هم ورښودل کیږی دامبشرین بیاهلته ځی اودعیسائیت تبلیغ کوي، دوی یوه ګڼه هرمیاشت چاپوي په ۳۸ ژبوباندی اودهرې ژبې دګڼو شمېرئې ۲۰۰۰۰۰ (دوه میلونه) دی، چي ټولې ۷۲۰۰۰۰۰ میلونه کیږی دابیاپه نړۍ کي خپروي وړیاهرڅوک کولای شی داګڼه ولاسته راوړي.دوی دخپل دغه نسخ اوفسخ شوی دین لپاره په داسی لوړه کچه سره کوښښ کوي زه به ددوی دمجلوپه هکله یوه بله نمونه هم وړاندی کړم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



Watchtower واچ ټاورپه نامه مجله( ۳۰۵۵۰۰۰۰) گني چاپیږی ،په یوه میاشت کي داگڼه په (۱۰۴) ژبوباندی چاپیږی،بله مجله دعیسایانوله لوری چاپیږی داویک (Awake) په نامه سره ده ،(۳۰۲۳۰۰۰۰)گڼي چاپیږی په (٦٧) ژبوسره دامجله هم په هره میاشت کي چاپیږی،همداعیسایان یوکتاب چي چاپوی دوی یی (۹۴) میلیونه چاپوي، په (۸۴) ژبوسره، چي دادعیسایی نړی کوښښ دی، افریقاپه لومړی ځل (۳٪) عیسایان وه، خواوس تر(۵۰٪) اوښتي دي اوهمداسی نور.

وبل لورته موږ(امت مسلمه) دغفلت او کهالت په خوب ویده یو، اوددوی وتوطییوته موهیڅ فکرنشته، هغه اسلامي داعیان ، لیکوالان،فکری روزونکي،ادیبان اوپه مجموع کي دقلم څښتنان چي په دې لاره کي کارکوي هغه هم د گوتوپه شماردي، نوزه دامت مسلمه دعلماء، مشایخو،روحانیونو، دعلم اوپوهې دخاوندانو اوپه مجموع کي دقلم دڅښتنانوڅخه داهیله لرم چي دعیسایی نړي دهرشوم پلان لپاره یومورچل خلاص کړی ترڅودټول امت لپاره دسوکالی سبب وگرځي.داپه هغه صورت کي امکان لري چي موږدپوره صداقت اومتانت څخه کاراخلو، یووالی خپل کړو،په اسلامي اوالهي احکاموباندی عمل وکړو اودخپل مذهب خدمت عبادت اونصرت وگڼو.

په اخرکي زه له تاسو لوستونکوڅخه داهیله لرم چي مااحقرله خپلوصالحو دعاؤڅخه هېرنکړی.

په اسلامي پاکه مینه

ستاسوورور

عبدالغفارجُبیر

2014، 28، اپریل، دوشنبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بایبل ته ولی بایبل وایی؟

ترهرڅه نه مخکي موږدقرآن عزیزوړاندوینوته ځوچي الله جل جلاله دعیسایانواویهودودمقدسوکتابونوپه هکله وموږته بیان کړیدی، لوی څښتن تعالی جل جلاله وموږته په سپینوټکوکي څرګندوي چي دامقدس کتابونه (بایبل اوتالمود) دوی په خپلولاسونوباندی لیکلی دي اوبیا(عیسایان اویهود)وایی چي داالهي کتابونه دي بلکې داهیڅکله الهي کتابونه نه دي لکه الله جل جلال چي فرمایی:

فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ يَكْتُبُونَ الْكِتَابَ بِأَيْدِيهِمْ ثُمَّ يَقُولُونَ هَـٰذَا مِنْ عِندِ اللَّهِ لِيَشْتَرُوا بِهِ ثَمَنًا قَلِيلًا ۖ فَوَيْلٌ لَّهُم مِّمَّا كَتَبَتْ أَيْدِيهِمْ وَوَيْلٌ لَّهُم مِّمَّا يَكْسِبُونَ ﴿٧٩﴾

ژباړه:نوعذاب(هلاکت اوخرابي) ده له پاره دهغوکسانوچي لیکي کتاب (له خپله ځانه) په لاسوخپلوبیاوایی دغه (محرفین خلکوته) چي دا(لیکل شوی) له نزده دالله دی لپاره ددې چي واخلی په دغه کتاب لیک قیمت لږنو(عذاب هلاکت او) خرابي ده دوی ته له سببه دهغه شی چي لیکلی دی لاسوددوی اوبیاخرابی ده دوی ته له سببه دهغه کارچي کوی ئې(په رشوت اخیستل دی).

ټوله عیسایي اویهودی نړۍ په دې باندی اعتراف کوي چي داددوی مقدس کتابونه (بایبل اوتالمود) مختلفوخلکولیکلی دی خووایی چي داروح القدس(حضرت جبرائیل علیه السلام) ودوی ته راغلی دی اودوی ته ئې وحی کړی دی، خوپه حقیقت کي خبره داسی نه ده،چي په راتلونکوکرښوکي به وتاسوته جوته شی.

له دې څخه ورسته موږپردې باندی رڼااچوو چي بایبل وڅه شی ته وایی؟دبایبل پېژندنه دعیسایی نړیوالوعلماء په خوله کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دبایبل تعریف په یوه اسانه خبره کې خلاصه کړو نوبایبل یعنی ((کتاب)) یاپه بل عبارت بایبل دیوناني ژبې توری دی چي وکتاب ته ویل کیږی [۱]
چي ددې څخه مطلب دادی چي (بایبل) یعنی یوکتاب، لکه دنوروکتابو په بڼه سره چي وي، خوکیدای شی دبایبل دالندېه پېژندنه ولوستونکوته قناعت ورنکړی نوپخپله به دبایبل وقاموس
ته ولاړشو اودبایبل پوره تفصیلي پېژنده به وڅیړو:

**بایبل دیوناني ژبې د(Biblia) څخه اخیستل شویدی، چي( بیبلیا )دکتابوپه معنا سره دی، دپنځلسمی پېړۍ راهیسی دانوم ودې سپیڅلوکتابوته ورکول شویدی، داسپېڅلی کتابونه (٦٦) کتابونه دی دپروتستانوپه نزداودکاتولیکانوپه آند (۷۳) کتابونه دی،** دمشرقی ارتودوکس په آند(۷۸) کتابونه دي، **چي (۴۰) څلویښتومختلفولیکوالانویا زیاتولیکلی دي په مختلفووختوکي په مختلفوژبوسره، چي په دې لیکوالانوکي ددبدبې څښتنان، واکمنان، دهقانان، پاچایان، کب نیونکي، مذهبي مشران، مالیه ټولونکي، کېږدې جوړونکي، شپانه، پوهه درلودونکي ، بې تعلیمه، عیسویان اویهودشامل دی،چي دوی اکثرویودبله سره نه پېژندله۔** [۲]

دبایبل داتعریف هرڅه روښانه کړل چي دامختلفوخلکوپه مختلفو وختوکي په بېلابېلوحالاتوکي لیکلی دي چي داپه ښکاره سره جوتیږي چي دا(بایبل)کوم الهي کتاب نه دی، که موږیواځې ددې قاموس وتعریف ته ښه ځیرشونودابه راته جوته اوروښانه شی چي حتی دحضرت عیسی علیه السلام اویابل پېغمبرنوم پکښې نشته اوددې قاموس لیکوال یقیناپه ربښتنی ډول سره دبایبل پېژندنه درک کړې ده، ودې

[۱] بایبل سے قرآن تک ، ج۔ ۱،ص۔ ۳۰۵ (اظہارالحق کااردوشرح )لیکوال: شیخ الاسلام حضرت مولانامحمدتقی عثمانی

[۲] **Easton's Bible Dictionary**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتاب(بايبل) ته بياالهي کتاب ويل دانصاف، عقل اوشعورخخه ليری خبره نه ده؟؟؟!!

ددهقان په لاس ليکل شوی کتاب بياڅنګه يواسماني کتاب وبولو؟
دبې تعليمه سړی کتاب کرښوته څنګه يوالهي کتاب ووايو؟
ايادايوه الله جل جلاله په لوړشان کي کفراوګستاخي نه ده؟
په مجموع کي ديوانسان دلاس وليکل شوی کتاب ته څنګه يواسماني وحی ووايو؟
داهيڅ عقل نه منی چي بايبل دی دخدای جل جلاله کتاب وی، اونه ئې هم کوم عقل سليم اوياهغه سرچي پکښې ديوې مرغی په شان ماغزه ولری دمنلووړ ده۔

## د (Bible) بايبل دتوری دښه پېژندلولپاره مخته ځو:

بايبل ديوناني ژبې د (Biblos) (بيبلاس) څخه اخيستل شويدی چي معنی ئې (کتاب)دی ۔[۳]

دانګليسي ژبې يوبل قاموس دبايبل تعريف داسی کوی:

د بايبل توری (Bible) دفرانسوی توری (Biblia) (بيبليا) **څخه چي دافرانسوی توری بيا ديوناني ژبې د** (Byblos) (بيبلاس) **څخه چي ددې توری جمع** (Biblion) **(ببلين)يعنی کتابونه دی ورڅخه اخيستل شويدی، اودالفظ ددی مقدسونسخولپاره د (۱۵) ميلادی پېړی راهيسی استعماليږی۔**[۴]

**په بل قاموس کي دبايبل تعريف داسی دی:**

---

۳ مرحوم شيخ احمدديدات
۴ Merriam Webster*s Collegiate Dictionary, ۱۰th Edition (۲۰۰۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(Bible)بایبل توری فرانسوي توری دی چي دا دلاتینی (Biblia) ببلیاڅخه اخیستل شوی دی، اودالاتینی توری بیادیونانی توری د (Biblos) ببلاس څخه چي معنا ئې کتاب اوجمع ئې (Biblion) ببلین یعنی کتابونه دی۔[۵]**

ونورتعریفونوته نه ځوچي ددې مطلب دادی چي (بایبل) په یوناني ژبه کي وکتاب ته ویل کیږي اودپنځلسمي پېړی راهیسی ئې دوی دخپلومقدسونسخو(ددوی په گمان) لپاره استعمالوی۔ نودالفظ ددې کتابودلیکلووروسته ایښودل شوی دی، نه ددې کتاب نوم سیدناحضرت عیسی علیه السلام پرایښی دی، اونه خدای جل جلاله ددې کتاب نوم ایښی دی اونه هم داکوم الهی کتاب دی۔

هېښونکې اودتعجب خبره خولاداده چي د(بایبل) نوم په هیڅ بایبل کي نشته، اونه هم داکتاب ددې نامه تاکیدکوی چي دادالله کتاب دی ، دانوم په هغه وخت ددې نسخوخپرونکوورباندی ایښی دی، چي داکتاب ښه خرڅ او د خلکولیوالتیاورته راکش کړی، دانوم چي اوس دعام نوم څخه وخاص نامه ته اوښتی دی دادخپرونکوله لوری پرایښودل شوی دی۔ لنډه داچي په بایبل کي دانه دی راغلی چي

دادخدای کتاب دی، اونه هم پردې باندی څه ټینگارشویدی۔

## دقرآن کریم توری په قرآن عزیزکي

وبل لوری ته که موږدالله جل جلاله واخري کتاب (قرآنکریم) ته راسو، نودابه وهرچاته معلومه شی چي دادبشریت لپاره دسوکالی یواځنی بېلگه ده، اوددې کتاب نوم الله جل جلاله پرایښی اوپه قرآنکریم کي د(قرآن) لفظ (۷۰) ځلی راغلی دی اوقرآنکریم ددی تائیدکوی چي دادالله جل جلاله کتاب دی دبېلگې په ډول سره:

---

[۵] Concise Oxford English Dictionary ۱۱th Edition

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَمَا كَانَ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانُ أَن يُفْتَرَىٰ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَٰكِن تَصْدِيقَ ٱلَّذِى بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيلَ ٱلْكِتَٰبِ لَا رَيْبَ فِيهِ مِن رَّبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٣٧﴾

(یونس ۳۷)

ژباړه:

اونه دی داقرآن(سره له داسی فصاحته ، بلاغته اواعجازه) چي په درواغوجوړکړشی غیرله الله نه ولیکن دی تصدیق کوونکي دهغه (کتاب) چي تیرشوی دی په مخکښې دده اودی تفصیل کوونکي دهغه څه چي لیکلی شوی دی(پرتاسو) نشته هیڅ شک په دې کښې (چي راغلی دی) له لوری درب دعالمیانو.

نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ أَحْسَنَ ٱلْقَصَصِ بِمَآ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ وَإِن كُنتَ مِن قَبْلِهِۦ لَمِنَ ٱلْغَٰفِلِينَ ﴿٣﴾ (سورت یوسف:۳)

ژباړه:

موږبیانووپرتاباندی ډیره ښه کیسه له ټولوکیسوپه سبب دوحی زموږتاته دغه قرآن اوبې شکه شان دادی چي وې ته پخوا(له نزوله) ددې قرآن خامخاله ناخبروڅخه.

ٱلرَّحْمَٰنُ ﴿١﴾ عَلَّمَ ٱلْقُرْءَانَ ﴿٢﴾ (الرحمن ۲)

ژباړه: رحمن (الله) ددې قرآن ښوونه کړېده۔

قُل لَّئِنِ ٱجْتَمَعَتِ ٱلْإِنسُ وَٱلْجِنُّ عَلَىٰٓ أَن يَأْتُوا۟ بِمِثْلِ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِۦ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا ﴿٨٨﴾ (الاسراء ۸۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: ووایه که انسانان اوپېریان (ټول) سره یوځای شی خوددې قرآن په څیرراوړی نوهیڅکله (په فصاحت اوبلاغت) کې ددې په څیرنه شی راوړی.

بَلۡ هُوَ قُرۡءَانٞ مَّجِيدٞ ۝٢١ فِي لَوۡحٖ مَّحۡفُوظِۭ ۝٢٢ (البروج ۲۲،۲۱)

ژباړه: (داسې نه ده چې کافران ئې انګیري) بلکې داپرتمین قرآن دی، په یوه خوندې تخته کې لیکل شوی دی.

إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ قُرۡءَٰنًا عَرَبِيّٗا لَّعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ۝٢ (یوسف ۲)

ژباړه:

موږ هغه قرآن په عربی ژبه نازل کړیدی ښایی چې تاسی پرې پوه شی.

وَكَذَٰلِكَ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ قُرۡءَانًا عَرَبِيّٗا لِّتُنذِرَ أُمَّ ٱلۡقُرَىٰ وَمَنۡ حَوۡلَهَا

(الشوری ۷)

ژباړه: اوپه دې توګه موتاته عربی قرآن وحی کړڅود(مکې) دښاراودهغه دشاوخواخلک وویروې.

انانحن نزلناعلیک القرآن تنزیلا. (الدهر ۲۳)

ژباړه: بې شکه موږقرآن پرتاپه تدریجي توګه نازل کړیدی.

په بایبل کې دانشته چې داکتاب دانسانانودهدایت یوکتاب دی، برعکس په قرآنکریم کې داهرڅه شتون لری دبیلګې په ډول سره قرآن کریم پخپله ددې ګواهی ورکوی:

شَهۡرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلۡقُرۡءَانُ هُدٗى لِّلنَّاسِ (البقره ۱۸۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: دروژې میاشت هغه (میاشت) ده چې قرآن په کښې نازل شوی دی، چې دخلکولپاره هدایت دی.

إِنَّ هَـٰذَا ٱلْقُرْءَانَ يَهْدِى لِلَّتِى هِىَ أَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ٱلَّذِينَ يَعْمَلُونَ ٱلصَّـٰلِحَـٰتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا كَبِيرًا ﴿٩﴾ (الاسراء ۹)

ژباړه: بې شکه چې دغه قرآن هغه لارښیی چې هغه سمه سیخه ده اوهغومسلمانانوته چې ښه کارونه کوی زیری ورکوی، چې ددوی لپاره ډېره لویه بدله ده.

قرآن حکیم دباطني اوظاهري ناروغیوياځنی درملنه ده لکه چې قرآن حکیم وایی:

وَنُنَزِّلُ مِنَ ٱلْقُرْءَانِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴿٨٢﴾ (الاسراء ۸۲)

ژباړه: اوقرآن، چې دمسلمانانولپاره شفاء اولورینه ده (پړاوپه پړاو) دربادندی نازلوو.

اوس راځو انجیل ته (چې پرعیسی ابن مریم علیه السلام باندی نازل شوی وو) اوتورات ته (چې پرسیدناحضرت موسی علیه السلام باندی نازل شوی وو) چې ددوی پیژندنه وکړو.

## انجیل (Gospel)څه ته وایی؟

انجیل دیوناني ژبې د(انکلیون) څخه اخیستل شوی دی چي د(زیری اوپوهی) په معنی سره دی، [۶] یادانجیل توری دیونانی ژبې د(یوانگلیلیون) څخه اخیستل شوی دی، [۷]یعنی مطلب داچي هغه انجیل چي وحضرت عیسی علیه سلام ته ورکول شوی وودالله جل جلاله له لوری هغه ویهودوته زېری دجنت وو، انجیل سیدناحضرت عیسی علیه السلام تبلیغاوه، اودهغه لارښوونې ئې وبنی اسرائیلوته کولې، دهغه احکام ئې وبنی اسرائیلوته بیانول، چي پردې دټول امت مسلمه ایمان دی، دانجیل یوتوری دحضرت عیسی علیه السلام په لاس نه دی لیکل شوی، اونه ئی امرکړیدی چي نوشته ئې کړی، اونه هم دده په ټول عمرکي یوایات نوشته شوی دی، چي عیسایي اویهودي علماء اومؤرخین هم پردې باندی په یوه خوله دي؛ هیڅوک ددې ثبوت نشی وړاندی کولای اونه هم شتون لری ـ

ایاحضرت عیسی علیه السلام داوسنی بایبل (نوی عهدنامه ) چي (۲۷) کتابونه دي تبلیغول؟ ایاحضرت عیسی علیه السلام دلوقا، متی، یوحنا اومرقوس انجیلونه وخلکوته تبلیغول؟

نه هیڅکله نهـ چي پردې باندی هم ټوله عیسایی اویهودي نړۍ په یوه خوله اعتراف کوي چي داهغه انجیلونه نه دي چي حضرت عیسی علیه السلام وخلکوته تبلیغول. هغه انجیل عیسی چیری دی؟؟؟ هغه وحی چیری دي چي حضرت عیسی علیه السلام تبلیغولې؟؟ ددې ځواب نه عیسایی نړۍ لري اونه هم ټوله یهودي نړۍ.

---

[۶] بایبل سے قرآن تک ج۔ ۱ ، ص۔ ۳۱۶(اظہارالحق کااردوشرح )لیکوال: شیخ الاسلام حضرت مولانامحمدتقی عثمانی

[۷]قاموس الکتاب۔ پاڼه ۱۲۱، لیکوال: ایف ایس خیرالله، خپرونکي: مسیحی اشاعت خانه ۳۶ فیروزپورروډ لاهور۲۰۰۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



خونن سباهغه اصلي انجیل نشته اوداچي دوی په پښتو، دری، فارسی، اردو،عربی اونورو ژبوکي کوم کتابونه لری چي وهریوه ته (انجیل متی، انجیل لوقا، انجیل مراقس اوانجیل یوحنا) لیکل شوی دی، اویاداچي ودې څلوروکتابونوته د(زیری) عنوان ورکول شویدی دادې لپاره چي عام خلک په وغولوی اوپرسترگوئې دجهالت خاورې وشیندی، اوداپه ذهن کي ورکړی چي داهغه انجیل دی چي پرسیدناحضرت عیسی علیه السلام باندی نازل شوی وو۔ (العیاذ با لله)۔ چي ددې خبرې څیړنه به په راتلونکوپاڼوکي وشیۍ

داچي دوی پرنوې عهدنامې باندی انجیل شریف لیکلی دی اودوی یی وړیاتقسیموی دانوم هم غلط دی داځکه چي انجیلونه پکښې څلوردی اودوی دیوه انجیل نومورباندی لیکلی دی، داپه دې خاطرچي ومسلمانانوته وښیی چي داهغه انجیل دی چي پرحضرت عیسی علیه السلام باندی نازل شوی دی ، بلکې داهغه نه دی.

## اصل انجیل څنگه له منځه ولاړی؟؟؟

کله چي وحضرت عیسی علیه السلام ته انجیل ورکړل شو، یهودوله ده سره عنادشروع کړ، اوډول ډول توطئې ئې ورته جوړي کړې،کله به ئې په ډبروویشتی، کله به ئې ملنډې په وهلې، چي بایبل هم پردې باندی گواه دی،داخبره تردې اندازې پوری ورسېده چي یهودودحضرت عیسی علیه السلام دمرگ لپاره پلان جوړکړ ،کله چي دوی غوښتل چي حضرت عیسی علیه السلام قتل کړی نوالله جل جلاله هغه واسمانوته پورته کړچي قرآن کریم په روښانه ټکوسره داواقعه بیان کړیده اوفرمایی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَبِكُفۡرِهِمۡ وَقَوۡلِهِمۡ عَلَىٰ مَرۡيَمَ بُهۡتَٰنًا عَظِيمٗا ﴿١٥٦﴾ وَقَوۡلِهِمۡ إِنَّا قَتَلۡنَا ٱلۡمَسِيحَ عِيسَى ٱبۡنَ مَرۡيَمَ رَسُولَ ٱللَّهِ وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ وَلَٰكِن شُبِّهَ لَهُمۡۚ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِ لَفِي شَكّٖ مِّنۡهُۚ مَا لَهُم بِهِۦ مِنۡ عِلۡمٍ إِلَّا ٱتِّبَاعَ ٱلظَّنِّۚ وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينَۢا ﴿١٥٧﴾ بَل رَّفَعَهُ ٱللَّهُ إِلَيۡهِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمٗا ﴿١٥٨﴾ (سورت النسآء ١٥٦- ١٥٩)

ژباړه:اوپه سبب دکفرد(نیکونود)دوی (مکرراً) او(په سبب د) ویلوددوی پرمریمې دروغ ډیرغټ (دزنا) او(په سبب) دویلوددوی (داسی چي) بېشکه وژلی دی موږمسیح عیسی زوی دمریمې رسول د الله (په گمان خپل)حال داچي نه ؤوژلی دوی دغه (عیسی) واقعاً نه په دارکړی ودغه (یقینا) لیکن مشتبه کړی شو دوی ته اوبې شکه هغه کسان چي اختلاف کړی دی دوی په (حق د) عیسی کښې خامخاپه شک کښې دی په شان دده کښېښشته دوی ته په هکله دده کښې هیڅ علم مگرتش متابعت دگومان کوی اونه ؤوژلی دوی عیسی بلکې پورته کړودی الله طرف ته خپل اودی الله ښه قوی غالب ښه حکمت والا.

،له دې څخه وروسته یهودپه مجموع کي په دې تکل کي شول چي هغه انجیل چي حضرت عیسی علیه السلام تبلیغاوه، اویانورو حوارییونوپه خلکوکي عام کړی ؤیهودوداتپول (اصل انجیل) په ٦٠ کلونوکي له منځه یووړ؛ حوارین ئې یا شهیدان کړل اویایی وهجرت ته مجبوره کړل، پولس هغه څوک ؤچي خپل له ځانه څخه ئي دعیسائیت بنسټ کښېښوداودائي وویل چي زه هرڅه وایم هغه وماته کشف شوی دی یعنی هرڅه ئې له ځانه لیکل اوبیایی ویل چي داالهی دي لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زماوروڼو! زه تاسوته داخبره صفاکوم چي کوم زيری چي مادرته اورولی دی هغه دبنی آدم جوړکړی نه  دی ځکه چي هغه ماته د يو انسان له لوری نه دی رارسيدلی اونه چابنی ادم وماته ښوولی دی بکله دکشف په معرفت دعيسی مسيح دطرف نه شوی دی.

(دگلتيانوپه نوم دپولس خط۱: ۱۳-۱۱)

له دې څخه ورسته بيادنوی انجيلونولړۍ پيل شول، هرچاکوښښ کاوه چي يوڅه وليکي اوداصل انجيل په نامه سره ئې خپورکړی، داځکه چي حضرت عيسی عليه السلام وعامويهودوته ځکه ښه دقبول وړوچي دده معجزې ئې ليدلی وی، دمورزاده ړاندوبيناکول، دپيس ناروغانو سمول، دمړوژوندی کول اوداسې نور چي قرآن عزيزاوبايبل ورباندی گواه دی، يهودپه دې کي کاميابه شول اونوی انجيلونه ئې وليکل اوپه خلکوکې ددې لپاره دحوارييونوپه نامه سره کړل چي خلک ورڅخه کرکه ونکړی اوخلک ورباندی عمل وکړی، په سلهاووانجيلونه وليکل شول هغه چي ويهودوته ډيرمحبوب وه هغه ئې معلوم کړل اوپرنورانجيلونوباندی ئې بنديزولگاوه ،دااوسنی انجيلونه نه دحضرت عيسی عليه السلام دی اونه هم حضرت عيسی عليه السلام پخپل عمرکي وچاته ويلی دی چي يوه کرښه وليکه اونه دحوارييونودی اونه هم داکومې الهي وحی دی زه به دلوقاانجيل ته راشم:

ای خوږه تيوفيلوسه! ډېروخلکوپه دې لا س پوری کړی دی چي دهغه واقعات ترتيب واره بيان کړی چي کوم چي زموږپه منځ کي تيری شوی دي؛بلکې هغوی موږته خبرې حواله کړی دی اوچاچي داواقعات دسرنه پخپلوسترگوليدلی وې اودزيری خادمان وه نوزه هم په خپل وارسره ای خوږه تيوفيلوسه! ستادپاره دپوره تحقيق نه ورروسته داټولې خبرې په ترتيب سره نقل کوم، داددې لپاره چي تاته دهغه خبروپه هکله صحيح معلومات درکړم دکومونه چي ته خبرکړی شوی ئې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(دلوقاانجيل لومړی باب: ۱- ۵)[۸]

دلته څومهم ټکي اړين دي، هغه داچي هرچاکوښښ کاوه چي دحضرت عيسی عليه السلام په هکله اوهغه څه چي هغه تبليغول دهغه په هکله يوڅه وليکي،بل داچي په دې کي احکام نشته يواځی اويواځی واقعات دي پيښي دي،نولوقاوايی چي زه دهغو پيښو شاهدوم اودی وتيوفيلوس ته وايی چي زماليکنه دپيښوربښتنی دی اوبس،اودی وايی چي زه هرڅه ليکم هغه له خپله ځانه څخه ليکم نه دروح القدس نوم شته اونه هم وايی چي ماته الهام ياوحی شوی دی اوياماته کشف شوی دی ؛ چي په ښکاره له دې څخه جوتيږی چي دوی له خپله ځانه څخه ليکلی دی اوبيايی ونوروته منسوب کړی دی. ټول هغه عيسايی علماء چي وحدانيت ته قايل وه پرهغوئې دبدعتيانومهرولګاوه اوهغه انجيلونه چي ديهودوخوښ نه وه هغه ئې لغواوباطل اعلان کړل.[۹]

## تورات(Pentateuch) څه ته وايي؟:

تورات دعبراني ژبې لفظ دی چي معنی ئی ده (شريعت،قانون اوتعليم)۔[۱۰]
تورات يعنی قانون[۱۱]، يا تورات دعبراني ژبې له (توره) څخه اخيستل شوی دی [۱۲]چي مرادورڅخه هغه احکام اوقوانين دي چي الله جل جلاله وسيدناحضرت موسی عليه السلام ته دبنی اسرائيلو دلارښوونې اوهدايت دموندلولپاره نازل کړی وو،د اوسني تورات يوتوری دسيدناحضر ت موسی عليه السلام په لاس نه دی نوشته شوی ، اونه هم ده پخپل ټول ژوندکي ويوچاته حکم کړيدی چي يو توری نوشته

---

[۸] انجيل شريف، اول جيبي چاپ ۱۹۹۶ ميلادي، پاکستان بايبل سوسايټی
[۹] Origion of Scripture, pp.۲۱۰
[۱۰] بايبل سے قرآن تک ج. ۱، ص ۳۰۶(اظهارالحق کااردوشرح )ليکوال: شيخ الاسلام حضرت مولانامحمدتقی عثمانی
[۱۱] Bible Dictionary
[۱۲] قاموس الکتاب- پاڼه ۱۲۱، ليکوال: ايف ايس خيرالله، خپرونکي: مسيحی اشاعت خانه ۳۶ فيروزپورروډ لاهور۲۰۰۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



که، داچي يهوداوعيسايان وايی اود(عهدنامه قديم) پنځه لومړي کتابونه وحضرت موسی عليه السلام ته منسوبوی؛ داهرڅه بې بنسټه دي اودوی هم ورباندی هيڅ کره شواهداوثبوت نلری. نه دحضرت موسی عليه السلام لاسليک ورباندی شته اونه هم حضرت موسی عليه السلام يوتوری ليکلی دی اونه هم بل صحابی.
هرهغه څه چي وحضرت موسی عليه السلام ته دلوی الله جل جلاله له لوری ورکول شوی وه، هغه حق ، رېښتنی اودپوره لارښوونې رڼاوه، چي عبارت ورڅخه تورات دی، اوموږورباندی ايمان اوباورلرو.

## اصل تورات څنګه له منځه ولاړی؟؟؟

دحضرت سليمان عليه السلام داولادې په وخت کي ديهودو۱۲ مشهوروقبيلوڅخه ۱۰ قبيلو بغاوت وکي ټوله سره بيلې شوې، اوديهودودوې پاچاياني جوړې شوې چي يودبله سره په ټکرکي وې،يهودا(Judah) اواسرائيل،په ۷۲۲ ق م کي اسويريانو د اسرائيلو پرشمالی سلطنت چي پلازمينه ئې سامريه وه،يرغل ئې پروکړچي اسرائيل ئې له منځه يووړل؛اوداسرائيلوټولي قبيلې ئې په قيدکي واچولې،مطلب داچي هغه اسرائېل چي پاتې شوی وه هغه ياله منځه ولاړل اويائې ځانونه په نوروقومونوګډکړ ل اود اسرائيلو نښان اونوم ورک شو،داسرائيلوهغه دوې قبيلې چي پاتي وې دبابل پاچاه بخت نصر(بنوکدنضر)دوه ځلی په ۵۸٦ ق م کي تباه کړلې په همدې حملوکي مقدس هيکل سليماني له منځه ولاړی ديهودو مقدس ټول کتابونه له منځه ولاړل او وسوځول شول، ددغودووقبيلوڅخه چي څوک ژوندی پاته شول هغه ئې وبابل ته بوتلل اوهلته د(۵۰) کلونولپاره بنديان وه، ډيرپکښې مړه شول
دپنځوسو(۵۰)کالوبندوروسته دايران پاچاکيخسرو(سائرس) دوی خوشی کړل اودوی وخپل وطن فلسطين ته راغلل،زيات اسرائيل ومصراوبابل ته ولاړل په همدې بندکي هغه دمقدسو نسخوڅه چي ئې په ذهنوکي وه هغه هم له منځه ولاړل اوضايع

(c) ketabton.com: The Digital Library



شول،کله چې اسرائیل وفلسطین ته راغلل پوره (۱۰۰) کاله وروسته دتورات عبرانی نسخه یهودی عالم عزراپه (۴۵۸) ق م کې ولیکل نوځکه واوسنی عهدنامه عتیق ته خلک دیوه افسانوي کتاب په سترګه ګوري[۱۳]

دعزرادتورات لیکلوڅخه وروسته بل ناورین واسرائیلوته راغی هغه داچې په (۱۶۱) ق م کې یوظالم پاچا انطیوکس (Antiochus) پربیت المقدس باندی حمله وکړل دیهودومقدس کتابونه او د عبادت ځایونه ئې ټول وروسوځول، له دې څخه ورسته بیادحضرت عیسی علیه السلام دپیدایښت څخه (۷۰) کاله وروسته هغه څه چې یهودومقدس درلودل طیطس (Titus)پاچاوسوځول، په زرها و و یهودان ئې ووژل چې له دې پیښې څخه وروسته دیهودو ټولې مقدسې نسخې له منځه ولاړې[۱۴]

## زبور:(Psalm)څه ته وایي؟

په عبراني ژبه کې ودې ته (تحلیم) یعنی دیوچاستاینه اومدح کول دی، [۱۵]داهغه کتاب وو، چې وحضرت داودعلیه السلام ته دالله جل جلاله له لوری ورکول شوی وو، هرهغه څه چې حضرت داودعلیه السلام تبلیغول هغه پرحق اورېښتنی وه، دحضرت داودعلیه السلام هرڅه دالله جل جلاله له لوری وه، اودالله جل جلاله په امرسره ئې تبلیغول اوخلک ئې وهدایت ته رابلل، چې پرهغه زموږایمان اویقین دی؛ اوداچې په اوسنی بایبل په (عهدنامه قدیم /عهدنامه عتیق) کې دزبورپه نامه څه

[۱۳] Encyclopedia of Christianity.p۳۰۹
Encyclopedia Americana, vol.۳.p.۶۱۲
Boyd*s Bible Dictionary, pp.۵۶،۸۲
[۱۴] Jesus in His Time, p. ۷۳
Flavius Josephus: Antiquities of the Jews, v:۱۱,x:۳
J.p. Boyd: BibleDictionary, p. ۸۵
F.G.Bratton: History of the Bible, p.۱۰۰
[۱۵]قاموس الکتاب- پاڼه ۴۷۰، لیکوال: ایف ایس خیر الله، خپرونکي: مسیحی اشاعت خانه ۳۶ فیروزپورروډ لاهور۲۰۰۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



شتون لری، داهغه زبورنه دی، اونه حضرت داودعلیه السلام یوتوری لیکلی دی اونه ئی هم وچاته امر کړی دی چي یوتوری ولیکي۔

## بایبل پردووبرخووېشل شوی دی

بایبل په عمومي ډول سره پردووبرخوویشل شوی دی لومړی برخه یی زړه عهدنامه (عهدنامه قدیم/عهدنامه عتیق)پخوانی تړون(Old Testament) چي ترحضرت عیسی علیه السلام مخکي لیکل شوی دی، اودوهمه برخه ئي نوې عهدنامه (عهدنامه جدید)یانوی تړون(New Testament) چي ترعیسی علیه السلام وروسته لیکل شوی دی،چي پرهري یوې باندی به رڼاواچووانشاء الله.

## عهدنامه قدیم یاعهدنامه عتیق (Old Testament) چي (۴٦) کتابونه لری:

عهدنامه قدیم، ددوی په انداهغه کتابونه اولیکنې دي چي دسیدناحضرت عیسی علیه السلام څخه مخکي په مختلفووختوکي دمختلفوخلکوله خواڅخه لیکل شوي دي۔

وقدیم عهدنامې ته عهدعتیق هم وایی، داعهدنامه ودواړو یهودو اوعیسایانوته دمنلووړواومقدسه ئي بولی؛ اودوی اوس ددې عهدنامې ولومړیوپنځوکتابونو(پیدایښت، خروج، احبار، اعداد، استثناء) ته تورات (Pentateuch)وایی

دیهودومطابق دتورات یونانی ژباړه دمصردپاچاپه فرمایش سره په دریمه قبل المیلاد پېړۍ کي دیهودی علماووپه وسیله سره ترسره شوله،چي ددی تورات سره دعبرانی

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه نور ژباړل شوی کتابونه اوڅه نورمذهبی کتابونه چي وفلسطینی یهودوته داعتبار وړ او سپیڅلی نه وورسره یوځای شول.[۱۶]

چي همدغې نسخې ترمیلادنه یوه پیړۍ مخکي رواج درلودی، چي له دی څخه وروسته عیسایی کلیساهم داکتابونه دخپلوکتابویوه برخه وگرځول، په څلورمی میلادی پیړۍ کي جیروم (St. Jerome) دبایبل لاتینی ژباړه وکړل، چي دبایبل دبنسټ خښته ئې کښېښودل.[۱۷] چي همدااوس وکاتولیکانوته ترهربایبل د (Vulgate) یعنی داصلی لاتینی ژبې بایبل ترټولومقدس دی چي په دې بایبل کي هغه مشکوک اومتروک ټول کتابونه شتون لری.

چي ددې په مقابل کي فلسطینی یهودوبیاوعبرانی بایبل ته ارزښت ورکي، اوودې لاتینی ته ئې هیڅ ارزښت ورنه کړ، اوهغه مشکوک کتابونه ئې ورڅخه وغورځول اوپاته ئې په عهدعتیق کي شامل کړل.[۱۸]

په (۳۲۵) میلادی کال کي دقسطنطنېن پاچادحکم مطابق عیسایی علماوویوه لویه غونډه د(نائس) په ښارکي، چي دهغه ښارمشهورنوم (نیقیه) ده، جوړه کړه ؛ چي دشکمنوکتابوپه هکله یوه ریښتنې فیصله وکړی، چي دعیسایی علماووپه دې غونډه کي داپرېکړه وشوه چي (یهودیت) کتاب الهامی اومقدس دی. له دی څخه وروسته بل مجلس د(لوډیشیا) په نامه سره په (۳٦۴) میلادی کال کي دایرشو، چي په دې غونډه کي دمخکنی پرېکړی تاید وشو اودالاندنی کتابونه هم واجب التسلیم، الهامی شول:

کتاب استیر، دیعقوب خط، دپطرس دوهم خط، دیوحنادوهم اودریم خط، دیهوداخط، اودپولس خط دعبرانیانوپه نامه.

[۱۶] J.P.Boyd: Bible Dictionary
[۱۷] J.P. Boyd: op.cit. p.۸۵
[۱۸] The Catholic Bible p. ۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پورتنیودواړومجلسوکي د(یوحنا مکاشفات) مشکوک او د الهامی کتابوله فهرست څخه ویستل شو۔

له دې څخه وروسته بل لوی مجلس دعیسایي علماوو دکارتیج (Carthage) ترسرلیک لاندی په (۳۹۷) میلادی کال کي جوړشو، چي په دې لوی مجلس کي دعیسایي نړۍ یولوی مشهورعالم (اگستاین) او نور(۱۲۴) علماء شامل وه، چي دې علماوو د مخکنیوپرېکړوتصدیق وکي اولاندني کتابونه ئې هم د مخکنیوکتابوسره یوځای کړل:

کتاب دانش(عقل اوپوهه)، کتاب طوبیاه، کتاب باروک(باروخ)، واعظ، لومړی مقابین، دوهم مقابین اودیوحنامکاشفات۔

په دې مجلس کي داپرېکړه هم وشوه چي (کتاب باروک) د(کتاب یرمیاه) یوه برخه ده، داځکه چي باروخ (باروك)علیه السلام دیرمیاه علیه السلام نائي اوځای ناستی وو۔

چي له دی څخه وروسته بیادرې نور لوی مجلسونه جوړ شول لکه د(ټرلومجلس، دفلورنس مجلس اودټرنټ مجلس)، چي هغه ټول کتابونه چي مخکي شک پکښې ووهغه ئې په مقدسوکتابوکي ورداخل کړل، اوپه دې دروم‌جلسوکي یوه بله پرېکړه داهم وشوه چي (کتاب باروک) ئی بېل ولیکي۔

تر (۱۲۰۰) کلونوپوری همداکتابونه درست وه،الهامی وه ،او سپېځلی وه، چي په دې ترځ کي دپروټستانوډله رابښکاره شول د(اصلاح کلیسا) ترسرلیک لاندی ئې هلی ځلې پیل کړی اودادعوه ئې وکړه چي (باروک، طوبیا، یهودیت، دانش، واعظ، لومړی مقابین اودوهم مقابین)داټوله واجب الرد، مشکوک، اوغیرالهی او غیر مقدس دی۔[19]

---

[19] بایبل سے قرآن تک ج۔ ۱، ص ۳۱۹،۳۲۰،۳۲۱ :(اظہارالحق کااردوشرح )لیکوال: شیخ الاسلام حضرت مولانامحمدتقی عثمانی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکلیساداصلاح دړلې مشرمارټن لوتهر، په (۱۵۳۴)میلادي کال کې دبايبل پخوانی عبراني اويوناني نسخې وجرمنی ژبې ته وژباړلې، اودائې وويل چې داکتابونه الهی نه دي اويوائې دلوستلولپاره ښه دي اوبس، چې (Roman Church) رومن کلیسا ددې برخلاف په (۱۵۴٦) میلادی کال کې اوپه (۱۸۷۰) میلادي کې همداکتابونه مقدس اوالهامی وبلل۔

پرعهدنامه قدیم باندی ټول عیسایان لکه چې مخکې رڼا ورباندی واچول شوه په یوه خوله نه دي،د مشرقی ارتودوکس عهدنامه قديم (۵۱) کتابه دي، چې کاتولیکان بیا په دې کتابونوکې (لومړی اسدارس، دوهم اسدراس، درهم مکابين، څلورم مکابين او۱۲ واړه پيغمبران ) نه منی، له دې څخه وروسته بیادکاتولیکانو عهدنامه قدیم چې (۴۵یا ۴٦) کتابونه لری پروټستان په دې عهدنامه کې (۳۸) کتابونه مقدس بولی اوپاته اووه کتابونه غیرمقدس ګڼی، اوودې کتابوته دوی د(اپوکریفه، Apocrypha ) استعمالوی .

## اپوکریفه، Apocrypha وڅه شی ته وایی؟

،همدا توری (اپوکریفه، Apocrypha ) دلاتيني ژبې دصفت (Apocryphus) اپوکریفس څخه چې معنا ئې ده پټ اوغیرقانوني، اوهمدغه توری په اصل کې ديوناني ژبې دصفت د (Apocryptein) اپوکريپټېن څخه اخيستل شوی دی چې معنایی ده (پټ یی که، ایسته ئې که) چې داپوکریفه معناپه مجموع کې داشوه چې د خلکوڅخه پټې نسخې،مشکوکې نسخې، غیرصحیح نسخې یاپه دې مطلب چې دابايددخلکوڅخه پټې کړل شی داځکه چې داالهامي کتابونه نه دي۔ اووبل لورته کاتولیکان، اینګلیکن اومشرقی کلیسا داټول (۴٦) کتابونه مقدس اوالهامی بولی۔

خوپه دې دروړلوکې هم ژوراختلاف شتون لری، مشرقی کلیسا

(c) ketabton.com: The Digital Library



(Eastern Orthodox Church) په (۱٦٧٢) میلادی کال کي یوه غونډه جوړه کړه چي دافیصله ئې وکړه چي (باروک اودواړه مقابین ) الهی کتابونه نه دي.[۲۰]، هغه کتابونه چي الهي نه دي ددې کتابوپه شمېرکي هم لوړتوپیراوژوراختلاف شته دی، عمومادوی اوس وایی چي ددې کتابوشمېر (۷) دی، خوپه اظهارالحق کي ددې شمېر(۹) ښودل شویدی چي هغه دادي:

استر، باروک، ددانیال یوه برخه، طوبیا، یهودیت، پوهه، واعظ، لومړی مقابین، دوهم مقابین.[۲۱]، خووبل لورته په مجموع کي مشکوک اوغیرالهامي کتابونه دعیسایی علماء په آند ټول دادي:

(استر، باروک، ددانیال یوه برخه، طوبیا،یهودیت، پوهه، واعظ، لومړی مقابین، دوهم مقابین، دریم مقابین، څلورم مقابین،لومړی اسدراس، دوهم اسدراس، ۱۲ واړه پیغمبران) چي ټول ۱۴ کتابونه کیږی، چي ددې پرصحت باندی دعیسایی علماء پوره اختلاف شته تراوسه پوری.

وبل لور ته دبایبل په پخوانیونسخوکي ددې کتابوشمېرددې څخه زیات دی، لکه دبایبل په اسکندریه نسخه (Codex Alexanadrinus) کي دعهدنامه قدیم دکتابوشمېر (۵۰) دی، چي دغیرالهامی کتابوشمېرددې څخه هم زیاتیږی؛ دکاتولیکانو او دپروتستانودبایبل په ایاتوکي هم ډېرتوپیرله ورایه جوتیږی، دبېلګې په ډول سره دپروتستانوپه بایبل کي لومړی اودوهم پاچایان شته خودکاتولیکانوپه بایبل کي دریم اوڅلورم پاچایان هم شته، یالکه (استر) کتاب چي هم دکاتولیکانواوهم دپروتستانوپه بایبل کي شتون لری، اودکاتولیکانودبایبل د(استر)

---

[۲۰] Encyclo. Brit. (۱۹۶۲), vol.۳, p ۵۷۷

[۲۱] بایبل سے قرآن تک ج۔ ۱، ص ۳۱۴، ۳۱۵(اظہارالحق کااردوشرح )لیکوال: شیخ الاسلام حضرت مولانامحمدتقی عثمانی

(c) ketabton.com: The Digital Library



تقريبا (۱۰۰) اياتونه دپروتستانودبايبل د(استر) څخه اضافه دی، چي داتوپيرپه دپروكتابوكي شته۔

څنګه به سړی له خپل وجدان اوضميرسره داپرېکړه وکړی چي دادی الهامي کتابونه وی، ددې دومرواختلافاتوپه درلودلوسره اوحال داچي دوی پردې اختلافاتوباندی اعتراف کوي او هم ئې منی لکه په انسایکلوپيډياکي چي راغلی دي:

دعهدنامه قديم دمستندونسخوپه هکله هيڅ داعتماداوباورثبوت نشته۔[۲۲]

دعهدنامه قديم کتابونه په پښتو، عربي، اردواوانګليسي ژبه کي:

| | پښتو | عربی | اردوکاتوليک/ پروتستان | انګليسی |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | پيدايښت | التکوين | تکوين/پيدايش | Genesis |
| ۲ | وتل(خروج) | الخروج | خروج | Exodus |
| ۳ | لاويان | اللاويين | احبار | Leviticus |
| ۴ | اعداد | العدد | عدد/گنتی | Numbers |
| ۵ | تثنيه | التثنية | تثنيه/استثنا | Deuteronomy |
| ٦ | يوشع | يشوع | يوشع | Joshua |
| ۷ | قاضيان | قضاة | قضات | Judges |
| ۸ | روت | راعوت | راعوت/رُوت | Ruth |
| ۹ | لومړی سموئيل | صموئيل الاول | ۱ سموئيل | ۱ Samuel |
| ۱۰ | دوهم سموئيل | صموئيل الثانی | ۲سموئيل | ۲ Samuel |
| ۱۱ | لومړی پاچايان | الموک الاول | ۱ملوک/۱ سلاطين | ۱ Kings |

[۲۲] American People*s Encyclopedia. Vol. ۳, p. ۴۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ٢ Kings | ٢ملوک/٢ سلاطین | الموک الثانی | دوهم پاچایان | ١٢ |
| ١ Chronicles | ١اخبار/١تواریخ | اخبارالایام الاول | دلومړیوورځوتار یخ | ١٣ |
| ٢ Chronicles | ٢اخبار/٢تواریخ | اخبارالایام الثانی | دوهم تاریخ | ١۴ |
| Ezra | عزرا | عزرا | عزرا | ١٥ |
| Nehemiah | نحم یاه | نحمیا | نحمیا(نحمیه) | ١٦ |
| Esther | استیر/آستر | أستیر | آستر | ١٧ |
| Job | ایوب | ایوب | ایوب | ١٨ |
| Psalms | مزامیر/زبور | المزامیر | مزامیر | ١٩ |
| Proverbs | امثال | الامثال | امثال | ٢٠ |
| Ecclesiastes | جامع/واعظ | الجامعه | ټولنه (جامعه) | ٢١ |
| Song of Solomon | نشیدالاناشید/غزل الغزلات | نشیدالانشاد | دسلیمان غزلونه | ٢٢ |
| Wisdom | حکمت | الحکمة | حکمت | ٢٣ |
| Jesus son of Sirach | یشوع ین سیراخ | یشوع ین سیراخ | یشوع دسیراخ ځوی | ٢۴ |
| Isaiah | اشعیا/یسعیاه | اشعیا | اشعیا | ٢٥ |
| Jeremiah | ارمیا/یرمیاه | ارمیا | ارمیا | ٢٦ |
| Ezekiel | حزقیال/حزقی ایل | حزقیال | حزقیل | ٢٧ |
| Daniel | دانیال/داني ایل | دانیال | دانیال | ٢٨ |
| Hosea | هوشیع/یوسیع | هوشع | هوشع | ٢٩ |
| Joel | یوئیل/یوایل | یوئیل | یوئیل | ٣٠ |
| Amos | عاموس | عاموس | عاموس | ٣١ |
| Obadiah | عوبدیاه/عبدیاه | عوبدیا | عوبدیا | ٣٢ |
| Jonah | یونس/یوناه | یونان | یونس | ٣٣ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۳۴ | میکاه | میخا | میکا/میکاه | Micah |
| ۳۵ | ناحوم | ناحوم | نحوم/ناحوم | Nahum |
| ۳٦ | حبقوق | حبقوق | حبقوق | Habakkuk |
| ۳۷ | صفنیا | صفنیا | صفن یاه/صفنیاه | Zephaniah |
| ۳۸ | حجی | حجای | حجایی/حجی | Haggai |
| ۳۹ | زکریا | زکریا | زکریاه | Zechariah |
| ۴۰ | ملاکي | ملاخی | ملاکي | Malachi |
| ۴۱ | طوبیا | طوبیا | طوبیا | Tobit |
| ۴۲ | باروک | باروخ | باروک | Baruch |
| ۴۳ | یهودیت | یهودیة | یهودیت | Judith |
| ۴۴ | لومړی مقابین | مکابین الاول | ۱ مکابین | ۱ Maccabees |
| ۴۵ | دوهم مقابین | مکابین الثانی | ۲ مکابین | ۲ Maccabees |
| ۴٦ | دکلیسانصیحتونه | النصایح | پنداورنصایح | The Prayer |

ددې کتابونوشمېرپه څېنوبایبلوکي (۴۵) په څېنوکي (۴٦) اوپه څېنوکي (۴۷)دي، د ائکه چي په څېنوبایبلوکي د(یرمیاه لیکونه-مرثې) بېل کتاب دی اوپه څېنوکې دیرمیاه دکتاب سره یوځای دي. ماچي دکوموبایبلوڅخه دانومونه رااخیستی دی هغه دادي.[23]

وبل لورته مشرقي ارتودوکس (Eastern Orthodox Church) کلیسا بیاداعهدنامه پر(۵۱) کتابونوباندی مشتمله بولی ددوی په بایبلوکي ئې شمېرهمدادی، مشرقي ارتودوکس کلیساپخپلوبایبلوکي (۱اسدراس Esdras۱، ۲ اسدراسEsdras۲ ، ۳مکابینMaccabees ۳ ، ۴مکابین Maccabees ۴ او۱۲

[23] کتاب مقدس، بایبل سوسایتی انارکلی لاهور ۲۰۱۱
کلام مقدس، کاتولیک بایبل کمیشن پاکستان ۲۰۱۱
الکتاب المقدس عربی، لبنان، ۱۹۹۵
Holly Bible, The British and Foreign Society, ۱۴۶ Queen Victoria Street

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوچنی پیغمبرانMinor Prophets ۱۲ ) اضافه لري؛ همدارنګه کاتولیکان بیاداعهدنامه قدیم (۴۶،۴۵) کتابونه بولی لکه چي پورته لیکل شوی دی اوپروتستان بیاهمداکتابونه (۳۹،۳۸) بولی چي ددې څخه مطلب اوموخه داده چي پروتستان پخپلوبایبلوکي (باروک، طوبیا، یهودیت، دانش، واعظ، لومړی مقابین اودوهم مقابین، دریم مقابین، څلورم مقابین،لومړی اسدراس، دوهم اسدارس، او۱۲ واړه پیغمبران) نلري.

وټولوعیسایانوته (۳۸) کتابونه دعهدنامه قدیم مسلم او د منلو وړ دي، په دې کي (استیر) هم مشکوک دی، پردې دټولې عیسایی نړۍ اتفاق دی.[۲۴]

په عمومي ډول سره هغه کتابونه چي دعیسایانووربآندی اختلاف دی هغه ۱۴ کتابونه دي چي پورته ذکرشول.

سامري فرقه (Somarians) چي دفلسطین دسامره وښارته منسوبه ده اواوس ودې ښارته (نابلس) ویل کیږی، دافرقه دعهدنامه قدیم صرف لومړی ۷ کتابونه تسلیموی اونورټول غلط بولی هغه ۷ کتابونه دادي:

( پیدایښت، خروج، لاویان، اعداد، تثنیه، یوشع، قاضیان)[۲۵]

وبل لورته خپله عیسایی علماء وایی چي داډله یواځی دبایبل پنځه کتابونه (پیدایښت،خروج،لاویان،اعداد،تثنیه) الهامي بولی اوبس.[۲۶]په بایبل کي ودې پنځوکتابو (پیدایښت، خروج، لاویان، اعداد، استثناء) ته تورات ویل کیږی، اودوی داکتابونه وحضرت موسی علیه السلام ته منسوب کړیدي. چي په دې خپله عیسایی نړۍ دډېراختلافاتوښکارده.

---

[۲۴] بایبل کیاهے؟ ۲۱-۱۹مخ لیکوال: شیخ الاسلام مفتی محمدتقی عثمانی صاحب، مکتبه دار العلوم کراچی ۱۴۳۰ هق

[۲۵] اعجاز عیسوی، ۲۴مخ لیکوال مناظر اسلام مولانارحمت الله کیرانوی رح، اداره اسلامیات لاهور

[۲۶] قاموس الکتاب،پاڼه ۱۲۱، لیکوال: ایس ایف خیر الله، خپرونکي مسیحی اشاعت خانه ۳۶ فیروزپورروډ لاهور۲۰۰۸-

(c) ketabton.com: The Digital Library



که یوعالم خپل ټول عمردبایبل په اختلافاتوکي صرف اوتېر کړی بیاهم امکان نلری چي ټول اختلافونه سره راټول کړي، دیوه عیسایی مرکزڅخه بایبلونه چاپ شوی دي په یوه کال ئې یوبایبل یوشانته وي اوپه بل کال هغه بایبل وبل شانته وي، کله دبایبل یوکتاب یوځای وي اوکله بیابل ځای وي ، داسی خوډېرشته چي کله یوه فقره یاډېري فقرې په یوه کتاب کي وي اوکله بیانه وي، همدا اختلافات اوناورین به ترقیامته پوری دوام ولري داځکه چي دبایبل په تعریفونوکي موږوویل چي داکوم الهامي اوالهي کتابونه نه دي بلکې دادانسانانوپه لاسونولیکل شوي کتابونه دي نوځکه دخرافاتو،ټکرنو،غلطیانو، پوچوخبرو، فحشااوداسی نورو.... څخه ډک دي اوهیڅکله به عیسایی نړۍ په دې ونه توانیږی چي له دې مشکلاتواوسرگردانی څخه خلاصون وموMي.

## دعهدنامه قدیم لیکوالان څوک دي؟؟؟

### ۱: داوسنی تورات (Pentateuch)لیکوال څوک دي؟

عیسایی نړۍ په دې آنددی چي دعهدنامه قدیم داپنځه کتابونه ئې وحضرت موسی علیه السلام ته منسوب کړی دي اوحال داچي ددوی داادعاددې پنځوکتابونودهرې فقرې په هکله غلطه ده، لکه چي رڼابه ورباندی واچول شي.

یوسی بېس (Eusebeus) چي یویهودي مشهور مؤرخ دی اوورسره نورڅېړونکي داوایی چي کتاب پیدایښت حضرت موسی علیه السلام هغه وخت ولیکي چي کله دی له خپل خسر(حضرت شعیب علیه السلام )سره په مدین کي ؤ، اوتیوډورټ (Theodoret) چي یومشهور عیسایی مؤرخ اوراهب ؤپه دې آنددی چي حضرت موسی علیه السلام داکتابونه هغه وخت لیکلی دي چي کله ئې دمصرڅخه بنی اسرائیل ایستله،اودیوه یهودی عالم موسی بن نکمان داخیال دی چي داهغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت ليکل شوی دي چي کله حضرت موسی عليه السلام ۴۰ ورځي په کوه طورکي ؤ؛ زيات په دې عقيده دي چي داحضرت موسی عليه السلام هغه وخت ليکلی دی چي دی په مدين کي د حضرت شعيب عليه السلام سره ؤ، اوحال داچي په دغه وخت کي حضرت موسی عليه السلام ته نبوت نه وورکول شوی، نوځکه داکتابونه الهامي اوالهي نه دي.

اودکتاب خروج په هکله گمان دادی چي داهغه وخت ليکل شوی دی چي کله حضرت موسی عليه السلام دطوردغره څخه لوحې راوړلی اوصندوق يې تيارکړ. اودکتاب اعدادپه هکله داگمان دی چي دادمواب په دښته کي ليکل شوی دی، اودکتاب استثناء په هکله داخيال دی چي داهم دمواب په دښته کي دحضرت موسی عليه السلام دوفات څخه لرمخکي ليکل شوی دی.

۲: دکتاب يوشع ليکوال:

ددې کتاب په ليکوال کي ډېرقولونه دي، حبرهارډ،ډيوډينی، هيوټ،بشپ پيټرک اوټاملائن اوډاکترگری په دې آنددی چي داحضرت يوشع عليه السلام ليکلی دی،دډاکترلائټ فټ په آنددافينخاس ليکلی دی،دکالون په آنداداکتاب العاذرليکلی دی،دهنری په آنداداکتاب يرمياه عليه السلام ليکلی دی،دوانټل په آنداداکتاب سموئيل عليه السلام ليکلی دی.

۳: دقاضيانوليکوال:

په دې کتاب کي هم ژوراختلافات شتون لری، ځينی علماء وايی چي دافينخاس ليکلی دی،ځينی بياوايی چي حزقياه ليکلی دی، ځينی مؤرخين وايی چي يرمياه عليه السلام ليکلی دی، ځينی وايی چي حضرت حزقيل عليه السلام ليکلی دی اوځينی وايی چي عزراعليه السلام ليکلی دی، خوکره خبره داده چي داکتاب حزقياه ليکلی دی داځکه الهامي نه دی چي هغه نبی نه ؤبلکې يوپاچاؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دقاضیانودلیکلوکره نېټه معلومه نه ده،اوپه لیکوال کي ئې هم اختلاف دي داکیدای شی چي سموئیل دي لیکلی وي،اودرسته خبره به داوي چي دسموئیل نبی ددایرې یوکس لیکلی دی.[۲۷]

### ۴: دکتاب روت (راعوت) لیکوال:

ددې کتاب لیکوال یوه معماګرځېدلې ده،ددې کتاب لیکوال هم معلوم نه دی خوداسی ویل کیږی چي ددې کتاب لیکوال به سموئیل وي.[۲۸]

ځینی وایی دادحزقیاه لیکنه ده، ځینی وایی دادعزراعلیه السلام لیکنه ده، ، په هرصورت په دې کي هم ژوراختلاف شته اومحققین وایی چي داکتاب حزقیاه لیکلی دی نوځکه داالهامي نه دی.

### ۵: دکتاب سموئیل لیکوال:

داسی ویل کیږی چي دلومړی سموئیل ۲۴ بابونه حضرت سموئیل علیه السلام لیکلی دي،نورپاتی بابونه اودوهم سموئیل بیاګاډ اونتهان لیکلی دی داتراوسه نه ده معلومه چي څومری ګاډ او څومری نتهان لیکلی دي.

دلته موږنشوکولای چي دسموئیل لیکوالان معلوم کړودتاریخ څخه داڅرګندیږی چي کیدای شی داکتاب سموئیل، ناتناوجادپه ګډه سره لیکلی وي.[۲۹]داهم ویل کیږی چي داکتاب درجعام پاچاه په وخت کي لیکل شوی دي.[۳۰]

### ٦: دپاچایان اوتواریخ لیکوالان:

---

[۲۷]قاموس الکتاب،پانه ۷۵۳، لیکوال: ایس ایف خیر الله، خپرونکي مسیحی اشاعت خانه ۳۶ فیروزپورروډ لاهور۲۰۰۸-

[۲۸]قاموس الکتاب،پانه ۴۴۴، لیکوال: ایس ایف خیر الله، خپرونکي مسیحی اشاعت خانه ۳۶ فیروزپورروډ لاهور۲۰۰۸-

[۲۹]قاموس الکتاب،پانه ۵۴۱، لیکوال: ایس ایف خیر الله، خپرونکي مسیحی اشاعت خانه ۳۶ فیروزپورروډ لاهور۲۰۰۸-

[۳۰]کلام مقدس،(اردوبایبل)۲۹۷ پانه/ کاتولیک بایبل کمیشن پاکستان ۲۰۱۱

په لومړی اودوهم پاچاپانوکي هم ژوراختلافات تر سترگو کیږی ،ځینی وایی چي داحضرت داؤدعلیه السلام، حضرت سلیمان علیه السلام اوحزقیاه لیکلی دی اودخپلوپاچاهیوحال ئې پکښې لیکلی دي، اوځینی بیاپه دې آنددي چي داکتابونه گاډ، نتهان، شعیاعلیه السلام، یرمیاه علیه السلام اوپه یهودوکي نورومبعوث شوو پیغمبرانولیکلی دي.

دلومړیوورځوتاریخ اودوهم تاریخ، ځینی خلک په دې گمان دي چي حضرت عزراعلیه السلام لیکلی دي،اودایی دحضرت حجی علیه السلام اوحضرت زکریاعلیه السلام په مرسته سره لیکلی دي، ځینی بیاپه دې آنددي چي ددې لیکوال هم هغه څوک دی چي پاچایان یی لیکلی دي.

دیهودوپه سپیڅلي کتاب مشناکي راغلی دي چي ددې کتاب لیکوال یرمیاه دی،لیکن دادامکان شخه وتلې خبره ده،اصل خبره داده چي ددې کتاب لیکوال یونوم ورکي کس دی اوضروربه دیرمیاه علیه السلام هم عصره ؤ[31]

تواریخ دیهودوپه آندعزرابه لیکلی وي په ۴۵۰ قبل المیلاد کي.[32]

## ۷: دکتاب نحمیاه لیکوال:

انهانیشیس، اپی نی نیس اوکریزاستم اونورپه دې فکردي چي ددې کتاب لیکوال حضرت عزراعلیه السلام دی، اوځینی بیاوایی چي دادنحمیاه لیکنه ده،اواکثره په دوهم قول باندی اتفاق لري.

وبل لورته دنحمیاه دحکلیاه دزوی په هکله هیڅ معلومات نشته.[33]

---

[31] قاموس الکتاب،پاڼه ۵۲۴، لیکوال: ایس ایف خیرالله، خپرونکي مسیحی اشاعت خانه ۳۶ فیروزپورروډ لاهور۲۰۰۸-

[32] قاموس الکتاب،پاڼه ۲۶۴، لیکوال: ایس ایف خیرالله، خپرونکي مسیحی اشاعت خانه ۳۶ فیروزپورروډ لاهور۲۰۰۸-

[33] قاموس الکتاب،پاڼه ۱۰۳۰، لیکوال: ایس ایف خیرالله، خپرونکي مسیحی اشاعت خانه ۳۶ فیروزپورروډ لاهور۲۰۰۸-

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۸: د کتاب ایوب لیکوال:

دایوب دکتاب حالت ډیربددی،یهودي علماء لکه ممانی ډیر، لیکلرک، هیکالس، سملراوبشپ استاک اونوروایی چي ایوب محض یوفرضی اوافسانوی نوم دی اوکوم کتاب چي ده ته منسوب دی داصرف یوه افسانه اودرواغ دي؛ اوبل لورته کامټ، کانټل اونوربیاوایی چي یاایوب علیه السلام په واقعیت کي یوشخصیت ؤ.

هغه علماء چي په دې قایل دي چي حضرت ایوب علیه السلام یوواقعی کس ؤددوی ترمنځ بیااختلاف شتون لري څوک وایی چي دی دحضرت موسی علیه السلام همعصره ؤ، ځینی وایی چي دی دیوشع علیه السلام څخه وروسته دقاضیانوپه دوره کي ؤ،ځینی په دې آنددي چي دی داهاسی رُوس یادایران دپاچاه داردشیرپه وخت کي ؤ،اوځینی بیاپه دې خیال دي چي دی دحضرت سلیمان علیه السلام هم عصره ؤ، ځینودبخت نصرځینودحضرت یعقوب علیه السلام ددورې کس بللی دی؛ځینی په دې عقیده هم دي چي دی دحضرت ابراهیم علیه السلام وکنعان ته ترراتګ مخکي ؤ.

بل اختلاف په دې کي دی چي په کتاب ایوب کي په لومړۍ فقره کي د(عُوص) نوم راغلی دی ، دانه ده جوته چي دی دکوم ځای ؤ؟ بوچارټ، سپاټهم، کامټ اونورپه دې باوردي چي دی دعربوپه یوه ریګستاني سیمه کي واقع ؤ؛مکالس اوالجن بیادده ځای دمشق بولی،بشپ لوړ،ارچ بشپ ماجی،ډاکټرهیلز، ډاکټر ګوډ اونور متاخرین په دې عقیده دي چي دی دغوط اودادومیه دی.

بل غټ اختلاف په دې کي دی چي ددې کتاب لیکوال الیهودی ،ځینی وایی حضرت ایوب علیه السلام دی،ځینی وایی لیکوال ئې حضرت موسی علیه السلام دی، ځینی په دې باوردي چي لیکوال ئې حضرت سلیمان علیه السلام دی، ځینی وایی چي شعیاعلیه السلام یی لیکوال دی، ځینی په دې عقیده دي چي ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکوال دپاچامنسی دزمانې یونوم ورکي کس دی،ځینی بیاوایی چي لیکوال یې حزقیل علیه السلام دی، ځینی په دې آندديي چي لیکوال ئې عزراعلیه السلام دی اوالجن بیاپه دې یقین سره دی چي ددې کتاب لیکوال دالیهودداولادې څخه یوڅوک دی.

اوسنیوڅېړنوداثابته کړیده چي داکتاب دیوه لیکوال لیکنه نه ده، بلکې ډیرولیکوالانو لیکلی دی، چي داددې کتاب له متن اوبطن څخه معلومیږی.[۳۴]

ددې کتاب لیکوال نامعلوم دی،خویهودي ثقه معلومات وایی چي دادموسی لیکنه ده،خودادامکانه څخه لیری ده،کره خبره داده چي ددې کتاب لیکوال نامعلوم دی، اوداکتاب غالباً دسلیمان علیه السلام په وخت کي لیکل شوی دی.[۳۵]

## ۹: دزبورلیکوالان:

اوریجن، کریزاستم، آگستاین،انبروس، یوتهیمیس اونورپه دې آندديي چي ددې کتاب لیکوال حضرت داؤدعلیه السلام دی،وبل لورته هیلری، اتهانیشیس، جیروم، یوسی بیس اونورپه دې باوردي چي ددې لیکوال حضرت داؤدعلیه السلام نه دی، هارن صاحب وایی چي لومړی قول په دې غلط دی چي ددې کتاب ځینی برخې دحضرت داؤدعلیه السلام څخه مخکي لیکل شوي دي اوځینی برخې ئې وروسته لیکلی شویدي،دبایبل ځینی مفسرین په دې عقیده دي چي دازبوردمکابینوپه زمانه کي لیکل شویدی، ځینی بیاوایي:

- هغه زبورونه چي لیکوال یې معلوم نه دی هغه ټول ۳۰ دي.
- هغه زبورونه چي حضرت موسی علیه السلام لیکلی دي ټوله ۱۰ دي.

---

[۳۴] انسائیکلوپیډیابریټانیکا، ۱۹۵۰

[۳۵] قاموس الکتاب،پاڼه ۱۱۱، لیکوال: ایس ایف خیرالله، خپرونکي مسیحی اشاعت خانه ۳۶ فیروزپورروډ لاهور۲۰۰۸-

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هغه زبورونه چي حضرت داؤدعلیه السلام لیکلی دي هغه ټوله ۷۱ دي.
- هغه زبورونه چي اساف لیکلی دي هغه ټول ۱۲ دي.
ځینی څېړونکي بیاوایي چي اساف هیڅ زبورنه دی لیکلی.
- هغه زبورونه چي دقورح درې زامنولیکلی دي هغه ټول ۱۱ دي.
- هغه زبورچي هیمان لیکلی دی هغه یودی (۸۸ زبور).
- هغه زبورچي اتهان لیکلی دی هغه یودی (۸۹ زبور).
- هغه زبورونه چي حضرت سلیمان علیه السلام لیکلی دي هغه ۲ دي (۷۲،۱۲۷زبورونه)
- هغه زبورونه چي جدوتهن لیکلی دي هغه ۳ زبورونه دي.

لنډه داچي د(۳۰) زبوروهیڅ لیکوال معلوم نه دی،ځینی په دې آنددي چي زبورنورولیکلی دي اویوځای کړی داؤدعلیه السلام دي،بیادادزبورونویوځای کیدل ددې په وخت کي هم کافی اختلاف شتون لري، ځینی وایی چي دادحضرت داؤدعلیه السلام په زمانه کي سره یوځای شوي دي، ځینی بیاوایی چي دحزقیاپه زمانه کي سره یوځای شوي دي اوځینی بل څه وایی.

دزبوروپه نومونوباندی هم ژوراختلاف شته،اکثره په دې عقیده دي چي دزبوروچي کوم نومونه دي دادنوم ورکوکسانونومونه دي . اودوی نبیان نه وه، چي له پورتنیو څېړنوڅخه داجوته شول چي زبورکوم الهامي اوالهي کتاب نه دی.

۷۳ زبورونه وداؤدعلیه السلام ته منسوب شوي دي،ددې نورلیکوالان دادي: آسف،بنی قورح،سلیمان،ایتان،اوپه ډیروزبوروکي شک شته، اودادداؤدنه دي چي داکره خبره ده،داداؤد سره هیڅ تعلق نلری.[۳۶]

## ۱۰: دامثال لیکوال:

[۳۶] قاموس الکتاب،پانه ۴۶۸، لیکوال: ایس ایف خیرالله، څېړونکي مسیحی اشاعت خانه ۳۶ فیروزپورروډ لاهور۲۰۰۸-

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځینی په دې باوردي چي ددې لیکوال حضرت سلیمان علیه السلام دی،داقول په دې باندی غلط دی چي دجملودتکراراواختلاف څخه معلومیږی چي دادحضرت سلیمان علیه السلام لیکنه نه ده ،او همدارنګه (۳۰او۳۱ بابو) څخه داپوره معلومیږی چي دادحضرت سلیمان علیه السلام لیکنه بلکل نه ده،وبل لورته جمهورعلماء په دې یقین سره دي چي دحزقیاه،اشعیا، عزرااونوروسره راټول کړیدي.

۱۱: دکتاب جامعه (ټولنه) لیکوال:

څه علماء په دې باوردي چي دادحضرت سلیمان علیه السلام کتاب دی، مشهوریهودی عالم رب قمچی بیاوایی چي داشعیاعلیه السلام کتاب دی،دتالمودعلماء وایی چي داحزقیاه کتاب دی ،مشهورعیسایی عالم جهان اودجرمنی ځینی علماء بیاوایی چي داهغه وخت لیکل شوي دي چي کله یهوددبابل دقیدڅخه خلاص شول؛زرقیل بیاوایی چي دادانتیوکس ایپی فانس په زمانه کي لیکل شوی دی، کله چي یهودله بابل څخه خلاص شول ، دی زیاتوي چي ددې کتاب ټوله مضامین له مقدسوکتابودفهرست څخه وغورځوی اوویل یی چي دادبدعاتواوخرافاتوڅخه ډک کتاب دی،چي بیاوروسته بیرته دمقدسوکتابوپه لړکي راغلی.

۱۲: دغزل الغزلات(نشیدالانشاد) لیکوال:

ددې کتاب نسبت ځینی وحضرت سلیمان علیه السلام ته کوي ،ډاکټرکنی کاټ اوځینی متاخرین علماء په دې باوردي چي داځکه دحضرت سلیمان علیه السلام لیکنه نه ده چي دادحضرت سلیمان علیه السلام دوفات څخه وروسته لیکل شویدی؛دسوشیابشپ پادری تهیوډورچي په پنځمه پیړی کي تیرشوی دی پردې کتاب اوپرکتاب ایوب باندی ډیربدویله،سیمن اولیکلرک خوبیاددې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دووکتابونوربښتیولی په هیڅ ډول سره نه تصدیقول،وشتن بیاپه دې نظرؤچي دابې ځایه اوناجایزه غزلې دي اودابایدله مقدسو کتابو څخه وایستل شي،دسیملرقول دی چي داکتابونه جعلی دي، وارډکیتهولیک پخپل کتاب اغلاطنامه کي لیکلی دي چي داحکم صادر شوچي بایدداکتاب له عهدعتیق څخه خارج شی داځکه چي په دې کي ناجایزه غزلی دي.

دانظمونه زیات خلک وسلیمان علیه السلام ته منسوبوی ،بابابتهراپه دې آنددی چي غزل الغزلات دحزقیاه کاتبانولیکلی دي.[۳۷]

## ۱۳: دکتاب حزقی ایل لیکوال:

دیهودودعلماء په دې کتاب کي زښته ډیراختلاف دی، چي ایاموږداکتاب په مقدسوکتابوکي شامل کړوکه یا؟ ځیني وایی چي ددې لیکوال یشوع بن سیراخ دی.[۳۸]

## ۱۴: دکتاب داني ایل (دانیال) لیکوال:

زیات یهودي علماء په دې باوردي چي که داکتاب به دانیال لیکلی وي نوهغه خونبی نه ؤاوهغه دبابل دپاچاه یوملازم ؤنوځکه دا نشو ویلای چي داکتاب دی الهامي وي؛ نوربیاوایي چي

دا کتاب په۱٦٥ ق م کي یوه نوم ورکي کس لیکلی دی،یاددې لیکوال یویهودي مدیرؤ.[۳۹]

## ۱۵: دکتاب یوئیل لیکوال:

---

[۳۷] قاموس الکتاب،پانه ۶۸۴، لیکوال: ایس ایف خیرالله، خپرونکي مسیحی اشاعت خانه ۳۶ فیروزپورروډ لاهور۲۰۰۸-

[۳۸] قاموس الکتاب،پانه ۳۲۴، لیکوال: ایس ایف خیرالله، خپرونکي مسیحی اشاعت خانه ۳۶ فیروزپورروډ لاهور۲۰۰۸-

[۳۹] قاموس الکتاب،پانه ۳۸۹، لیکوال: ایس ایف خیرالله، خپرونکي مسیحی اشاعت خانه ۳۶ فیروزپورروډ لاهور۲۰۰۸-

(c) ketabton.com: The Digital Library



دانه ده جوته چي داکتاب کله لیکل شویدی؟اوهمدارنگه دیوئیل علیه السلام په هکله هم معلومات نشته چي چیری اوکله تیر شویدی؟ کله چي دیوکتاب لیکوال نامعلوم وي نوکتاب به ئې هم بې درکه وي،رب قمچی اونوروایی چي یوایل دیورام دپاچاهی په دوره کي ؤ،ارچ بشپ نیوکم،اولام جارچی اونوریهودی علماء بیاوایی چي یوایل دمنسامین په دوره کي ؤ،وبل لورته ټارنوویس، اکرمن، کامټ اونوربیاوایی چي یوایل دیوسیادحکومت په دوره کي تیرشویدی؛ اوروټ، رنکامولډن، هور، روزن ملر، ابارنبل اونورېه دې یقین سره دي چي یوایل دعزیادحکومت په دوره کي تیرشویدی.

ددې کتاب دلیکلواټکل کول محاله دی،ددې کتاب لیکوال کیدای شی دعاموس اوهوسیع هم عصره شوی وي، یاددې کتاب لیکوال یونبی ؤچي دفتوایل زوی ؤ.[40]

## ۱٦: دکتاب عوبدیا لیکوال:

وهیچاته معلومه نه ده چي داکتاب کله لیکل شویدی؟ جیروم اونوریهودي علماء په دې باوردي چي داکتاب عبدیالیکلی دی اوداهغه عوبدیادی چي داچاټ دپاچاه په زمانه کي دیوه ولایت والي ؤ، نورځیرونکي بیاوایی دی دیوسیاله لوری دبیت المقدس لپاره مقررکړل شوی ؤ،دډیوین ویناده چي داکتاب داحازدحکومت په دوره کي لیکل شویدی،وبل لورته کروټیس، هیوټ، ډاکترلائټ فټ اونورمفسرین بیاوایی چي دهوشیع، یوایل اوعاموس په زمانه کي لیکل شویدی، دلوی بشپ نیوکم داخیال دی چي داکتاب د یرمیاه علیه السلام په زمانه کي لیکل شویدی.

ددې کتاب لیکوال په۵ ق م پیړۍ کي ژوندکاوه،اودی دپاچااخی اب خدمت گارنه ؤ،اونه هم دعزراسالارؤ داکتاب عبدیاه نبی ته منسوب دی.[41]

---

[40] قاموس الکتاب،پانه ۱۱۵۶، لیکوال: ایس ایف خیر الله، څېړونکي مسیحی اشاعت خانه ۳۶ فیروزپورروډ لاهور۲۰۰۸-

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۱۷: دکتاب ناحوم (نحمياه) ليکوال:

ددې کتاب زمانه هم معلومه نه ده، څوک وايي چي دانحمياه عليه السلام ديوتام دحکومت په دوره کي ليکلی دی، اوځينی بياپه دې نظردي چي داکتاب د۷۱۵ ق م په شاوخواکي ليکل شويدی.

ناحوم نبی د(القوش) اوسېدونکي ؤچي گمان داسی کيږی چي دی په يهوداکي ؤ،دده دنبوت درسته نېټه وچاته معلومه نه ده؛ ليکن کيدای سي چي دی په ٦٦٤ ق م، يا٦٦٣ ق م کي ؤ.[۴۲]

### ۱۸: دکتاب حبقوق ليکوال:

داهم دنورکتابونوپه شان نامعلوم اوسرگردانه دی، ځيني په دې فکراوآنددي چي داکتاب دمنسامين دحکومت په دوره کي ليکل شويدی،لوی بشپ اشريهوياقيم بياوايي چي داديرمياه عليه السلام په دوره کي ليکل شويدی،اودليکوال داهم نه ده معلومه چي دی په کوم قوم اوټبرپوری تړلی ؤاوپه کومه علاقه کي ؤ.

دحبقوق نبی په هکله معلومات چي خپاره شويدي داټول اټکل اوگمان دی،ددې کتاب دليکوال اودليکلونېټه هيڅ نه ده معلومه، داسي معلوميږي چي دابه په(٦٠٥) ق م کي ليکل شوی وي.[۴۳]

---

[۴۱] قاموس الکتاب،پاڼه ۶۲۶، ليکوال: ايس ايف خيرالله، خپرونکي مسيحی اشاعت خانه ۳۶ فيروزپورروډ لاهور۲۰۰۸-

[۴۲] قاموس الکتاب،پاڼه ۹۹۵، ليکوال: ايس ايف خيرالله، خپرونکي مسيحی اشاعت خانه ۳۶ فيروزپورروډ لاهور۲۰۰۸-

[۴۳] قاموس الکتاب،پاڼه ۳۱۸، ليکوال: ايس ايف خيرالله، خپرونکي مسيحی اشاعت خانه ۳۶ فيروزپورروډ لاهور۲۰۰۸-

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹: دکتاب ملاخیا، ملاخی (ملاکي) لیکوال:

دارجن ویناده چي په اصل کي ملاکي دانسان دنسل څخه نه ؤبلکې هغه یوه فرشته وه اودانسان په شان ئې ځان تراشلی ؤ،کامټ، جیروم اونوربیاوایی چي ملاکي په اصل کي دادعزرادوهم نوم دی،البته روزن ملربیاوایی چي داکس دعزراڅخه بېل کس دی،ارچ بشپ نیوکم بیاوایی چي داکس په ۴۳٦ ق م کي تېر شویدی ،ډاکټرکنی کاټ بیاوایی چي داشخص په ۴۲۰ ق م کي تېرشویدی.

داهغه کتابونه ؤه چي دټولومسیحی علماءورباندی اتفاق دی.

۲۰: دکتاب آستیر(استر)لیکوال:

دایوه یهودی ښځه وه،کله چي بخت نصرحمله وکړه داپه جلا وطنو کي شامله وه،پاچا اخسویرس چي کله له خپلی لومړی ښځې څخه ناراضه شونوله استرسره ئې واده وکړ، داکتاب ۱۰ بابه دي اوهمداکیسه پکښې ده.داکتاب دپروتستانوپه بایبل کي نشته

داکتاب غالباً د٤٦٥ ق م څخه وروسته لیکل شوی دی کیدای شي چي ددې لیکوال یویهودي (مروکي) وي،داکتاب په یوناني نسخوکي (۱۰۷) ایاته زیات دی، خو داسی هم ویل کیږی چي کیدای شی چي داکتاب به په ۱۱۴ ق م کي لیکل شویوي.[44]

۲۱: دکتاب باروک (باروخ)لیکوال:

داکتاب وحضرت باروخ علیه السلام ته منسوب دی،چي دحضرت یرمیاه علیه السلام شاگردؤ اودهغه دوحی کاتب هم ؤ،. داکتاب دپروتستانوپه بایبل کي نشته عام گمان دادی چي داکتاب د

---

[44] قاموس الکتاب،پاڼه ۴، لیکوال: ایس ایف خیر الله، خپرونکي مسیحی اشاعت خانه ۳۶ فیروزپورروډ لاهور۲۰۰۸-

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۵۰- ۱۰۰ ) عیسوی پېړۍ په منځ کې لیکل شوی دی،باروک په عبرانی ژبه کې و(مبارک) ته ویل کیږی.[۴۵]

### ۲۲: کتاب طوبیاه:

طوبت یویهودي ؤده دخپل زوی (طوبیاه)په هکله ئې داکتاب ولیکي دادنفتانی نسل ځخه یویهودي ؤ، اودده لقب البار(نیک) ؤ، مفسرین په دې آنددئ چې داکتاب دالهامي کتابوپه لړکي نه دی[۴۶] داکتاب هم دپروتستانوپه بایبل کې نشته

### ۲۳: کتاب یهودیت:

داویوې یهودی کونډې ښځې ته منسوب کتاب دی،داخپل په قوم کې یوه زړوره ښځه وه، داکتاب دپروتستانوپه بایبل کې نشته

### ۲۴: کتاب دانش( دسلیمان پوهه):

ددې لیکوال هم نامعلوم دی. داکتاب دپروتستانوپه بایبل کې نشته

### ۲۵: دکلیسانصیحتونه:

داکتاب په۲۰۰ ق م کې دیوه شخص مسیح ابن سروش ولمسی ته منسوب دی. داکتاب دپروتستانوپه بایبل کې نشته[۴۷]

---

[۴۵] قاموس الکتاب،پاڼه ۱۱۶، لیکوال: ایس ایف خیرالله، خپرونکي مسیحی اشاعت خانه ۳۶ فیروزپورروډ لاهور۲۰۰۸-

[۴۶] کلام مقدس،(اردوبایبل) پاڼه ۵۳۸کاتولیک بایبل کمیشن پاکستان ۲۰۱۱

[۴۷] اعجازعیسوی، مخ ۲۰- ۴۵ لیکوال: مناظراسلام مونارحمت الله کیرانوی رح، اداره اسلامیات لاهور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په (ار ایس وی R.S.V) بایبل کي دعهدنامه قدیم دکتابونولیکولان:

پیدایښت: دایودپنځوکتابوڅخه دحضرت موسی علیه السلام دی۔

خروج: داکېدای سی چي موسی علیه السلام به لیکلی وي۔

احبار(لاویان): داکېدای سی چي موسی علیه السلام به لیکلی وي۔

اعداد: داکېدای سی چي موسی علیه السلام به لیکلی وي۔

استثناء: داکېدای سی چي موسی علیه السلام به لیکلی وي۔

یشوع: زیاته برخه ئې یشوع لیکلې ده

قاضیان: امکان لری چي سموئیل به لیکلی وي۔

رُوت: په رښتنی ډول سره ئې لیکوال معلوم نه دی، اوگمان کیږی چي سموئیل به لیکلی وي۔

لومړی سموئیل: لیکوال ئې معلوم نه دی، چي چالیکلی دی؟۔

دوهم سموئیل: لیکوال ئې معلوم نه دی، چي چابه لیکلی وي؟

لومړی پاچایان: لیکوال ئې معلوم نه دی ، چي چابه لیکلی وي؟

دوهم پاچایان: لیکوال ئې معلوم نه دی چي چا به لیکلی وي؟

لومړی تواریخ: لیکوال ئې معلوم نه دی، البته عُزراسره راټول کړیدی۔

دوهم تواریخ: گمان کیږی چي عُزرابه لیکلی وي اوهم ده به سره راټول کړی وي۔

عُزرا: غالب گمان داکیږی چي عُزرادی پخپله لیکلی وي۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



استیر: لیکوال ئې هیڅ معلوم نه دی، چي چابه لیکلی وي؟

**یعقوب**: لیکوال ئې هیڅ معلوم نه دی، چي چابه لیکلی وي؟

زبور: لیکوال ئې حضرت داود علیه السلام دی، اوحال داچي نورلیکوالان هم پکښې دي.

واعظ: په یقیني ډول سره ئې لیکوال شکمن دی، اوزیات داویل کیږی چي سلیمان علیه السلام ئې لیکوال دي.

**یسعیا(اشعیا)**: داکتاب ویسعیاته منسوب دی، کېدای سی چي ځینی برخې ئې نورولیکلی وي.

یوناه (یونس علیه السلام): ددې لیکوال هیڅ معلوم نه ، چي چابه لیکلی وي؟

حبقوق: دلیکوال په هکله ئې هیڅ معلومات نشته، نه دځای په هکله، نه د وخت په هکله نه دپیدایښت په هکله اوداسی نور۔۔۔[۴۸]

که اوس څه لږیوڅوک دعقل سلیم څخه کارواخلی هغه کتاب چي نه ئې هیڅ لیکوال معلوم وي، نه وسیدناحضرت عیسی علیه السلام ته منسوب وي، اونه هم وخدای جل جلاله ته منسوب وي، دابه څنگه دخدای کتاب شی؟؟؟

عیسایی نړۍ پخپله په دې گواهی ورکوي چي دادخدای کتاب نه دی، اوهغه چاچي لیکلی دی دهغو هم هیڅ درک نه معلومیږی، دهغو دپیدایښت معلومات نشته، دهغو دځای معلومات نشته، داداسی شوي دي چي داکیسې په یهودوکي دخلکویادوې، هغه ئې راټولې کړې اودکتاب بڼه ئې ورکړه چي دوخت په تېرېدوسره دبایبل برخه وگرځېدې اواوس دوی ویوه لورته وایی چي ددې کتاب دلیکوال هیڅ

---

[۴۸] د (ارى اسى وى) بايبل چاپ: ۱۹۷۱، ص- ۱۲- ۱۷) چي همداصفحه مرحوم شيخ احمدديدات پخپل كتاب Is the Bible God*s Word? په ۵۹ صفحه كي هم چاپ كړيدى.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درک نشته اوبل لورته وایی چي نعوذبالله دادخدای کلام اوداکتاب الهي اوالهامي دی.

## عهدنامه قدیم (عتیق) له څه شی څخه بحث کوی؟ په لنډ ډول سره ورباندی رڼاچوو.

۱: کتاب پیدایښت:

ودې کتاب ته (سفرالخلیقه) هم وایی،سفرد(سین) په زیرسره او د(فا)په سکون سره، چي په عربي کي ورته صحیفه یاکتاب وایی، داکتاب (۵۰) بابه دی،چي دځمکې اواسمانودپیدایښت څخه نیولې دحضرت یوسف علیه السلام تروفات پوری په لنډ ډول سره حالات بیانوی علاوه له دې څخه دحضرت آدم علیه السلام، حضرت حوا علیهاالسلام،حضرت نوح علیه السلام،حضرت ابراهیم علیه السلام،حضرت اسحاق علیه السلام،حضرت یعقوب علیه السلام حالات شته.

۲: کتاب خروج:

ودې کتاب ته سفرالخروج هم وایی،دا(۴۰) بابه دی، په دې کتاب کي دفرعون اودموسی علیه السلام کیسه،وبنی اسرائیلوته تکلیفونه رسول،حضرت موسی علیه السلام نبی کېدل،وفرعون ته معجزې ښکاره کول،دقلزم په دریاب کي غرقیدل، بنی اسرائیل له مصره وتل اوپه سیناصحراکي مشتیدل،دحضرت موسی علیه السلام وکوه طورته تلل،اوځینی نوراحکام.

۳:کتاب لاویان(احبار):

ودې کتاب ته (کتاب قوانین) هم وایی،، داکتاب (۲۷) بابه دی،په دې کتاب کي احکام، پرسیناه غره باندی دقربانی سوځل،اوداسی نوراحکام دبنی اسرائیلولپاره شامل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴: کتاب اعداد:

ودې کتاب ته (کتاب شمار) اویا(سفرالعدد) هم وایی،دا(۳٦) بابونه دي،په دې کتاب کي دبنی اسرائیلود۱۲ ډلوبیان،دده دخوردمریمی وفات، دده دمشروروروهارون علیه السلام وفات،دوحی په ذریعه دده دوفات نېټه معلومیدل،حضرت یوشع علیه السلام خپل خلیفه مقررول،دبنی اسرائیلودمصرڅخه ومواب ته سفر،بلعم بن باعورا،دحضرت موسی علیه السلام ځینی غزاګاني،اوداسی نور... شامل دي.

۵: کتاب استثناء:

ودې کتاب ته کتاب تکرارهم ویل کیږی،داکتاب (۳۴) بابونه لری،په دې کتاب کي هغه احکام دي چي وحضرت موسی علیه السلام ته دموآب په ځمکه کي ورکول شوی وه، په دې کتاب کي وحضرت موسی علیه السلام ته منسوب تقریرونه،اوداسی نوربیان هم شته چي دده ترمرګه پوری رسیږی.

٦:کتاب یشوع:

داکتاب (۲۴) بابونه لري،دحضرت یوشع علیه السلام دبنی اسرائیلوسره دیردین درودڅخه تیریدل،دسرکښوسره جهادکول، دکنعان فتح،دبنی اسرائیلو(۱۲) قبیلوته ځمکه وېشل ،اوداسی نورواقعات پکښې شامل دي.

۷: کتاب قاضیان:

دا۲۱ بابه دی،په دې کي دبنی اسرائیلودډلواختلاف،اوددوی ترمنځ جنګونه چي دحضرت یوشع علیه السلام دمرګ څخه وروسته دوی سره شکېل شول.

۸: کتاب روت(راعوت، رعوت):

دا۴ بابه لري،په دې کي دراعوت په نامه دیوې ښځې کیسه ده، اوداسی نور...

۹: کتاب لومړی سموئیل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



داکتاب (۳۱) بابه دی،ساول چې دبنی اسرائیلولومړی پاچاؤ،دسموئیل مرگ،دهغه ښخول، دیوې پېړی تاریخ بیانوی، اوداسی نور...

۱۰: کتاب دوهم سموئیل:

دا۲۰ بابونه لری،په دې کې دساول دخاندان بربادیدل،دحضرت داودعلیه السلام پاچاکیدل،اودده دپاچاهی حالات.

۱۱: کتاب لومړی پاچایان:

دا۲۲ بابه دی،دحضرت داؤعلیه السلام دمرگ څخه وروسته دحضرت سلیمان علیه السلام پرځای کښېناستل،دملکې سباکیسه،دبت پرستی بیان،داسرائیلودپاچاهی جوړیدل ،دیهودودپاچادیوشافاط بیان،دحضرت ایلیاه علیه السلام بیان اودنوروپاچاهانو بیان .

۱۲: کتاب دوهم پاچاهان:

داکتاب ۲۵ بابه دی،داکتاب داخزیادپاچاهی څخه دبنی اسرائیلوتراخری پاچایوشیع پوری،په دې کې دبخت نصرفتح،دایلیاپیغمبرواسمان ته پورته کیدل،اودده پرځای دالیسع کښیناستل اوداسی نور...

۱۳: کتاب دلومړیوورځوتاریخ:

داکتاب ۲۹ بابه دی،دبنی اسرائیلودډلوبیان،دساول په هکله څه بیان،دحضرت داؤد علیه السلام تروفات پوری حالات.

۱۴: کتاب دوهم تواریخ:

داکتاب ۳۶ بابه دی،په دې کتاب کې دحضرت سلیمان علیه السلام څخه تربخت نصرپاچا پوری اودهغه دتسلط حالات.

۱۵: کتاب عزرا:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا(۱۰) بابه دی،دبنی اسرائیلودبابل دقیدخخه خلاصون دایران دپاچاپه حکم،ددوهم ځل لپاره وخپل ملک ته راتلل،دبیت المقدس دوهم ځل ابادول اوداسی نور...

۱٦: کتاب نحمیاه:

داکتاب۱۳ بابه دی،نحمیاه دبابل دپاچاارتخششتاپه حکم سر ه راتلل،نوی ښارجوړول،اوداسی نور...

۱۷: کتاب طوبیاه:

داکتاب (۱۴) بابه دی،په دې کتاب کې دطوبیاه ددینداری اوسخاوت په هکله بیان شوی دی.

۱۸: کتاب یهودیت:

داکتاب (۱٦) بابه دی،پریهودوسخت مصیبت راتلل،اوددې ښځې (یهودیت) په هکله بیان اوداسی نور...

۱۹: کتاب آستر:

داکتاب (۱۰) بابه دی،دادبنیامین دډلې څخه یوه یهودی ښځه وه،ددې ټوله حال پکښې دی.

۲۰: کتاب ایوب:

دا(۴۲) بابه دی،په دې کې حضرت ایوب علیه السلام خوشحاله کیدل،په ناروغی اخته کیدل،دده اولاداومال هلاک کیدل اوددوهم ځل لپاره دخدای فضل ورباندی کیدل.

۲۱: کتاب زبور(مزامیر):

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا(۱۵۰) زبوره دي،په دې کتاب کې دحضرت داؤدعلیه السلام دعاوې شته،مناجات،ترانې،مرثیه،اونظمونه شته.

۲۲: کتاب امثال:

داکتاب ۳۱ بابه دی،په دې کې ټوله نصیحتونه دي.

۲۳: کتاب جامع(ټولنه/واعظ):

داکتاب (۱۱) بابه دي،په دې کې دشریعت داحکامو اتباع اوداسی نور... شتون لري.

۲۴: کتاب غزل الغزلات(نشیدالاناشید):

دا(۸) بابه دی،په دې کې عاشقانه مضامین لیکل شویدي.

۲۵: کتاب حکمت:

داکتاب (۱۱) بابه دی،په دې کتاب کې دحکمت فضیلت،دهغه اثار اوداسی نور شته.

۲۶: کتاب یشوع بن سیراخ:

داکتاب (۵۱) بابه دی،په دې کتاب کې گستاخی، نصیحتونه ،مختلف بیانونه،دزناپه هکله، دپیغمبرانوپه هکله اوداسی نور.

۲۷: کتاب یسعیاه (اشعیا):

داکتاب (٦٦) بابه دی،دیروشلم دتباهی وړاندوینې،اوڅه داسی مضامین پکښې دي چي دبنی اسرائیلوسره تړاولری اوداسی نور...

۲۸: کتاب یرمیاه:

داکتاب (۵۲) بابه دی،په دې کې دیرمیاه وړاندوینه دیروشلم (بیت المقدس )دتباهی،دبابل دتباهی اودمصردتباهی دي، دصدقیاپاچا احوال اوداسی نور...

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۹: کتاب نوحه( مرثې):

داکتاب ۵ بابه دی،دبابل دپاچاپه واسطه چې کومې تباهۍ راغې پرهغوباندی غم کول.

۳۰: کتاب باروک(باروخ):

داکتاب (٦) بابه دی،په دې کتاب کې دبیت المقدس قبضه کول،ومصر اوبابل ته تگ اوداسې نور...

۳۱: کتاب حزقی ایل(حزقیال):

داکتاب (۴۸) بابه دی،په دې کتاب کې دبنی اسرائیلودقیدڅخه خلاصون،اودزرهاووانسانانوژوندی کیدل چې هډوکي یې خاوری شوی وه ، یاجوج ماجوج،اوداسې نور...

۳۲:کتاب دانی ایل(دانیال):

دا(۱۲) بابه دی،په دې کې دنبوت دخوبونواوداسې نوروبیان شته...

۳۳: کتاب هوشیع:

داکتاب (۱۴) بابه دی،په دې کتاب کې داسرائیلوبې وفایی ،واسرائیلوته سزا،اوداسې نور...

۳۴: کتاب یوایل:

داکتاب(۳ )بابه دی،دبنی اسرائیلودگناهونوڅخه توبه،زیری اوداسې نور...

۳۵: کتاب عاموس:

داکتاب ۹ بابه دی،ددمشق دتباهۍ وړاندوینې، وبنی اسرائیلوته مصیبت رسیدل اوپرهغه باندی افسوس کول ، خوبونه،دخدای قهراوغضب اوداسې نور..

۳٦: کتاب عوبدیاه/عبدیاه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



داکتاب(۱) باب دی، چې په دې کې داوم دتباهی وړاندوینه شویده.

۳۷: کتاب یونس(یونا):

داکتاب(۴) بابه دی په دې کې دحضرت یونس علیه السلام کیسه ده.

۳۸: کتاب میکاه(میخا):

داکتاب(۷) بابه دی په دې کې څه وړاندوینې شته،اووبنی اسرائیلوته دزجروعظ کوی.

۳۹: کتاب نحمیاه(ناحوم/نحوم):

داکتاب۳ بابه دی،په دې کې دنینوادتباهی وړاندوینه شامله ده.

۴۰: کتاب حبقوق:

داکتاب(۳) بابه دی،په دې کې دکلدانیانوتسلط اوددوی لپاره دعااومناجات.

۴۱: کتاب صفنیاه:

داکتاب هم (۳) بابه دی،په دې کې هم څه وړاندوینې شته،پربنی اسرائیلو،فلستویانو اوبنوموآب باندی مصیبت،اووبنی اسرائیلوته زیری دخلاصون.

۴۲: کتاب حجی/حجائی:

داکتاب(۲) بابه دی،وحجی ته داوحی وشوی چې دبابل پرتخت کښینه،دبیت المقدس تعمیر اوداسی نور..

۴۳: کتاب زکریاه:

دا(۱۴) بابه دی،دیروشلم ددوهم ځل لپاره ابادول،اوداسی نور...

۴۴: کتاب ملاکي(ملاخی):

داکتاب(۴) بابه دی،په دې کې وبنی اسرائیلواوکاهنانوته وعظ اوداسی نور...

۴۵: لومړی مکابین:

(c) ketabton.com: The Digital Library



داکتاب (١٦) بابه دی، په دې کتاب کې فتوحات،جنگونه،دبیت المقدس محاصره اوداسې نور شته.

۴٦: دوهم مکابین:

داکتاب (١٥) بابه دی، په دې کتاب کې لیکونه،دهیکل بې حرمتی، دیهودوفتوحات اودهیکل پاکوالی،اوداسې نور...

## نوې عهدنامه/نوی تړون(New Testament) چې (۲۷) کتابونه لري اوهغه دادي

دنوې عهدنامې /نوی تړون کتابونه دټولوعیسایی علماءپه نزدباندی اتفاقی نه دي، اکثره په دې آنددي چې دا(۲۷) کتابونه دي خوبل لورته ځینی عیسایی علماوایی چې دا(۲۲)دي، ځینی وایی چې دا(۲۳) کتابونه دي،خوپه هرصورت داهغه کتابونه دی چې ددوی په اندددسیدناحضرت عیسی علیه السلام څخه وروسته مختلفولیکوالانوپه بېلابیلووختوکي لیکلی دي، موږکولای شو چې نوې عهدنامه په لنډډول سره پردروبرخوووېشو:

لومړۍ برخه:

څلوارانجیلونه (متی، مرقوس، لوقا اویوحنا)

دوهمه برخه:

خطونه(لیکونه) دپولس،پطرس، یوحنا،یهودا اویعقوب

دریمه برخه:

مکاشفات دیوحنا

(c) ketabton.com: The Digital Library



داوسنی نوي عهدنامې (۲۷) کتابونه دادی:

| | پښتو | عربي | اردو | انګليسي |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | انجيل متی | متی | انجيل متی | Matthew |
| ۲ | انجيل مرقوس | مرقس | انجيل مرقس | Mark |
| ۳ | انجيل لوقا | لوقا | انجيل لوقا | Luke |
| ۴ | انجيل يوحنا | يوحنا | انجيل يوحنا | John |
| ۵ | اعمال رسولان | اعمال الرسل | رسولوں کے اعمال | The Acts |
| ٦ | دروميانوپه نوم دپولس خط | رومة | روميو ں کےنام | Romans |
| ۷ | دکورنتينانوپه نوم دپولس خط (۱) | کورنثوس الاولی | ۱-قرنتيو ں کے نام | ۱Corinthians |
| ۸ | دکورنتينانوپه نوم دپولس خط (۲) | کورنثوس الثانية | ۲- قرنتيو ں کے نام | ۲Corinthians |
| ۹ | دګلتيانوپه نوم دپولس خط | غلاطية | غلاطيو ں کے نام | Galatians |
| ۱۰ | دافسيانوپه نوم دپولس خط | افسس | افسيو ں کے نام | Ephesians |
| ۱۱ | دفليپيانوپه نوم دپولس خط | فيليبی | فيلپيو ں کے نام | Philippians |
| ۱۲ | دکولوسيانو په نوم دپولس خط | کولوسی | کلسيو ں کے نام | Colossians |
| ۱۳ | دتسالونيکيانو په نوم دپولس خط(۱) | تسالونيکي الاولی | ۱ تسالونيکيو ں کے نام | ۱Thessalonians |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۴ | دتسالوکیانو په نوم دپولس خط (۲) | تسالونيكي الثانية | ۲ تسالونیکیو ں کے نام | ۲Thessalonians |
| ۱۵ | دتیموتیوس په نوم دپولس خط (۱) | تيموثاوس الاولی | ۱ تیموتاوس کے نام | ۱Timothy |
| ۱٦ | دتیموتیوس په نوم دپولس خط (۲) | تيموثاوس الثانية | ۲ تیموتاوس کے نام | ۲Timothy |
| ۱۷ | دتیطوس په نوم دپولس خط | تيطس | طیطس کے نام | Titus |
| ۱۸ | دفلیمیون په نوم دپولس خط | فيلمون | فلیمو ں کے نام | Philemon |
| ۱۹ | دعبرانیانوپه نوم دپولس خط | عبرانيين | عبرانیو ں کے نام | Hebrews |
| ۲۰ | دیعقوب عام خط | يعقوب | ازیعقوب | James |
| ۲۱ | دپطروس اول خط | بطرس الاولی | ۱- ازپطرس | ۱Peter |
| ۲۲ | دپطروس دوهم خط | بطرس الثانية | ۲- ازپطرس | ۲Peter |
| ۲۳ | دیوحنااول خط | يوحنا الاولی | ۱- ازیوحنا | ۱John |
| ۲۴ | دیوحنا دوهم خط | يوحناالثانية | ۲- ازیوحنا | ۲John |
| ۲۵ | دیوحنادریم خط | يوحناالثالثة | ۳- ازیوحنا | ۳John |
| ۲٦ | دیهوداه خط | يهوذا | ازیهوده | Jude |
| ۲۷ | دیوحنا مکاشفات | رؤيايوحنا | مکاشفه | Revelation |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دنوي عهدنامې كتابونه ،دهغوليكوالان اوداختلافاتوڅېړ

۱: انجیل متی:

په څلوروانجيلوكي دمتی انجيل رومبی مقام لري،وبل لورته ددې انجيل حالت ډېرویجاړ دی؛ داځکه چي متی حواری داانجيل په عبراني ژبه سره ليکلی دی، لاکن عيسايي متاخرين علماء دانه منی، یونوم ورکي کس دعبراني ژبې څخه ويوناني ژبې ته ژباړلی دی، اواصل عبراني انجيل اوس شتون نلری، اپی فينيس داثابته کړيده چي په اصل کي دمتی انجيل په عبراني ژبه سره ؤاوپه يوناني ژبه سره نه ؤ،ريوصاحب هم پخپل کتاب (تاريخ انجيل) کي ليکي چي داپه عبراني ژبه سره ؤ، يوسی بېس هم پخپل کتاب کي ليکلی دی چي داپه عبراني ژبه سره ؤ،لاردڼرپخپل تفسير(کليات) ټوک ۲ مخ ۱۱۹ کي ليکي چي دمتی انجيل په عبراني ژبه سره ؤ،اواکثره عيسايي علماء اوڅېړونکي په دې آندي لکه هورن صاحب چي پخپل تفسيرکي راوړی دي دبيلګې په ډول سره بلرمن،کروټيس، کسابن، بشپ والټن، بشپ ټاملائن، ډاکټرکيو، همډ ،دمل ،هارورډ،اوډن، ديکن بل،رايی سلارک،سائمن،ټلی منټ، اوډوين، کامټ ميکالس، اری نيس، اريجن، سرل، اپی فينس، کريزاسټيم، جيروم اونور... داچي اصلي انجيل نشته اوويوناني ژبې ته ژباړل شوی دی اوژباړن ئې هم نامعلوم کس دی نوځکه موږويلای شوچي داهغه دحواری متی انجيل نه دی اووبل لورته موږپردې انجيل باندی دعيسايي علماء قولونه لرو.

فاسټس چي دڅلورمې ميلادي پېړۍ يولوړعالم دی وايی چي کوم انجيل چي ومتی ته منسوب دی دادهغه انجيل نه دی ،پروفيسربائر جرمنی بیاوايی چي داانجيل ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



درواغ اوغلط دی،دډاکټرارلیمن په آنددمتی دانجیل اول اودوهم بابونه الحاقی بولی.

۲: انجیل مرقوس:

مرقوس خپله حواری نه ؤبلکې دحضرت عیسی علیه السلام دحواری پطرس شاګردؤ.

کاډتس اوملرملاټن په دې آنددي چي په اصل کي دمرقوس انجیل په لاطینې ژبه سره ؤ وروسته داویوناني ژبې ته وژباړل شو،اوغټ شواهدیی دادي چي دوینس په کتب خانه کي دمرقوس انجیل څه برخه موجوده وه چي په لاطیني ژبه سره وه،په دې کتب خانه کي یوبل دمرقس انجیل هم شتون لری چي په سریاني ژبه سره دی، اوپرهغه باندی په ښکاره ټکوسره لیکلی دی چي دمرقوس انجیل په اصل کي په لاطیني ژبه سره دی،وبل لورته جمهور عیسایی علماء په دې عقیده دي چي داسی نه ده بلکې دمرقوس انجیل په یوناني ژبه سره دی.

وارډصاحب پخپل اغلاطنامه کي ویلی دی چي جیروم پخپل یوخط کي لیکلی وه چي زیات متقدمین عیسایی علماء ددې انجیل اخري باب نه مني.

۳: انجیل لوقا:

لوقاهم حواری نه ؤبلکې یوطبیب ؤچي دپولس سره په سفرونوکي ملګری ؤ،بولټن اوکونلی وایی چي لوقاپه شروع کي هیڅ مذهب ته قایل نه ؤورسته بیایهودي شو.

داسی ویل کیږی چي داانجیل به لوقالیکلی وي،ځینی عیسایی علماء ددې انجیل په۲۲ باب کي شک لري،دمارسیونی فرقې په انجیل کي داباب

نشته،دپروتستانودډلې مؤسس اودعیسایانو مشهورعالم مارټن لوتهرپه دې آندؤچي دادرې سره انجیلونه مشکوک دي، اوویل یی چي دادرې سره الهامي نه دي،اودی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایی : چې په ټوله عهدنامه جدیدکې دپطرس خط له ټولوڅخه درست اوصحیح دی اوهمداپاک انجیل دی.

۴: انجیل یوحنا:

کاتولیک هیرالډمطبوعه ۱۸۴۴ میلادی ټوک۷ مخ ۲۰۵ کې لیکلی دی چې اسټارلن پخپل کتاب کې لیکلی دی چې بېله شکه اوشبهې دیوحناانجیل داسکندریې دمدرسې یوطالب العلم لیکلی دی،هورن صاحب پخپل تفسیر۱۸۲۲ میلادی ټوک ۴: ۲ کې لیکي چې په دوهمه میلادي پیړۍ کې یوه عیسایی ډله د(الوجین) په نامه سره وه چې ددې انجیل څخه منکروه،همدارنگه ئې دیوحنا دټولو لیکنوڅخه انکارکاوه، مشهورڅېړونکي عالم برطشیندروایی چې دیوحناانجیل اوویوحناته منسوب لیکونه دیوحنالیکنه نه ده بلکې په دوهمه عیسایی پېړۍ کې یوکس لیکلی دی اوبیایی وده ته منسوب کړیدی،وبل لورته جمهوروعیسایی علماء ددې انجیل د۷ باب دځینوایاتوڅخه انکارکړیدی، وتلی مشهور محقق عالم کروټیس وایی چې په دې انجیل کې ۲۰ بابه وه، اودافسس کلیسا۲۱ باب ورسره یوځای کړ دیوحنادوفات څخه وروسته.

## دڅلوروانجیلونودلیکلونېټې

هورن صاحب پخپل تفسیرکې لیکي چې دانجیلونوچې کومې نېټې دي هغه هم غیرمعتمدې اوغیرمعینې دي،نوځکه سرې ویلای شی چې داانجیلونه الهامي نه دي، دبیلگې په ډول سره:

لومړی انجیل په ۳۷ میلادي کال کې، یا۱۸م،یا۴۱ م،یا۴۸م، یا۶۱م،یا۶۲م، یا۶۳م اویاهم په ۶۴ میلادی کال کې لیکل شویدی.

دوهم انجیل په ۵۶م،یاپه ۶۵م،یاپه ۶۰م، اویاهم په ۶۵ میلادی کال کې لیکل شویدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریم انجیل په په ۵۳م،یاپه ۶۳م، یا۶۴ میلادي کال کي لیکل شویدی.
څلورم انجیل په ۶۸م،یا۷۰م، اویاهم په ۹۸ میلادي کال کي لیکل شویدی.

۵: درسولانواعمال:

دالوقاوخپل شاګردتهیفلس ته لیکلې ده،چي په دې کي دحضرت عیسی علیه السلام دځینو حوارییناحوال پکښې دي. دعیسایي نړی وتلوعلماء لکه دولن ای اغنیسی ،مارسیونی، سویرینس اومانی کیزډلوددې کتاب څخه انکارکړیدی.

۶: دپولس لیکونه:

دپولس دلیکونوپه نېټه اوصحت کي هم ژوراختلاف دی،ځینی عیسایی علماء ځینی لیکونه تسلیموی اوځینی یی بیانه منی، دلیکونو نېټه هم توپیر لري لکه دپولس خط درومیانوپه نوم په ۵۵ م کال کي،یا۵۷ م،یا۵۸ م، یا۶۰م، یاد۵۹میلادی کال په پیل کي لیکل شویدی، **دتیموتیوس په نوم دپولس خط په ۵۶ م،۵۸ م،۶۴ م ،یاپه ۶۵ میلادي کال کي لیکل شویدی،اوځیني علماء وایی چي ددې لیک و خت معلوم نه دی چي دتیموتیوس په نوم لیک کله لیکل شویدی؟ کله چي پولس په لومړ ي ځل ورروم ته ولاړی اوکه په دوهم ځل کي؟ دتیطوس په نوم دپولس خط په ۵۲ م کال کي لیکل شویدی، یا۵۷م،یا۶۴ م،اویاهم په ۶۵ میلادي کال کي.**
**دپولس په ټولولیکونوکي ژوراختلاف شته، ځینی عیسایی علماء یی نه منی اوورڅخه منکردي.**

**۷: دپطرس لیکونه،دیوحنالیکونه، دیعقوب رساله، دیهودا رساله اودیوحنامکاشفه:**

**یوسی بیوس پخپل کتاب تاریخ کلیساکي (کتاب ۳ باب ۳) لیکلی دی چي دپطرس لومړی لیک درست دی اودوهم لیک ئې هیڅکله هم په مقدسوکتابونوکي نه ؤداخل،ددې کتاب به ۲۵ باب کي لیکي:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې کې دخلکواختلاف دی،چې دیعقوب لیک،دیهودالیک، دپطرس دوهم لیک،اودیوحنادوهم اودریم لیکونه به دانجیل لیکوالانولیکلی وی؟ اویابه نوروکسانولیکلی وی اووروسته به ئې ودوی ته منسوب کړی وي، اودپولس اعمال،مکاشفه، دپطرس لیکونه داټول جعلي اوفرضي دي، په اصل کې حقیقت نلري.

دعبرانیانوپه نوم دپولس لیک په هکله ارنیس بشپ لیس چې په ۱۷۸ م کال کې تیرشویدی، هپ پولیټس چې په ۲۲۰ م کې ؤ،دروم لوی پادری نوتیس چې په ۲۵۱م کې ؤ،هغوی ټولوددې لیک څخه انکارکړیدی،وبل لورته سریانی کلیساتراوسه پوری دپطرس ددوهم لیک، دیوحناددوهم اودریم لیک څخه انکارکوي اونه یی تسلیموی،اواسکالجربیاوایی چې هرچاچې دپطرس دوهم لیک لیکلی دی هغه خپل وخت خوشی ضایع کړیدی؛ لاردنرپخپل تفسیرټوک ۴ مخ۱۷۵ کې لیکي: چې سرل اودبیت المقدس کلیساؤ مکاشفه نه قبلوله،اوله دې سره ئې کتاب باروک اودیرمیاه رساله یوځای کوله،ځینی عیسایی علماء په دې اندی دي چې دیوحنامکاشفه نه حواری لیکلې ده اونه هم درست کس لیکلې ده،دابې معناجهالت اوغلط کاردی. اودابایدله مقدسو کتابونو څخه خارجه شي. یوسی بیس پخپل کتاب تاریخ کلیساکې لیکي: چې دیعقوب لیک یوجعلي اوفرضي لیک دی ،زیات متقدمین علماء په دې انددي چې دیهودارساله هیڅ حقیقت نلری،میک ډی برحن سینټیورسټس وایی چې دیعقوب لیک دحوارییو دتعلیماتو څخه خلاف دی،دپروتستانویوتلی لوی عالم راجرس لاندنی کتابونه دمقدسوکتابونوله لړڅخه وایستل:

دپولس لیک دعبرانیانوپه نوم،دیعقوب لیک،دیوحنادوهم اودریم لیک، دیهودالیک اودیوحنامکاشفه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نوی عهدنامه (نوی تړون) له څه شی څخه بحث کوی؟

## ۱- انجیل متی:

دحضرت عیسی علیه السلام پیدایښت،نسب نامه،ازمایښت،دده وعظ،معجزې،وړاندوینې، دده صلیب کیدل،اوداسی نور.

## ۲- انجیل مرقوس:

دحضرت عیسی علیه السلام معجزې،دده ازمایښت،دده مرگ،دده واسمان ته ختل اوداسی نور...

## ۳- انجیل لوقا:

دحضرت عیسی علیه السلام پیدایښت،دحضرت یحی علیه السلام بپتسمه،دحضرت عیسی علیه السلام نسب نامه،معجزې،دده مرگ اوبیاژوندکیدل اوداسی نور.

## ۴- انجیل یوحنا:

دحضرت عیسی علیه السلام معجزې،دیهودوانکارله مسیح څخه،دده مرگ،بیاژوندی کیدل اوداسی نور...

## ۵- اعمال درسولانو:

دیهوداځای ناستی،روح القدس،پطرس اویوحنا،وعظ،دیعقوب قتل اودپطرس نیول،پولس اوبرناباس،دپولس نیول،دپولس ایمان راوړل پرعیسی علیه السلام باندی، دپولس سفر،اوداسی نور...

## ٦- درومیانوپه نوم دپولس رسول خط:

دپولس سفر،دیهودانوشریعت،ادم اومسیح،اسرائیل،دپولس تبلیغ اوداسی نور..

## ۷- دکورنتیانوپه نوم دپولس رسول اول خط:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمسیح پیغام،درسولانوخدمت،عشاء رباني،دمسیح بیاژوندی کیدل.

**۸- دکورنیتانوپه نوم دپولس رسول دوهم خط:**

دپولس شکر،اندیښنه ،تیطوس اودهغه ملګري،دپولس خدمت.

**۹- دګلتیانوپه نوم دپولس رسول خط:**

دپولس رسول کیدل،دپطرس رټل،اخری خبرداری اوبرکت.

**۱۰- دافسیانوپه نوم دپولس رسول خط:**

دپولس دعا،دپولس خدمت،دمسیح مینه،ماشومان مور اوپلار ،اخری سلام.

**۱۱- دفیلیپیانوپه نوم دپولس رسول خط:**

دفیلیپیانولپاره دپولس دعا،تیموتیوس اوایفرودیتوس ،نصیحتونه،اخری سلام.

**۱۲- دکولوسیانوپه نوم دپولس رسول خط:**

دخدای شکر،دپولس خدمت،نصیحتونه، اخری سلام.

**۱۳-دتساونیکیانوپه نوم دپولس رسول اول خط:**

ددې خلکوایمانونه،دپولس خدمت،نصیحتونه.

**۱۴- دتسالونیکیاپه نوم دپولس رسول دوهم خط:**

دمسیح بیاراتلل،دعا،برکت.

**۱۵- دتیموتیوس په نوم دپولس رسول اول خط:**

نصیحتونه،دمسیح خادم،دایمان جنګ.

**۱٦- دتیموتیوس په نوم دپولس رسول دوهم خط:**

دمسیح ښه سپاهی،نصیحتونه، سلام.

**۱۷- دتیطوس په نوم دپولس رسول خط:**

تعلیم، شخصی نصیحتونه اوسلامونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۸- دفیلیمون په نوم دپولس رسول خط:**

دپولس سفارش،اخری سلامونه.

**۱۹- دعبرانیانوپه نوم خط:**

لوی خلاصون،عیسی له موسی نه لوی دی،دملک صدق دکهانت طریقه،عبادت، دمسیح په قربانی گناه لیری کیږی ،نصیحت ،ایمان ،برکت اواخری سلام.

**۲۰-دیعقوب عام خط:**

ازمایښت اولمسون،ددنیاسره دوستی کوی،صبراودعا.

**۲۱- دپطروس رسول اول خط:**

ژوندی امید،دمسیح مصیبتونه،ښځې اوخاوندان،اخری سلامونه.

**۲۲- دپطروس رسول دوهم خط:**

ددرواغونبیان ،دمالک دراتلولوظ.

**۲۳- دیوحنارسول اول خط:**

خدای نوردی،خردجال،دخدای بچی،دخدای روح اودخردجال روح.

**۲۴- دیوحنارسول دوهم خط:**

حقیقت اومینه، اخری سلام.

**۲۵- دیوحنارسول دریم خط:**

مرسته اومخالفت کول،اخری سلام.

**۲۶- دیهوداه خط:**

ددرواغجنواستاذانوپه خلاف عدالت،خبرداری.

**۲۷- دیوحنامکاشفات:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمسیح په هکله خوب،پیغامونه،په اسرائیلومهرلگیدل ،دسرنااواز ،فرشته اوکتاب، ښځه اولوی مار،دبابل بربادی ،زرکاله،نوی اسمان اونوی ځمکه،.

## دبایبل ایاتونه اوبابونه

لکه مخکي چي ماوربااندی رڼاواچول چي یوڅوک خپل ټول عمردبایبل په مطالعه کي تیرکړی بیاهم لږدی، داځکه چي بایبل پریوه حال نه دی، نه ئې بابونه په یوه حال دي ، نه ئې ایاتونه پریوه حال دي، نه ئې مضامین پریوه حال دي، نه ئې فقرې اوکلمې پریوه حال دی، مناظراسلام مرحوم شیخ احمدیدات رحمة الله علیه پوره (۴۰) کاله دعیسائیت مطالعه وکړل له هغه ځخه ئې وروسته دعیسایی مبلغینو، مبشرینو، راهبانو، بیشفانو اوعلماء سره بحثونه اومناظرې پیل کړې، عیسایی علماء وایی چي اوس موږ بایبل په (۲۰۰۰) ژبوسره ژباړلی اوچاپ کړی دی چي په دې کي هیڅ شک نشته خووبل لورته دابایبلونه دهرې ژبې بایبل دبلی سره توپیر لري،په عربي بایبل کي یوه فقره وي اوهغه فقره بیاپه پښتوبایبل کي نه وي، اوداسی نور...

زړه عهدنامه/عهدنامه عتیق/زوړتړون (۹۲۹) بابونه او(۲۳۱۴۵) ایاتونه دي.
نوی عهدنامه/عهدنامه جدید/نوی تړون (٢٦٠) بابونه لري او(۷۹۵۸) ایاتونه دي،دپروتستانوبایبل چي (٦٦) کتابه دي تقریبا په مجموع کي (۳۱۲۷۳) ایاتونه لري،خودټولوپروتستانو بایبلونه هم یوشانته نه دی دبیلگې په ډول سره مشهوربایبل کنگ جیمزبایبل (King James Version) (۳۱۱۰۲) ایاتونه لري، خوبل لورته دکاتولیکانو بایبل چي (۷۳) کتابونه لري په مجموع کي (۳۳۰۰۰) ایاتونه لري،داهم یوشانته نه دي ځینی لاډیرایاتونه لري اوځینی کم، عموماً بایبل (۱۱۸۹) بابونه لري .په عمومي ډول سره په بایبل کي (۲۷۴) ایاتونه کومه شماره هم نلري،زماتوصیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وهغوليكوالانوته چي پرعيسائيت باندى څه ليكي داده چي ديوه كتاب په حواله باندى دبايبل په هكله اكتفاء ونكړى بلكې بايبل خپله وگورى، دهغه دچاپ ځاى اونېټه هم ورسره وليكي داځكه چي بايبلونه بدليږى، كه فرضاً زه وليكم چي داايات په دغه باب كي دى نو(۱۰۰) كاله وروسته داحواله په دې كارنه كوي چي دغه ايات عيسايى علماء بياوبل باب ته اړوي نوښه به داوي چي دبايبل په هكله هرڅه معلومات چي شوني وى وليكل شى، ډيرداسى بايبلونه دي چي زه كله وعيسايانوته دنيټ دبايبل حواله ورکړم دوى ورڅخه منكره شي، اوكله چي دچاپ شوي بايبل حواله وركړم بيايى مني نوپه ليكنوكي بايدداسى بايبل څخه كارواخيستل شي چي چاپ شوى وي.

## دعيسايى علماء اختلاف دنوى عهدنامې دكتابوپه هكله

دنوى عهدنامې (زړېرى) پر (۲۰) كتابودعيسايى نړى اتفاق دى، په نورو(۷) كتابوكي ئې ژوراختلاف شته، اودهغوى په الهامي كيدوكي پوره شک شته۔ هغه كتابونه چي گمان كيږى چي الهامي نه دي هغه دادي:

دپولس ليک د عبرانيانوپه نوم، دپطرس دوهم ليک، ديوحنادوهم ليک، ديوحنادريم ليک، ديعقوب ليک، ديهوداه ليک اوديوحنا مكاشفات۔[۴۹]

يوسې بئيس (Eusebius) چي كليسادتاريخ پلار Father of Church ) (Historyبلل كيږى، په (۳۴۰) ميلادى كال كي ده اونورعيسايى علماوو داتصديق كړل چي:

((ديعقوب ليک، دپطرس دوهم ليک، ديهوداه ليک، ديوحنا دوهم اودريم ليک)) داټوله غيرالهامى اوغيرمستنددى په سُريانى

---

[۴۹] بايبل بايبل سے قرآن تک ج۔ ۱، ص ۳۱۶،۳۱۵و۳۱۷،(اظہارالحق کاار دوشرح )ليکوال: شيخ الاسلام حضرت مولانامحمدتقى عثمانى

(c) ketabton.com: The Digital Library



؛ بایبل کي هم چي د پیشیتا (Peshitta) په نامه سره یادیږی همدغه کتابونه اوتوتې پکښې نشته.[۵۰]

دیوسې بئېس څخه مخکي یوبل مسیحی عالم، مفکراولیکوال ایری نئېس (Irenaes) په (۲۰۰) میلادی کال کي چي کوم دعیسایی الهامی کتابولړلیک خپورکي په هغوکي دپطرس دوهم لیک، دیوحنادریم لیک، دیعقوب اویهودالیکونه اوهمدارنگه دپولس لیک دعبرانیانوپه نامه پکښې نشته.[۵۱]

ددوهمې اودریمې پېړۍ داسکندرې نامتوبېشف کلیمنټ (Clement) په (۲۱۵) میلادی کال کي دعیسایی الهامي کتابوچي کوم فهرست خپورکړ په هغه کي دپطرس دوهم لیک، دیوحنادریم لیک اودیعقوب لیک شامل نه وو، اودبرنباس لیکونه پکښې وه، چي دبرنباس لیکونه په اوسنی بایبل کي هیڅ شتون نلری؛ اوهمدارنگه دکلیساپلار طرطلین (Tertullian) په (۲۳۳) میلادی کال کي دالهامي کتابوله فهرست څخه دیوحنا دوهم لیک، دپطرس دوهم لیک اودپولس لیک دعبرانیانوپه نوم وغورځول اودائې څرگنده کړه چي داکوم ارزښت نلری داځکه چي داالهامي نه دي.[۵۲]

داهرڅه اختلافات ټولوعیسایی علماواوعیسایی نړۍ درک کړي، اوورسره بلد اواشنادي اودوی پخپله داسی اعتراف کوی:

نوې عهدنامه تردوهمې پېړۍ پوری دیوې مستندې مجموعی په ډول سره نه وه پېژندل شوې، اوبالا خره بیاهم ددریمې پېړۍ تراخره پوری دایوه داختلاف نه ډکه اومتنازعه مجموعه وپېژندل شول.[۵۳]

---

[۵۰] Concise Oxford Dictionary of the Church, p. ۳۹۳
[۵۱] Bratton*s History of the Bible, p. ۱۲۲
[۵۲] Bratton*s History of the Bible, p. ۱۲۲
[۵۳] American People*s Encyclopedia, vol, ۳, p. ۴۲۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



داخپله دعیسایي نړۍ اقراردی، چي دحضرت عیسی علیه السلام څخه وروسته هم تر (۳۰۰) کالوپوری بیاهم عیسایي نړۍ په یوه خوله نشول چي نوې عهدنامه یوالهامي کتاب وبولي، بلکې لکه چي موږذکرکړل چي خپله دعیسائیت بنسټ اېښودونکودنوې عهدنامې څه کتابونه بې بنسټه کړل، اودائې په واضح ډول سره لیکلي دي چي داالهامي کتابونه نه دي، چي مطلب دادی چي ددې متابعت اوپه دې عمل کول پکارنه دی، اودالکه دنړۍ دنورو لیکوالانوپه شان کتابونه دي څه تقدس نلري، څه کیسې، څه تاریخ، اوڅه دهغه وخت حالات پکښې نغښتی دي اونورپکښې هیڅ شی نشته.[۵۴]

# دبایبل په هکله دعیسایی نړیوالوعلماء اوڅېړونکو ښکاره څرګندونې

۱: په انجیلونوکي بدلونونه له ورایه معلومیږی ، دبیلګې په ډول سره دبل ځایه څخه پوره- پوره عبارتونه رااخیستل شوي دي اودبایبل سره ګډشویدي اوخلکوداکارقصداً په دې کړیدی چي انجیلونه نورګټورشي اوداکارپه دوهمه میلادي پېړۍ کي شویدی داسی ډېرشیان پکښې دي چي هیڅ سرچینه اومصدرنلري.[۵۵]

۲: په اتمه پېړۍ کي په منځني ختیځ اودروم په بحیره کي یوادبي انقلاب راغی، پاچاهانو وخلکوته دااجازه ورکړه چي ددوی رعب اودبدبه ولیکي اولیکوالان داسی لیکنې راټولې کړي اوهمداسی وشول اوپه همداسی لیکنوباندی کتابتونونه ښکلي شول؛ په یونان کي هم داکاروشو، اسرائیلو دیهودو دمؤرخینو کیسې راټولې اووه ئې

[۵۴] اعجاز عیسوی،۴۵- ۶۴ لیکوال: مناظر اسلام مولانارحمت الله کیرانوی رح، اداره اسلامیات لاهور
[۵۵] Encyclopedia Britannica- ۱۹۴۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکلې اودبایبل دپنځو کتابونو (پیدایښت،خروج، لاویان،اعداد،تثنیه)سره ئې یوځای کړې.[56]

**۳:** په ۶۲۲ ق م کې دهیکل سلیماني دبیاودانولوپرمهال یوه لیکنه پیداشوه کله چې وکتل شوه داسی ویل کیدل چې داهغه تورات دی چې وحضرت موسی علیه السلام ته ورکول شوی ؤ،حال داچې اصلی تورات په لیکلی ډول سره نه ؤ؛چې په دغه وخت کې (کتاب استثنا/تثنیه) ولیکل شوه، له دې څخه وروسته (کتاب سموئیل، کتاب پاچاهان) هم دخلکوله خواولیکل شوه دانونوی تورات دی، چې هیڅانه خوښاوه.[57]

**۴:** په ۵۸۶ ق م کې بخت نصرپه بیت المقدس باندی حمله وکړه، هیکل سلیمانی ئې وسوځاوه اوتورات هم وسواوله منځه ولاړی، له دې څخه وروسته بیا ۵ کتابونه تورات شول او(لاویان اواعداد) ورسره اضافه شول.[58]

**۵:** په ۵۳۹ ق م کې نوي کتابونه رامنځته شول چې (پیدایښت، خروج، لاویان، اعداد، استثناء، یشوع، قاضایان سموئیل اوپاچایان وو.[59]

**۶:** غالباً دتورات په روحانیت کې دعزراونډه ډېره ده،داځکه چې دی کاهن ؤ،دی ذهین ؤ،اوهم دی کاتب ؤ، ده دتورات قوانین اواحکام ئې منظم کړل داځکه دی عالم ؤ.[60]

---

[56] Frank Moore Cross, from Epic to Canon: History and literature in Ancient Israel, Baltimore and London, ۱۹۹۸, pp۴۱- ۴۲

[57] *how the Bible became a book*? pp,۱۲۴-۱۲۶,
R.E. Clements, *God and Temple*, Oxford, ۱۹۶۵,pp>۸۹- ۹۵
The Original Torah ,pp۱۴۶-۱۴۷

[58] Akenson ,*Surpassing Wonder*, pp>۲۲۹- ۲۴۳

[59] *The Bible The Biography*: by Karen Armstrog-۲۰۰۹

[60] Ezra۱:۱۰. Fishbane translation, ibid, p ۶۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷: کله چې عزراپخپل لاس لیکلی تورات وخلکوته اوراوه نوهغه حیران شول اوویل ئې چې داخوهغه تورات نه دی چې پرحضرت موسی علیه السلام باندی نازل شوی دی،په دغه وخت کې بایبل دوې برخې ؤ(تورات ، کتب الانبیاء) له دې څخه وروسته مقدس لیکونه ورسره یوځای شول اوبیا(تواریخ) ولیکل شول ؛چې داپه اصل کې دکتاب سموئیل، پاچاهان اوکتاب استثناتفسیرؤ.[61]

۸: (کتاب دانیال) په دوهم قبل المیلادکې ولیکل شو.[62]

۹: په ۷۰ عیسوی کال کې پاچا ویسپیشین بیت المقدس فتح کړ اوهیکل ئې په اورو سوځاوه، اوټول هغه کتابونه چې لیکل شوی ووپه مکمله توګه سره له منځه ولاړل.[63]

۱۰: په ((اوشا)) کې یهودي علماء (تواریخ، استر، عزرا، نحمیاه، امثال، واعظ، غزل الغزلات، ایوب) داټوله ردکړه او۱۳۵- ۱٦۰ یهودي علماء سره راټول شول اونوی بایبل ئې جوړکړچې دمشناء (Mishna) په نامه سره دی.[64]

۱۱: دساول(شاول/پولس) دوفات څخه وروسته د٦۰ عیسوی کال په لسیزه کې هغه مسیحي لیکوالان چې دپولس ئې ډیراحترام کاوه دده په نامه سره یې افسیانواوتسالوکیانوپه نامه لیکونه ولیکل اوهمدارنګه ئې د**تیموتیوس** اوتیطس خطونه ولیکل اودده په نامه یی کړل.[65]

---

[61] Bruns, Midrash and Allegory, pp. ۶۲۶- ۶۲۷
[62] Fishbane, Garments of Torah, pp ۶۷- ۶۹
The invention of the Bible and Talmuds, New york, San Diego and London, ۱۹۹۸, pp. ۸۹-۹۰
[63] *The Bible The Biography*: by Karen Armstrog-۲۰۰۹
[64] The History of the Scripture through Ages-۲۰۰۵
[65] *The Bible The Biography*: by Karen Armstrog-۲۰۰۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲: ددوهمې ميلادي پيړۍ په منځ کي دنوی عهدنامې ۲۷ کتابونه پوره شول اوڅلور انجيلونه معتمدشول، حال داچي نورانجيلونه هم موجودوو،لکه انجيل تامس(۵۰ ميلادی) چي دادحضرت عيسی عليه السلام دخبروټولګه وه،نورانجيلونه هم لکه:
Nazarenes, Ebionites, Quelle, Hebrew[٦٦]

۱۳: وموږته بالکل دامعلومه نه ده چي انجيلونه چاليکلی دي؟ کله چي دلومړي ځل لپاره ښکاره شوه دادنوم ورکوکسانوپه نامه سره وو،يعنی ليکوالان ئې نه درلودل؛ وروسته ئې دکليساؤ دمشهورو شخصيتونوپه نامه سره ونومول اووهغوی ته ئې منسوب کړل او اکثره ليکوالان يې يهودي عيسايان وو.[٦٧]

۱۴: (کتاب مکاشفه) يوزهرجن کتاب دی،خپله کليساورڅخه نفرت کوي،له همدې کبله ئې دبايبل اخری کتاب کړيدی.[٦٨]

۱۵: دکتاب پيدايښت په لومړی باب کي چي په ٦ ورځوکي داهرڅه پيداشويدی دااحمقانه خبره ده اودابې عقلي ده.[٦٩]

۱٦: (W.Whiston) په ۱۷۴۵ ميلادي کال کي دعهدنامې جديد (نوی تړون)داسی متن خپورکړ چي په هغه کي دتثلث رد،داچي خدای په حضرت عيسی عليه السلام کي حلول کړی دی ددې رد،اودادعوه ئې هم وکړه چي دادکليسادمشرانوله لوری پر موږ تړپل شوی دی، په ۱۷۲۰ ميلادی کال ئې انجيل برناباس خپور کړچي په هغه کي دالله وحدانيت شته نه تثليث، نورو له ده سره په يوه خوله وويل چي دبايبل اصل حقيقت معلومول دامکان څخه ليری خبره ده.[۷۰]

---

[٦٦] Akenson ,*Surpassing Wonder*, pp>۲۲۹- ۲۴۳
A Collection of these Gnostic gospels was discovered at Nag Hammadi in Egypt in ۱۹۴۵

[٦٧] Fridricksen, Jesus p ۱۹

[٦٨] what is scripture?

[٦٩] On The Confusion of Tongues

[۷۰] What Really Jesus say?

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۷: په ۱۸ میلادی پېړۍ کې چې کله جرمنی علماء بایبل مطالعه کړنووئې ویل چې دبایبل لومړی پنځه کتابونه (تورات) چې وحضرت موسی علیه السلام ته منسوب دی دادمختلفو لیکوالانو لیکنه ده،ددوی لیکنې بیلې دي،په یوه کتاب کې وخدای ته (ایلوهم)Elihim په بل کتاب کې ورته یهوه Yehwhe ویل شوی دی اوداسی نور... اختلافونه ډېردي نومورپه جرأت سره ویلای سوچې داپنځه کتابونه دیوه کس(حضرت موسی علیه السلام) لیکنه نه ده.[۷۱]

۱۸: ښاغلی ډیویټ په ۱۸۰۵ میلادی کې وویل چې (کتاب استثناء) چې دتورات اخری کتاب دی داپه یوسیاه کې په ۷۰۰ قبل المیلاد کې لیکل شویدي، له ده سره پروفیسر هرمن هپفلډ(۱۷۹٦- ۱۸٦٦) هم اتفاق وکړ.[۷۲]

۱۹: داسی هم شوي دي چې یوه کاتب حاشیه لیکلې وي اوهغه بیاپه متن بدل شوی وي داسی غلطیاني په بایبل کې زښته شته.[۷۳]

۲۰- دعهدنامه قدیم (دپخواني تړون) دمستندونسخوشتون هیڅ اعتبارنلری.[۷۴]

۲۱- دموجوده تورات زیاته برخه دحضرت موسی علیه السلام لیکنه نه ده، ددې لیکونکي ډیرزیات دي.[۷۵]

۲۲- په کوم وخت کې چې انجیلونه لیکل شوي دي په دې وخت کې دخدای په هکله توهم اوخیالات ډیروه،نوله همدې کبله دعیسائیت نشواونماپرتوهم اوخیالاتوباندی ولاړه ده.[۷۶]

---

[۷۱] The History of the Bibel ۱۹۹۰
[۷۲] The Origin of the Bible-۱۹۸۸
[۷۳] قاموس الکتاب،پاڼه ۱۲۵، لیکوال: ایس ایف خیرالله، خپرونکي مسیحی اشاعت خانه ۳۶ فیروزپورروډ لاهور۲۰۰۸-
[۷۴] American People*s Encyclopedia, vol. ۳. ۴۲۰
[۷۵] Dr.E.Sellier: Introduction to the Old Testament, English Translation by W. Montgomery, London ۱۹۲۳
[۷۶] John Lewis: Religions of the World Made Simple< London

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۳-** په بایبل کي به کیدای شی دوحی رنګ ګډوي، خواوس چي کومي نسخې ومورته پاتې دي هغه ټولی سره ټوټه ټوټه دي.[۷۷]

**۲۴-** دبایبل (عهدنامه قدیم) زیاته برخه داسرائیلوپرمحیط، ددوی پرعقلي اوسیاسي تجربوباندی راڅرخي، په اصل کي ددوی هیڅ لیکوال هم نه دی معلوم چي چالیکلی دي؟ په عمومي ډول سره داسی ویل کیږی چي انبیاء،پوهانو،مناجات لیکونکو، رسولانو اوکاهنانولیکلی دي چي په دې هکله هم لږمعلومات شته.[۷۸]

**۲۵-** ددې نسخواکثره لیکوالان نامعلوم دي په واقعیت کي، یا کیدای شی په اصل کي دلیکوال اخلاص پکښې وي خو، اوسنی بڼه ئې درسته نه ده.[۷۹]

**۲٦-**په یهودوکي دارواج وو چي یوه نسخه به ئې وپخوانی نبی یا رسول ته منسوبول لکه حضرت موسی علیه السلام یاعزراته داپه یهودي ټولنه کي یوعادی کارؤ، نوداسی ویلای شی چي داکتابونه چي دوی ورته منسوب کړیدی په اصل دې خلکونه دی لیکلی.[۸۰]

**۲۷-**دیهودوخیالی کیسې اولیکنې اوس بایبل شو!!!![۸۱]

**۲۸-**دانجیلونواوکتاب اعمال په اصل کي دنوم ورکوکسانولیکنې وې ددوی نومونه اوهرڅه وروسته ورسره ضم شول.[۸۲]

**۲۹-**په ۱۹ پیړۍ کي ډیروعیسایی علماء دارد کړل چي یوحناانجیل دی دیوحنالیکنه وي،اوهمدارنګه ئې وویل چي دامشکله ده چي یوڅوک دامعلومه کړی چي څلورم انجیل چالیکلی دی؟[۸۳]

---

[۷۷] Dr.Maurice Bucaille: The Bible, The Quraan and Science
[۷۸] The New Funk and Wagnall*s Encyclopedia, New York ۱۹۴۹
[۷۹] Stanley Cook: Introduction to the Bible ۱۹۵۶
[۸۰] Bratton*s History of the Bible
[۸۱] Collier*r Encyclopedia
[۸۲] Encyclopedia.Brit ۱۹۷۳
[۸۳] Collier*r Encyclopedia

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۰-کله چې ودې مقدسونسخوته وکتل شی نولکه چې ورسولانوته ئې منسوب کړیدی هم هغسی توکي پکښې نشته.[۸۴]

۳۱- کوم بایبل چې اوس زموږسره شتون لری په همدغه شان بایبل په څلورمه عیسوی پیړۍ کې موجودنه ؤ.[۸۵]

۳۲- دبایبل هیڅ داسی نسخه شتون نلری چې خپله لیکوال لیکلې وي اوهغه تصدیق کړی اویامهرکړې وي.[۸۶]

۳۳- بایبل (۲۴۰۰۰) نسخې لیکل شویدی خودوې نسخې ئې یوشانته نه دي.

۳۴- دهغه بایبل په سریزه کې چې دپاپ له لوری تصدیق شوی دی اوپه ټوله نړۍ کې زیات لوستونکي لری اومحبوبیت لری داراغلی دی:

داڅلورانجیلونه دحضرت عیسی علیه السلام ژوندپاڼه نه ده بلکې دادعیسایانوخپل افکاراوتخیل دی.

دحضرت عیسی علیه السلام نسب پاڼه چې په انجیلونوکې راغلې ده دادحضرت عیسی علیه السلام درسته نسب پاڼه نه ده.

داخبره شکمنه ده،چې څه چې په انجیلونوکې لیکل شوي دي اووحضرت عیسی علیه السلام ته منسوب دي چې دادي په واقعیت کې دحضرت عیسی علیه السلام ویناوي وي که یا؟.[۸۷]

۳۵- بروس متزروایی:

دنوي عهدنامې دیوناني نسخې ۵۸۴۷ نسخې لیکل شوي دي اودا نسخې ئې یوشانته نه دي،داوسنی نوی عهدنامې کتابونه په دې شان نه دي لکه په یوناني

---

New Catholic Encyclopedia
[۸۴] Encyclopedia.Brit ۱۹۷۳
[۸۵] Encyclopedia Amricana
[۸۶] Funk And Waggnall*s Encyclopedia>
[۸۷] The New American Bible, the new catholic translation

(c) ketabton.com: The Digital Library



نسخې کې چې دي،ددې نسخې ۲۸۱۱ نسخې په واړه قلم لیکل شوی دی،په ۹ میلادي پیړۍ کې ۲۲۷۹ نسخې تحریف شوي دي،یواځې ددې نسخو۳۰ نسخې د۹ میلادي پیړۍ مخکې ویل کیدلې اوبس.[۸۸]

۳۶- بارټ ډی ارمن (Bart D. Ehrmann) وایی:
کله چې موږدبایبل یوه نسخه دبلې نسخې سره مقایسه کړه نویوې نسخې دبلې نسخې څخه د(۲۰۰۰۰- ۳۰۰۰۰) توپیرونه درلودل چې داډیردي.
په ۱۶۱۵ میلادي کال کې چې دنوی عهدنامې لومړی یوناني نسخه وړاندی شوه ډیرداسی شیان پکښې وه چې په اصلي نسخې کې نه وه.
۳۷- ټیډي بیزا(Teddy Beza) وایی:
دبایبل دبازنطي اویوناني فاسدونسخوڅخه په ۱۵۶۵ میلادی او۱۶۰۴ میلادي کال کې یوه تحریف شوې نسخه جوړه شوه چې ودې ته کنګ جیمزبایبل (King James Bible) وایی.
۳۸- قسطنطین وان (Constantin Van Tischendorf) وایی:
کله چې موږدنوی عهدنامې اوسنی بڼه داصلي نسخې سره وکتل نو(۱۴۸۰۰) بدلونونه پکښې راغلی وه، دبیلګې په ډول سره دحضرت عیسی علیه السلام په هکله مختلفی کیسې،په اصلي نسخې کې تثلیث نشته یعنی لاندی ایاتونه نشته:
درې دي چې ګواهې ورکوی په اسمان کې پلار،ځوی اوروح القدس اودادرې سره یو دي. (لومړی لیک دیوحنا ۵: ۷- ۹)
په اصلي نسخه کې دیوحناانجیل ۸ باب : ۱- ۱۲ پوری چې دیوې زناکاری ښځې کیسه ده نشته.

---

[۸۸] Text for the Newtestament/Bruece Metzger)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دحضرت عیسی علیه السلام ختل واسمان ته چي په مرقوس انجیل ۱٦ باب:۱۹
اوهمدارنگه لوقاانجیل ۲۴ باب: ۵۰- ۵۳ اوهمدرانگه اعمال درسولانولومړی باب:
۹- ۱۱ په اصلی نسخه کي نشته.
که چیری موږسینایی اوواتیکانی (وطیقاني) نسخه سره مقایسه کړونوددې
دوونسخوپه منځ کي (۳۰۳٦) اختلافونه شته دبیلگې په ډول سره:
په انجیل متی کي- ٦٥٦ اختلافونه
په انجیل مرقوس کي- ٥٦٧ اختلافونه
په انجیل لوقاکي - ۷۹۱ اختلاقونه
په انجیل یوحناکي - ۱۰۲۲ اختلافونه یودبله سره لري.
۳۹- عیسایی عالم فاضل پروفیسربلیک هارډ وایی:
که موږددې دروانجیلونو(مرقوس،متی، لوقا) وسلني ته راشو نوویلای شو چي:
دلوقاانجیل ٪۴۵ سلنه اودمتی انجیل ٪۱۴سلنه دمرقوس انجیل څخه اخیستل
شوی دی، بیادلوقا٪۲۵سلنه دمتی د٪۲۳سلنه سره برابره ده، یوائځی ٪۲۰سلنه
دلوقاانجیل دنوروانجیلونوڅخه بېل دي، اودمتی انجیل دنوروڅخه ٪۳۵سلنه بېل
دی،نوموږداپه جرائت سره ویلای شوچي کله چي یوانجیل لیکل شوی دی، نوهغه
انجیل دبل انجیل لیکوال مطالعه کړی دی اوپوره اخذئې ورڅخه کړیدی یاپه بل
صورت یوانجیل دبل انجیل سرچینه ده..
۴۰- هانس کونگ[۸۹] (Hans Kung) پخپل کتاب [۹۰] کي وایی:
هیڅوک دانشی ویلای چي دنوی عهدنامې کتابونه له اسمان څخه رانازل شوي
دي،وبل لورته موږویلای شوچي داانسانانولیکلی دي اوله انسانانوڅخه ئې سرچینه
اخیستې ده،په ځانگړی ډول سره که موږدلوقاانجیل ۱باب: ۱- ۵) وگورو.

[۸۹] Dirctor: Institure of Ecumenical Studies- Germany
[۹۰] Infallible?

(c) ketabton.com: The Digital Library



ای خوږه تیوفیلوسه! ډېروخلکوپه دې لا س پورې کړی دی چي دهغه واقعات ترتیب واره بیان کړی چي کوم چي زموږپه منځ کي تیرې شوي دي؛بلکې هغوی موږته خبرې حواله کړي دي اوچاچي دا واقعات دسرنه پخپلوسترګولیدلی وې اودزیری خادمان وه نوزه هم په خپل وارسره ای خوږه تیوفیلوسه! ستادپاره دپوره تحقیق نه وروسته داټولې خبرې په ترتیب سره نقل کوم، داددې لپاره چي تاته دهغه خبروپه هکله صحیح معلومات درکړم دکومونه چي ته خبرکړی شوی ئې.
(دلوقاانجیل لومړی باب: ۱- ۵)[91]

## هغه انجیلونه چي داسلام دراتګ څخه مخکي موجود وه:

۱: دمصریانوانجیل ، چي ددوهمې پېړۍ په منځنیوختونوکي وو۔
۲: دعبریانوانجیل په لومړۍ پېړۍ کي۔
۳: دپطرس انجیل په دوهمه پېړۍ کي۔
۴: دپولس انجیل په دوهمه پېړۍ کې۔
۵: اندریاس انجیل۔
۶: دبرناباس انجیل
۷: دبرتولوماس انجیل
۸: دجیمز انجیل
۹: دقدیوس انجیل
۱۰: داپلس انجیل
۱۱: دباسیلیدس انجیل

[91] انجیل شریف، اول جیبي چاپ ۱۹۹۶ میلادي، پاکستان بایبل سوسایټی

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲: دکرینتوس انجیل

۱۳: دابیونتس انجیل

۱۴: دحواانجیل

۱۵: داسخریوطی یهوداه انجیل

۱٦: دحیوه انجیل

۱۷: دمریم انجیل

۱۸: دستایس انجیل

۱۹: دکامیل انجیل

۲۰: دفلیپ انجیل

۲۱: دلوقاس انجیل

۲۲: روبنتیاانجیل

۲۳: دمارکیون انجیل

۲۴: دنیقودیمس انجیل، چي ددې سپېڅلې رسالې په لاندی ډول سره دي:

۱: دعیسی المسیح حکمت

۲: اپوکریف یوحنا

۳: دمریم نسل

۴: داندریاس اعمال

۵: دیوحنااعمال

٦: دپولس اعمال

۷: دپطرس اعمال

۸: دپطرس موعظه

۹: دتوماس اعمال

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰: دحوای دروازې موعظه

۱۱، ۱۲ دلومړی اودوهم کلیمانټ لیکونه

۱۵، ۱٦ دحضرت مریم دبکارت په هکله دکلیمانت لیکونه

۱۷، ۱۸ جیمز ته دکلیمانت لیکونه

۱۹: داگناتیوس لیک

۲۰: دپولیکارت لیک

۲۱ او ۲۲، لوروکیانواواسکندریانوته دپولس لیکونه۔[۹۲]

## دبایبل پخوانی نسخې

۱- سینایی نسخه (Codex Sinaiticus):

دانسخه په (۱۸۴۴) میلادی کال کې مشهورعالم ټشنډ ارف دسیناپه غره کې وموندل ،ودې نسخې ته الف وایی،داسی گمان کیږی چې دابه په څلورمه پیړۍ کې لیکل شوی وي،په دې نسخه کې زیاته برخه دعهدعتیق شته،مگرهغه هم بشپړه نه ده،دنوی عهدنامې هغه برخې پکښې دي چې دبایبل برخه نه ده، لکه دبرناباس لیک اوداسی نورودې ته د(اې) نوم روکول شوی دی اودانسخه په برټش موزیم کې پرته ده.

۲-۱ سکندریه نسخه (Codex Alexanderinus):

دانسخه هم په برټش موزیم کې پرته ده،ودې نسخې ته د(A)نسخه ویل کیږی،داپه ۵ میلادي پیړۍ کې لیکل شوې ده،دالاهم پوره یقینی نه ده چې کله لیکل شوی ده،داهم مکمله نسخه نه ده،په دې کې هم عهدنامه عتیق شته،په دې

[۹۲] Encyclopedia of Britannica, ۱۳th edition, vol ۲. ۱۷۹l, ۱۸۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي هم دنوی عهدنامې هغه برخی شاملی دي چي په اوسني بایبل کي نشته،لکه دکلیمنټ لیکونه اوداسی نور....

۳- وطیقانی نسخه (Codex Vaticanus):

دانسخه دپاپ په کتابتون کي پرته ده ودې نسخې ته (B)،ویل کیږی،په دې نسخه کي عهدنامه قدیم شته اوډیره نامکمله ده،دانسخه (۷۵۹) پاڼې ده،چي په دې نسخه کي پیدایښت اوزبورونه یوڅه شتون لری داهم دڅلورمي میلادی پیړی ده دانسخه په ۱۴۸۱ میلادي کال کي وموندل شوه.

۴- افرائیمی نسخه (Codex Ephraemi Syri Rescriptus):

دانسخه دپاریس په کتب خانه کي موجوده وه،داهم په پنځمه میلادي پیړی کي لیکلې شویده، په دې نسخه کي یوڅه دعهدنامه قدیم اویوڅه دعهدنامه جدیدبرخې شتون لري.په ۱۳ میلادي پیړی کي یوڅه خرابه شوې ده، اونورڅه وربانَدی لیکل شوي دي. په دې نسخه کي دالاندی برخې دبایبل شتون لری:

- کتاب پیدایښت ابواب ۱- ۴٦
- زبور ۵- ۱۳۷
-دعبرانیانوپه نامه لیک ۱۴-۹

۵- بیزائی نسخه (Codex Bezae):

دانسخه دکیمبرج په پوهنتون کي موجوده وه دانسخه په (۱۵٦۲) میلادي کال کي وموندل شوه، دانسخه په دووژبوباندی لیکل شوې ده،په یوناني ژبه اوپه لاطیني ژبه باندی،ودې نسخې ته (D) ویل کیږی،داهم دپنځمې پیړی ده،دڅېړنومطابق دانسخه هم د(۵- ۷) میلادي پیړی په منځ کي لیکل شویده،چي لیکوالان ئې معلوم نه دي.

٦- دمرداري بحیرې طومار:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دانسخه په(۱۹۴۷- ۱۹۵۳) میلادي کي دمرداري بحیرې په غارونو کي ومندل شوه،داویل کیږی چي دانسخه ترنورنسخوپخوانی ده،البته داکره خبره ده چي ددې نسخې تعلق د(۱۰۰) ق م څخه تر(۱۰۰) میلادی کال پوری ده،په دې نسخه کي هم عهدنامه قدیم شته اوهم عهدنامه جدیدشته،داهم غیرمکمله ده.[۹۳]

## دعهدعتیق/قدیم عهدنامه پخوانی نسخې درې دي

۱- عبراني نسخه:

دادیهودوپه نزدمعتبره ده اوهمدارنګه وپروتستانوته هم پوره اعتبارلري.

۲- یوناني نسخه:

دانسخه وعیسایانوته د۱۵ میلادي پیړی څخه تر۱۷ میلادي پیړی پوری معتبره وه،وبل لورته عیسایی نړی وعبراني نسخې ته دیوې تحریف شوي نسخې په سترګه ګوري، یوناني نسخه په یوناني او مشرقي کلیساؤکي خورامعتبره ده، دادوارې نسخې دعهدعتیق ټوله کتابونه لري،

۳- سامري نسخه:

دانسخه وسامریانوته دمنلووړده،دانسخه په حقیقت کي عبراني نسخه ده البته په دې نسخه کي دعهدعتیق ۷ کتابونه شتون لري.

---

[۹۳]قاموس الکتاب،پانه ۱۲۶، لیکوال: ایس ایف خیر الله، خپرونکي مسیحی اشاعت خانه ۳۶ فیروزپورروډ لاهور۲۰۰۸-

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دعهدنامې قديم پخوانۍ نسخې هم يوشانته نه دي

دبايبل هره نسخه دبلې نسخې څخه که هغه نوې نسخه وي اوکه پخوانۍ نسخه وي ډېرتوپيرلري چي موږبه اوس دپورته ذکرشوی دبايبل دپخوانيو نسخوتوپيرونه دبيلګې په ډول سره بيان کړو:

دحضرت آدم عليه السلام څخه دحضرت نوح عليه السلام ترتوپانه پورې زمانه اووخت په عبراني نسخه کي (١٦٥٦) کاله دي،په يوناني نسخه کي (٢٢٦٢) کاله دی،په سامري نسخه کي (١٣٠٧) کاله دی.

دحضرت نوح عليه السلام دتوپان څخه نيولې ترابراهيم عليه السلام پورې په عبراني نسخه کي(٢٩٢) کاله دي،په يوناني نسخه کي (١٠٧٢) کاله دي، په سامري نسخه کي (٩٤٢) کاله دي.[٩٤]

اوداسې نورترشمېروتلی توپيرونه چي هيڅوک نشي کولای چي داپېچلې معماحل کړي، دومرۍ توپيرونه ئې شته لکه دځمکې اواسمان ترمنځ نوچي په پخوانيونسخوکي ئې داسې توپيرونه، تحريفات اوغلطيانې شته نواوسنۍ نسخې به ئې څنګه درستې وي ؟!! داهيڅ امکان نلري.

## هفتادي ترجمه (Septuaginta) سپتواګنتا/سپتواجنتا:

ددې لغوي معناده (٧٠ بزرګ خلک)،په عربي ژبه کي ورته سبعينه نسخه وايی،دادعهدنامې قديم ترټولو پخوانۍ نسخه ده، چي په٣ قبل الميلادکي دعبراني څخه ويوناني ژبې ته داژباړه وشوه،ودې ته (Lxx) وايی چي په رومي حساب (٧٠) دي، ديهودود رواياتو مطابق داسکندريې دکتب خانې ساتونکي دمصر دپاچابطليمس اول (٢٨٥ ق م- ٢٤٦ ق م) څخه غوښتنه وکړه چي ديهودومقدس

---

[٩٤] بايبل سے قرآن تک ، ج- ٢،ص- ١۴- ١٨ (اظہارالحق کااردوشرح )ليکوال: شيخ الاسلام حضرت مولانامحمدتقی عثمانی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتاب په دې کتب خانه کي کښېردي، پاچابطلیمس دبیت المقدس دمشرکاهن څخه غوښتنه وکړه چي داکاروکړي، پاچا (۷۰) یهودي علماء دیوې مستندې نسخې سره یوځای واسکندریې ته ولیږل اوهغو داکارپه (۷۲) ورځوکي وکي یعنی هفتادی ژباړه ئې بشپړ کړله،په دې ژباړه کي ئې ټوله شکمن اواپوکریفه کتابونه شامل کړل، هغه متروکې نسخې چي خلکوورته توجه نه کوله هغه په دې نسخه کي ورگډې شولې.[۹۵]

له همدې کبله پروتستانودانسخه غیرقبوله اوردکړه اودایی وویل چي په دې نسخه کي مشکوک اومتروک کتابونه شتون لري چي هغه هیڅ ارزښت نلري.

## **دورژن (Version) اوژباړې ترمینځ توپیر:**

دورژن (Version) توری دلاتینی ژبې د(Versio) (ورژیو) څخه اخیستل شوی دی، چي معنی ئې ده (اړول، بدلول)، اوداتوری د (۱۵۸۲) میلادی کال راهیسی استعمالیږی.[۹٦]

په ځینوقاموسونوکي د(ورژن) معنی (متن اونسخه) لیکل شویدی[۹۷]؛ اوپه ځینونوروکي بیاپه لنډډول سره داسی لیکل شویدی:

(ورژن) عبارت دهغه متن، نسخې اوبیان څخه دی چي صورت ئې بدلون موندلی وی.[۹۸]

یاپه بل عبارت، (ورژن) یعنی بیل متن یاهغه متن چي دمخکني متن څخه توپیرولري.[۹۹]

---

[۹۵] قاموس الکتاب- پاڼه ۱۰۸۱، لیکوال: ایف ایس خیرالله، خپرونکي: مسیحی اشاعت خانه ۳۶ فیروزپورروډ لاهور۲۰۰۸

[۹۶] Merriam Webster*s Collegiate Dictionary, ۱۰th edition

[۹۷] بهیج انگلیسی پښتوسیند

[۹۸] Practical Combined Dictionary

[۹۹] Oxford Advanced Learner*s Dictionary ۷th edition (۲۰۰۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دبېلګې په ډول سره د(بايبل ) يوورڅن اوبل ورڅن چي وروسته به په تفصيل سره وربانډی بحث وشی، چي همدااصطلاح اوس پر هر بايبل باندی نوشته وی چي دا(اول ورژن دی)، دا(دوهم ورژن دی) اوداسی نور۔۔۔ اوهرورژن دبل ورژن څخه توپيرلري.

## **ترجمه (ژباړه) څه ته وايی:**

داتوری (ترجمه) دعربی ژبې توری دی چي په پښتوکې ورته (ژباړه) وايی، داتوری (اسم واحد مونث) دی چي معنی ئې:

ديوې ژبې څخه وبلې ژبې ته اړونه ده۔ [100]، ژباړه يوعام توری دی چي دادب په کورکي ددې استعمال زښته ډېردی، هره ټولنه اواولس ورسره اشنادی لکه دقرآنکريم ژباړه چي دنړۍ په بېلابيلوژبوکي شوې ده۔اوداژباړه وخپل ځانته يوه طريقه اوبنسټيزتوکي اواوصول لری، اوتقريباهراولس ورسره اشنا دی، داځکه چي ليکوالان دېوې ژبې څخه وبلی ژبې ته ژباړې کوی دبېلګې په ډول سره ناولونه، لنډې کيسې، تاريخی، کلتوری اواسلامی کتابونه اوداسی نور۔ کله چي دااصطلاحات ښه واضح اوروښانه شول نووروسته بيا په راتلونکوپاڼوښه پوهيدلای شی، داځکه چي کله موږدورژن خبره کوونوتاسی پوهيږی چي بېل متن دی اوکله موږدژباړې خبره کوو،په بايبل کي ورژن شته خوپه قرآنکريم کي ورژن نشته، دځمکې دکُرې دشمال څخه ترجنوبه پوری اوبيادختيځ څخه تر لويديځ پوری ټول يوقرآن عزيزدی ديوه پېښ،زبراوزيرپه اندازه يکښې بدلون نشته، البته قرآن کريم په مختلفوژبوسره ژباړل شوی دی.

[100] درياب، پښتولغت، مولفين قلندرمومند اوفريدصحرايی، ص۔ ۳۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په تورات کي (۷۰۰) ځلی راغلي دي چي دادخدای کتاب نه دی:

داوسني تورات په دې پنځوکتابوکي(پیدایښت، خروج، لاویان ،اعداد، استثنا) داراغلی دي چي ، موسی وخدای ته وویل اوخدای وموسی ته وویل، چي مطلب ئې دادی چي دریم سړي دا خبرې لیکلې دي، نه سیدناحضرت موسی علیه السلام؛ اوکه چیری لکه تاسی (عیسایانو) چي تورات دحضرت موسی علیه السلام کتاب بولی نوپکارداوه چي داسی لیکلی وای: چي ما(موسی) وخدای ته وویل اوخدای وماته وویل،هرځای وحضرت موسی علیه سلام ته دغایب (دریم) شخص توری استعمال شوی دی نه د (متکلم) لومړی شخص؛ چي داپوره ددې ثبوت دی چي دانه دسیدناحضرت موسی علیه سلام په لاس اوحکم لیکل شویدی اونه هم دخدای کلام دی بلکې داپه واقعیت کي په لایزال خدای جل جلاله اوحضرت موسی علیه السلام پوری له ځانه څخه جوړشوی بې هوده، لیکنې، کیسي اوکرښې دي؛ چي داپه حقیقت کي دلوی خدای جل جلاله اوحضرت موسی علیه السلام په حق کي گستاخي اوبې عزتي ده۔

زه اوس غواړم چي یوه بېلگه ئې وړاندی کړم.

اوسنی تورات دحضرت موسی علیه السلام کتاب نه دی

لکه په بایبل کي چي راځي:

۱: اوموسی دخدای بنده دخدای دفرمان مطابق په مواب کي وفات شو، اودمواب په یوه شله (وادی) بیت فغورکي ښخ کړل شو، چي تراوسه داقبروهیچاته معلوم نه دی، اوموسی دوفات پرمهال د (۱۲۰) کالووو، اوبنی اسرائیلودموسی لپاره دمواب په دښته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي (۳۰) ورځی وژړل، اودهغه مهاله راهیسی تراوسه په بنی اسرائیلو کي دموسی په شان بل پیغمبرنه راغی۔ (استثناء، ۳۴: ۴، ۵ اووروستني ایاتونه)

ایادااياتونه حضرت موسی علیه السلام لیکلی دی؟

ایادااياتونه دحضرت موسی علیه السلام په ژوندکي لیکل شویدي؟

ایاحضرت موسی علیه السلام ویوچاته حکم وکړچي داولیکه؟

ایادادالله جل جلاله وحی دی وحضرت موسی علیه السلام ته؟

ایاداسی بې بنیاده ، بېهوده اوسرگردانه توري والله ته منسوبول اویاهم دالله جل جلاله والوالعظم پیغمبرته منسوبول پوره توهین اوسپکاوی نه دی؟

۲: اواسرائیل ومخی ته ولاړل اودعدر(عادر)دبرج سره ئې پړاو واچاوه.

(پیدایښت ۳۵: ۲۱)

عدر(عادر) دبیت المقدس په دروازه کي یوه مناره وه چي دحضرت موسی علیه السلام څخه په سلهاوکلونه وروسته تعمیرشوي وه. چي پردې باندی ټوله عیسایی اوغیرعیسایی نړۍ په یوه خوله دي.

نوله دې څخه په ښکاره معلومیږی چي داکتاب حضرت موسی علیه السلام نه دی لیکلی بلکې دهغه څخه ډیرکلونه وروسته لیکل شوی دی.

۳: هغه عمالیقه اوکنعانیان چي پرهغه غره باندی اوسېدل پرهغوباندی ئې یرغل وکړاوهغه ئې ووژل اوهغوی ئې ترحرمې پوری وهل.

(اعداد۱۵: ۴۵)

همدارنگه د(حرمه) توری په استثناء ۱: ۴۴) کي راغلي دی ، داپېښه د یوشع بن نون علیه السلام څخه لاوروسته شوې ده، اوحضرت یوشع بن نون علیه السلام ترحضرت موسی علیه السلام وروسته ؤ، نوځکه موږویلای سوچي داپنځه کتابونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي دوی ورته تورات وایی داوروستوخلکولیکلی دي اوبیایی وحضرت موسی علیه السلام ته منسوب کړیدی.

اوداسی نور...

## کتاب یشوع دیشوع کتاب نه دی!

که موږدیشوع وکتاب ته راشونوپه دغه کتاب کي یشوع هرځای په غایب ضمیر(دریم کس) باندی لیکل شوی دی لکه یشوع وخدای ته وویل اوخدای ویشوع ته وویل چي داکتاب هم دریم سړی لیکلی دی،نه خدای ویشوع ته ویلی دی اونه هم یشوع وخدای ته ویلی دی، یوکس دااوریدلی دی اوبیایی لیکلی دی زه یی یوه بېلگه وړاندی کوم:

اوپس ددې خبرې داسی وشوه چي یشوع دنون ځوی دخدای بنده مړشو اوهغه دیوسل لسوکالوؤ... دافرائیم په کوهستان کي ئې ښخ کړ دجعس غره په قطب طرف.

(کتاب یشوع: ۲۴ باب:۲۹- ۳۱)[۱۰۱]

له دې څخه علاوه عیسایی علماء دیشوع دکتاب په هکله وایی:

ډاکټرلائټ فټ وایی چي داکتاب دفیخاس لیکنه ده.

کالون داسی وایی چي داکتاب دعزرالیکنه ده.

وانټل وایی چي داکتاب دسموئیل علیه السلام لیکنه ده.

هنری وایی چي داکتاب دارمیاه علیه السلام لیکنه ده.[۱۰۲]

څومری اختلافات پکښې شتون لري، دداسی اختلافاتودشتون سره سره به څوک ووایی چي دایوالهامي کتاب دی؟!!

---

[۱۰۱] دالله کلام، درمطبع برټش بایبل فارن سوسایټی لندن ۱۸۹۵

[۱۰۲] بایبل سے قرآن تک ، ج۔ ۱،ص۔ ۳۴۰ (اظهارالحق کااردوشرح )لیکوال: شیخ الاسلام حضرت مولانامحمدتقی عثمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوهمدارنګه دعهدنامه قدیم نورکتابونه...

داهم دنوم ورکي کس لیکنه ده،ده اوربدلي دي چي یشوع داسی مړشو او په دغه عمرؤاوپه دغه ځای کي ښخ شو،داچي ددې لیکوال دغه خبره به رښتني وي اوکه یادابېله خبره ده،داچي یشوع بن نون علیه السلام واقعاًد(۱۱۰) کالوؤ؟ اوواقعاً دی په افرائیم کي ښخ کړل شوی دی؟ داهم نه ده معلومه اوداسی نورې پوښتنې بې ځوابه دي؛دانه دیشوع کلام دی اونه هم دخدای کلام دی، اونه هم په دې کرښوکي کوم الهی حکم ، انساني ګټه اونورڅه نغښتي دي.

## عهدنامه عتیق ځکه دخدای کتاب نه دی!!!

تاسی به په دې ایاتوښه پوه شوي یاست چي دانه دخدای کلام دی اونه هم دحضرت موسی علیه السلام ویناده، اونه حضرت موسی علیه السلام دداسی پوچووینااولپاره رالېږل شوی ؤ، بلکې دادیوه داسی سړي وینااولیکنه ده چي دحضرت موسی علیه السلام دمرګه څخه دېرورسته ئې داسی ګنګوسې دخلکوڅخه اورېدلی اوبیائې لیکلی دي.

۱- دپنځوکتابونو(کُتُب خمسه) اکثره برخې دحضرت موسی علیه السلام څخه نه دي نقل شوي، داډېرې سرچینې سره یوځای شوی چي ځینی عیسایی علماوواوفاضلانوددې پنځوکتابولیکوالان ددوه درځنه څخه زیات بولی.[۱۰۳]

۲- په پیدایښت کي راځی چي ابراهیم علیه السلام پخپلو دښمنانو پسې تر(دان) ښاره پوری ولاړی. داایات هم نه پرموسی علیه السلام نازل شوی دی، اونه هم ابراهیم علیه السلام لیکلی دی؛ داځکه چي دموسی علیه السلام اوابراهیم علیه

[۱۰۳] Dr.E.Sellier: Introduction to the Old Testament, English Translation by W. Montgomery, London, (۱۹۲۳), pp. ۲۵/۲۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



السلام پرمهال ددې ښارنوم (لیس) وو، لکه چي په پیدایښت (۱۴: ۱۴) اوقاضیان (۱۸: ۲۹) کي راغلی دی۔

**۳-** عهدنامه قدیم(زوړتړون) دپخوانیوپوچو، بې معنا، بې مفهومه، تاریخې اونیموتاریخوکیسواوپېښواوتوهم نه ډکه یوه مجموعه ده، لکه چي (گلیډستون برېټن) پخپل یوکتاب کې چي د(بایبل تاریخ) په نامه سره یادیږی داسی لیکي: بایبل پرمنظوم، روایتی کیسو، تاریخي ، ولسي اوقومي پېښو اوهغونظموباندی مشتمل دی چي داسرائیلودپلرونوڅخه سینه په سینه راغلی دي؛ چي په دې کیسوکي سرگردانه اوغیرربښتنې کېسې ډېرې دی، چي داسی کیسې دپیدایښت په ۲۱ او ۲٦ باب کي په ابراهیم اوسحاق پوری تړل شوی روایات دي۔[۱۰۴]

**۴-** بایبل دداسی بی مفهومه کرښونه ډک دی چي یوانسان ئې هم نشی منلای، یوعقل ئې نشی منلای، یوذهن ئې نشی منلای؛ اودبایبل دکیسوتطابق یوه داسی پېچلې معماده چي دا (۲۰۰۰) کاله کیږی چي ښشفان، راهبان، پادریان اوپاپان په بوخت دي چي پایلې ئې په صفرکي ضرب دي، اوبس۔

اوپه اخرکي دبایبل ډېرومفسرینودامنلې ده چي بایبل دتناقضاتو (ټکرونو) ډک دی۔ چي پرټکرونوباندی پخپل ځای کي بحث کیږی انشاء الله۔

نوځکه دااوسنی تورات نه دموسی علیه السلام کتاب دی اونه هم الهی کلام دی۔

**۵-** ټول اهل کتاب په دې اتفاق لری چي لومړی تاریخ اودوهم تاریخ دعزراعلیه السلام دحجی علیه السلام اوزکریاعلیه السلام په پوره مرسته سره لیکل شوی دی، اوداهغه کیسې اوواقعات دی چي په یهودوکي مشهورې وې اوبیاورته دکتاب بڼه ورکول شوه۔

[۱۰۴] F. G. Bratton: op. cit, pp , ۸۵, ۸۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوکه چیرې بالفرض داومنل شي چي داتورات عزرالیکلی دی، نوځنګه به و منوچي دادحضرت موسی علیه السلام کتاب دی، اویادالله له لورې نازل شوی کلام یاکتاب دی؟ بلکي هیڅ کله نه۔ [۱۰۵]

٦- ډاکټرسکندرکیدس چي یومعتبر عیسایي عالم اوفاضل دی هغه دخپل یوکتاب (جدیدبایبل) په سریزه کي لیکي:

چي درې خبرې وماته په یقینی ډول سره ثابتی شویددي:

۱: اوسنی تورات دحضرت موسی علیه السلام لیکنه نه ده۔

۲: داکتاب په کنعان اویاهم په بیت المقدس کي لیکل شویدی۔

۳: ددې تورات وخت دداودعلیه السلام څخه مخکي اودحزقیال علیه السلام څخه وروسته نه دی ثابت شوی، چي ددې تورات دلیکولو وخت دحضرت سلیمان علیه السلام دوره ده، دادحضرت عیسی علیه السلام دپیدایښت څخه تقریبا (۱۰۰۰) کاله کیږی۔[۱۰٦]

۷- لوی فاضل عالم پادری وایی:

دحضرت موسی علیه السلام په وخت کي د خط اوکتابت رواج نه وو۔

چي دایوه ډېره په زړۀ پوری اومعقوله خبره ده، اوپرتهول تورات ئې دامهرورواهه دادحضرت موسی علیه السلام تورات نه دی، نه حضرت موسی علیه السلام لیکلی دی اونه هم د هغه په وخت کي لیکل رواج وو؛[۱۰۷] چي ددې زرینې ویناڅخه داجوته ده چي داتورات دحضرت موسی علیه السلام څخه ډېروروسته

---

[۱۰۵] بایبل بایبل سے قرآن تک ج۔ ۱، ص ۳۲۶(اظہارالحق کااردوشرح )لیکوال: شیخ الاسلام حضرت مولانامحمدتقی عثمانی

[۱۰۶] بایبل سے قرآن تک ج۔ ۱، ص ۳۳۰، (اظہارالحق کااردوشرح )لیکوال: شیخ الاسلام حضرت مولانامحمدتقی عثمانی

[۱۰۷] بایبل سے قرآن تک ج۔ ۱، ص ۳۳۳، (اظہارالحق کااردوشرح )لیکوال: شیخ الاسلام حضرت مولانامحمدتقی عثمانی

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکل شوی اوددې په منظورچې خلک ورته متوجه شی نوئې وسیدناحضرت موسی علیه السلام ته منسوب کړ۔

۸- په مجموع کې په ټوله بایبل کې غلطیانې دومرې ډېرې دي، چې په دقت سره دلوستلوڅخه وروسته به داویوکس ته معلومه شی چې داټول بایبل غلط دی، که یوه موضوع په لسوکتابوکې راغلې وې، نوهمدغه یوه موضوع به په ټولوکتابوکې سره بېله وي، اوداسی ډېرڅه به پکښې تر سترګوکېږی چې دموثقوتاریخونوپه حواله سره به غلط شی، اوبله داچې دبایبل هرپاڼه دبلې پاڼې سره په مخالفت کې ده، چې لوستونکې ته ضرورداپه ذهن کې راځی چې په دغو دواړو لیکنوکې یوه لیکنه ضرورغلطه ده؛ چې زه ئې بېلګه وړاندی کوم:

لکه په بایبل کې چې راځي:

هیڅ حرام زاده (ولدزنا) به دخدای وټولی ته داخل نشی اوترلسم پښته پوری به دده په نسل کې دخدای دټولی څوک رانشی۔ (استثناء ۲۳: ۲)

داپه دې غلطه ده چې حضرت داودعلیه السلام اودده ټوله کورنی پکښې شامله ده ترفارض پوری، اوحال داچې فارض دزناڅخه پیداشویدی، چې بیان ئې دپیدایښت په ۳۸باب (۵۔ ۱۹) بیاد (۲۷۔ ۲۹) کې راغلی دی،داډېره دشرم نه ډکه کیسه ده چې په بایبل کې ئې دفحشاء ترسرلیک لاندي وګوری، اوحال داچې حضرت داودعلیه السلام دفارض په لسم پښت کې دی چې دمتی اولوقاپه نسب پاڼوکې شامل دی،

لکه په بایبل کې چې راځي:

داود دیشی زوی، یشی دعوبید زوی، عوبید دبوعز زوی، بوعز دسلمون زوی، سلمون دنحشون زوی، نحشون دعمیناداب زوی، عمیناداب درام زوی، رام دحصرون زوی، اوحصرون د فارض (فرص) زوی۔ متی (۱: ۳۔ ۷)۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



وبل لورته که موږدبایبل داایاتونوته وګورونودتولی عیسایی نړي لپاره یوه حیرانوونکې پرېکړه ده اوهغه داچي که یوڅوک ولدزنا (حرامي) ؤ نوترلسم پښته پوری به دهغه دِلي څخه څوک دخدای وټولی ته داخل نشی یعنی دخدای رحمت ورڅخه بنددی، اوبل داچي ترلسم پښته پوری به داټول (ولدزناوي) وی ایاپه عیسایی نړۍ کي داسی څوک شته چي ددې ایاتومطابق (حرامي/ولدزنا) نه وي، اویاداسی څوک شته چي دخدای په ټولی کي دی داخل وي نه هیڅکله نه؟؟؟؟ نوکه داایات رښتیاشی نوپخپله دعیسایی نړۍ لپاره ئې پرېکړه شرموونکې اوهیښوونکې ده.

# اوسنی انجیل(نوې عهدنامه /نوی تړون) یازیړی دخدای کتاب نه دی!!!

په دې څلوروانجیلونوکي دسیدناحضرت عیسی علیه السلام دپیدایښت څخه نیولې، دده دژوندحالات، وده ته منسوبې ویناوې اودده مزعومه مرګ هم پکښې شامل دی، اوپاته دی نه وی چي وده ته ئې (٦٦) په اصطلاح پلرونه اونیکونه هم پیداکړی دي،حال داچي هغه پلارنه درلودی، اودده دوې مختلفې نسب پانې هم پکښې دي؛ اوداوهرچاته جوته ده چي داهغه وحی نه دی چي دخدای جل جلاله له لوری پرسیدناحضرت عیسی علیه السلام باندی نازلې شوې وې، برعکس داځینوخلکودخپلوځانوڅخه لیکلی دي، چي ددې دواړوشجرو(نسب پاڼو) ټکرونه ئې پردې دلالت کوی چي دادخدای کلام نه دی. .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دلوقاانجيل دخدای کلام نه دی

دلوقاانجيل په پيل کي ليکي:

ای خوږه يتوفيلوسه! ډېروخلکوپه دې لاس پورې کړیدی چي دهغه واقعاتوترتيب واربيان وکړی کوم چي زموږپه مينځ کي تېرې شوې، بلکې هغوی موږته خبرې حواله کړيدي اوچاداواقعات دسرنه پخپلوسترګوليدلی وو اودزېرې خاوندان وو، نوزه هم په خپل وار ای خوږه يتوفيلوسه! ستادپاره دپوره تحقيق نه پس داټولې خبرې په ترتيب سره نقل کوم دادرې لپاره چي تاته دهغوخبروپه هکله صحيح معلومات درکړم دکومونه چي ته خبرکړشوی ئې. (لوقا ۱: ۱ـ۵)

که چيرې اوس موږددې اياتوڅه تجزيه اوڅېړنه وکړونودابه په لاس راشي چي داکيسې په هغه وخت کي هرچاليکلې، پرهرپېنډله اوکلی کي هرڅوک ليکوال وو، اوچي هرچاهرڅه ورسره يوځای کولای نوهيڅ پروائې نه درلوده، دلته لوقاپه سپينوخبروپيل کوی، اوداوموږته ښکاره کوی چي زماداټول انجيل زماپه اندماترتيب کړيدی، اوزماپه شان ډېروخلکوداسی دځانه انجيلونه ليکلی دي؛ بله خبره داده چي لوقادلته دانه وايي چي ياوماته وحی شوی دي، اوياهم زه داانجيل دروح القدس (جبرائيل عليه السلام )په واسطه ليکم، برعکس دی داوايي چي زه هم دنوروعاموخلکوپه شان يوڅوک يم ، اوبل داچي لوقادخپل ځان بهتروالی هم نه ښکاره کوی، چي زمارتبه څومره ده.

نه لوقادلته داڅرګندوی چي داحکم وماته سيدناحضرت عيسی عليه السلام کړيدی چي زه بايدداوليکم، اوياهم ده امرراته کړيدی چي زه بايدليکل وکړم بلکې کيسه ډېره وختی تېره شوې ده، اواوس يوڅوک دلوقاپه نامه راولاړېږی اويوڅه ليکي، داځکه چي که کيسه ژرتيره شوی وی بوبياضروروهرچاته ئې رښتيااودرواغ معلوميږی ، نوځکه داپه هيڅ صورت دخدای کلام نشی کيدلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوي عهدنامه هم دزړې عهدنامې په شان دغلطیانو، تکرونو، مبهمو اوغیرواقعې کیسویوخورجین دی.

## په اوسني انجیل کي غیرواقعې کرښې

دبېلګې په ډول سره:

عیسی چي دروح القُدُس نه معموردارډُن سیندنه واپس شواوروح القُدس هغه بیابان ته بوتلواوترڅلوېښتوورځوپوری په بیابان کي دابلیس په لمسون کښې وو.

(لوقا ۴: ۱ـ۳)، متی۴: ۱ـ ۱۱، مرقوس ۱: ۱۲ـ ۱۳)

اوس که موږداایات دانصاف په تله کي وتلونو دابه ښه روښانه شی، چي دخدای جل جلاله یولوی پېغمبربه څنګه (۴۰) ورځی دابلیس په ازموینه کي پاته کیږی، اوابلیس به تربیت ورکوی العیاذبالله، ابلیس څوک دی چي دخدای یولوی پېغمبرامتحانوی، اوهغه ته تربیت ورکوی؟

ایادسیدناحضرت عیسی علیه السلام څخه مخکي ونورپېغمبرانوته هم ابلیس درس اوتربیت ورکړیدی؟

اوحال داچي دنړی په ټولومذهبونواومفکوروکي شیطان دانسان دښمن دی، اوشیطان دتل په شان یوانسان وهلاکت، ضلالت، اوددوږخ وکندې ته چي وس ئې کیږی غورځوی.

چي ددې ایات څخه داپایله اخیستل کیږی چي دانه دخدای کلام دی، نه دیوه نبی کلام دی، نه دیوه حواری (دعیسی علیه السلام دمرید) کلام دی بلکې دادیوه بې عقله، بې وقوفه، اوپه هرڅه ناخبره دیوه داسی سړی لیکنه اوتخیل دی چي وهغه ته توراوسپین یوشان ښکاره کېدل.

بله هیښونکې په بایبل کي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیاابلیس هغه پریوه لوړه وخېژاوه اودنړۍ ټولې پاچاهۍ ئې دسترگوپه رپ کې ورته ښکاره کړې۔ (متی ۴: ۵)

ایاهلته په بیت المقدس اویادبیت مقدس په شاوخواکي داسی لوړ ځای شته چي ټوله دمځکې کُره ورڅخه ولیدل شی؟

ایاداسی لوړځای شته چي دنړۍ دوې یادرې پاچهۍ ورڅخه ولیدل شی؟

نه هیڅکله نه!!!!

دنړۍ ترټولولوی غردهمالیادغرونوپه لړۍ کې دایوریسټ غردی چي لوړه څوکه ئې په ټوله نړۍ کې هسکه ده اوحال داچي که یو څوک پرهغه ودرېږی، اواوسنی عصری دوربین هم ورسره وی، لاامکان نلری چي نیمه نړۍ دې ووینی؛ نوابلیس په هغه وخت داټوله نړۍ څنگه ورته ښکاره کړل؟

بیاوایی:

زه به داټولې پاچایانې وتاته درکړم داځکه چي ددې اختیاروماته راکړل شویدی۔ (متی ۴: ٦)

داټولې پاچایانې چاوابلیس ته ورکړې دي؟

ایاشیطان کولای شی چي دانسانانوپاچاهی اشغال کړی؟

ایااوس هم واتیکان په دې باوردی چي داټوله نړۍ دابلیس پاچایانې دي؟

داسی پوچې ، دحقیقت نه لیرې کیسې اودروغ څوک منلای شی چي دادی العیاذبالله دالله جل جلاله کتاب وی، دانه دخدای کلام دی، نه دخدای د استازی کلام دی ، نه دصحابی کلام دی اونه هم دیوه هوښیار اومصلح سړی کلام اولیکنه ده۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دپولس لیکونه ناقص دي:

په نوی عهدنامه کي دپولس لیکونه هم شتون لری، چي پولس به پخپل ځای کي دروپېژنو، دپولس دلیکونوپه هکله لیکي:

پولس خپل لیکونه په ناقصه یوناني ژبه سره لیکل، دالیکونه ئې په چټکی سره لیکل؛ له همدې کبله دده لیکونه غیرواضح، نیمګړي اوبې ترتیبه وو اودده لیکونه دډېروجذباتوله کبله غیرمعتدله او مبهم وو اوده ته داجوته نه وه چي دده داناقص لیکونه به بیادنوې عهدنامې یوه برخه ګرځی، کیدای شی ټوله نوې عهدنامه همداسی وي هرلیکوال چي لیکله دائې نه ګڼله چي دابه دخدای کلام شي، چي وروسته کلیساټوله دخدای په کلام کي داخل کړل۔[۱۰۸]

ډاکټرموریس بوکائی دنوی عهدنامې په هکله وایی:

په دې لیکنوکي ډېرلږدوحی اثرپه سترګوکيږی، اونن سباچي کوم کتابونه وموږته پاته دي دادانسانانودلاس کسب اودوی موږته پرې ایښی دي اووحی ئې ټولې دړې وړې کړې دي اوهیڅ حقیقت ئې نه دی پکښې پرې ایښی۔

فاسټس چي د(مانی کیز)دیوې عیسایی ډلې یوعالم دی وایی چي:

داوهرچاته ترلمرسپینه ده چي نوې عهدنامه نه حضرت عیسی علیه السلام لیکلې ده، اونه هم حوارییونولیکلې ده بلکي دانوم ورکو خلکولیکې ده ، اودده(حضرت عیسی علیه السلام) حوارییونوته ئې منسوبه کړیده؛ چي خلک ورته اعتبارورکړی اوحال داچي دوی وهغوخلکوته چي حضرت عیسی علیه السلام ئی مانه دډېرتکلیفونه ورسول هغه له دې کبله چي په نوې عهدنامه کي داسی غلطیانې اوټکرونه شتون لری چي ترعقل لوړدي۔[۱۰۹]

---

[۱۰۸] Herbert Muller: Use of the Past, p. ۸۹

[۱۰۹] کاتولیک هیرلډ چاپ ۱۸۴۴، بحواله :بایبل سے قرآن تک ج۔ ۱، ص ۳۶۱، (اظہارالحق کااردوشرح )لیکوال: شیخ الاسلام حضرت مولانامحمدتقی عثمانی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي موخه ئې داده چي عقل هم ورته حيران دی

استاولن پخپل يوکتاب کي وايی:

ټوله انجيل دمصرداسکندريې دښارديوې مدرسې ديوه طالب العلم ليکنه ده۔[۱۱۰]

ديوحنا انجيل (۲۰) بابه دی او(۲۱) بابه ئې افسيوس (Ephesus) ديوحنادوفات څخه وروسته ليکلې دي۔[۱۱۱]

په دوهمه ميلادی پېړۍ کي دعيسايانويوې ډلې چي د (وجين) په نامه سره يادېده ديوحنادټوله انجيل څخه ئې انکاروکړ۔

دانجيلونودليکلوزمانه ناقصه اونامعلومه ده، چي هيڅوک ويودرست مسيرته نشی تللای اوتيرومشايخوددې ناقصو او مبهمورواياتوتصديق کړيدی اوراتلونکونسلوبيادتعظيم له کبله قبول کړيدی؛ چي دادپښتنواودرواغونه ډک روايات ديوه کاتب څخه وبل کاتب ته رسېدلې دي۔[۱۱۲]

دانجيلوليکوالانوهيڅ يوه هم دانه دي ويلی چي دادخدای کتاب دی، اوياخدای ومورته وحی کړيدی، اويادامورته روح القدس ويلی دی۔ چي په اصل اوبنسټ کي دادحوارييونوکتابونه هم نه دي؛ داپه دې مفهوم چي متی دمتی کتاب نه دی، يوحناديوحناکتاب نه دی، لوقادلوقاکتاب نه دی، اوهمدارنگه دمرقوس دمرقوس کتاب نه دی، لکه په لاندي کرښوکي۔

---

[۱۱۰] کاتوليک هيرلډ چاپ ۱۸۴۴، ج ـ ۷، ص۔ ۲۰۵ ، بحواله بايبل سے قرآن تک ج۔ ۱، ص ۳۶۱، (اظہارالحق کااردوشرح )ليکوال: شيخ الاسلام حضرت مولانامحمدتقی عثمانی

[۱۱۱] بايبل سے قرآن تک ج۔ ۱، ص ۳۶۱، (اظہارالحق کااردوشرح )ليکوال: شيخ الاسلام حضرت مولانامحمدتقی عثمانی

[۱۱۲] تفسير هورن چاپ ۱۸۲۲، ج۔ ۲، باب ۲، بحواله اظهارالحق

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دمتی انجیل دمتی کتاب نه دی؟

په بایبل کي په نوي عهدنامه کي دمتی په انجیل کي راځي:
څنگه چي عیسی له دې ځای څخه وړاندی تېرشونوعیسی یوسړی چي دمحصول چي پرچوکۍ ناست ولیداوهغه ته ئې وویل چي زماپسې راځه! متی پاڅیدواوپه هغه پسې روان شو- (متی ۹: ۹)
که چیری دادمتی په لاس لیکل شوی وای نوده ولی دخپل ځان لپاره دغایب (دریم سړی) صیغه کارولې ده؟ اوکه دادده لیکنه وای نوپورتنی ایات داسی پکاروو:
څنگه چي عیسی له دې ځایه تېرشوزه ئې پرچوکۍ ناست ولیدمه، اوراته ئې وویل چي په ماپسې راځه ! زه پاڅېدم اوپسې روان شوم-
له دې څخه دامعلومه شوه چي داکتاب یوه نوم ورکي سړی لیکلی اوبیائې ومتی ته منسوب کړیدی، چي ددې ایات څخه ښه ښکاری؛ اوکه چیری ئې ودې کتابوته دمتی، یوحنا، لوقا اومراقس نومونه نه وای وکړی نوزرکاله مخکي به ئې لا یوحرف نه وای-[۱۱۳]

## دیوحناانجیل دیوحناکتاب نه دی!!!

یوڅوبېلگې ئې وړاندی کوم:
۱: داهم دغه مرید دی چي دلته چي څه لیکلی شویدی دهغې گواه دی، داپه حقیقت کښې هغه دې چي دائې ولیکل اوموږته دامعلومه ده چي دهغه گواهې رېښتنې ده- (یوحنا ۲۱: ۲۴)
که چیری دادیوحنالیکنه وای نوبیادلته دبیاولی (ددریم سړی ) په شان دی، اوولی ئې داول سړی (متکلم) ضمیرنه دی ورته استعمال کړی- چي وټولوته داپېغام

---

۱۱۳ The History of Church, Sec.۳, p.۳۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکوی چي دانه ديوحناکتاب دی، نه دعيسی عليه السلام اونه کوم الهامی بڼه لری۔

۲: دادسترگوليدلي گواهي ده چي پخه ده، اوهغه پوهيږی چي هغه رښتياوايی، چي تاسوهم پرې ايمان راوړی۔ (يوحنا ۱۹: ۲۵)

که داديوحناکلام وای نوبايد د(هغه) پرځای (زه ) راغلی وای، چي دا ترلمرسپينه ده چي داديوحناپه لاس نه دی ليکل شوی اوبس۔ اوهمدارنگه دبايبل نورکتابونه...

## داليگزيدراعتراف

هنری واسکاټ پخپل تفسيرکي په اخری ټوک کي داليگزيدرپه ويناليکي:

داضروري نه ده چي هره خبره دی نبی کړې وي نوهغه دی الهامي اوقانوني وي اودسليمان په ځينوکتابونوکي چي دوی دی الهامي وي داړينه نه ده،چي هرڅه ئې ليکلي وي هغه دی الهامي وي اوداپه يادوساتی چي وانبياءاوحوارييونوته په خاص خاص حالتونوکي الهام کيږی.

## دانسايکلوپيډيابريتانيکااعتراف

پردې خبره باندی جگړه ده چي هرڅه په مقدسوکتابونوکي ليکل شوی وي هغه الهامي دي که نه دي؟ جيروم، کروټيس،پروکوبيس اونورعلماء وايی چي دمقدسوکتابوهرقول الهامي نه دی.

هغه خلک چي وايی چي دبايبل هره خبره الهامي ده دوی ئې دکره شواهدوله مخی نشی ثابتولای.

(ټوک ۱۱ مخ ۲۷۴)، (ټوک ۱۹ مخ ۲۰)

## دواټس اعتراف

واټس يوکتاب ليکلی دی چي د(الالهام) په نامه سره دی، په دې کي ئې يوه رساله ليکلې ده چي پردې بحث کوي چي ايابايبل الهامی دی که يا؟ دی وايی چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلوقاانجیل الهامي نه دی،دی وایی چي عیسایی علماء دالیکنی داسی کړیدي لکه یوځوک چي یوڅه لیکي،لکه څرنگه چي غیرحوارییونویوڅه لیکل همداسی دوی هم لیکل.

## دهورن صاحب دتفسیراعتراف

دهورن صاحب دتفسیرټوک ۲ مخ ۷۹۸ کي داسی وایی:
اکهارن دجرمني دعلماء څخه دی هغه وایی چي وحضرت موسی علیه السلام ته الهام نه دی شوی.
بیاپه مخ ۸۱۸ کي داسی وایي:
شلز، وات، روزن ملر اوډاکترجدس وایی،چي وحضرت موسی علیه السلام ته هیڅ الهام نه دی شوی اوهغه پنځه کتابونه چي دي هغه دهغه وخت دروایاتوټولگه ده.اونن سبادجرمني په علماء کي دافکرپه تیزی سره روان دی.

## دلوتهرصاحب اعتراف

لوتهرپخپل کتاب په ټوک ۳ پاڼه ۴۰ کي لیکي چي زه نه دموسی خبره اورم اونه هم وهغه ته گورم داځکه چي هغه دیهودلپاره ؤاوزه دهغه سره هیڅ اړیکه نلرم.
لوتهرصاحب په بل کتاب کي وایی چي زه نه موسی منم اونه ئې تورات منم داځکه چي دی دحضرت عیسی علیه السلام دښمن دی.

## دپروټسټنټ دفرقي دنوروعلماء اعتراف

وارډکیتولیک پخپل کتاب کي چي مطبوعه ۱۸۴۱ میلادی کال دی دپروټسټنټ دډلې دمعتبروعلماءقولونه رانقل کړیدي چي په دې کي موږیوڅو قولونه بیانوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- زدنکلیس اونوروایی چي دپولس ټول لیکونه مقدس نه دي داځکه چي په
څوپیښو کي غلط دي.
۲- مستړفلک وایی چي پطرس دانجیل سره بلدیت نلري، اوهغه څه چي ئې لیکلی
دي هغه غلط دي.
۳- ډاکټرکوډېه دې آنددی چي کله چي وپطرس ته روح القدس نازل شو ورسته ئې
غلطې وکړل.
۴- برنشس وایی: ریس الحواریین پطرس اوبرناباس دروح القدس دنزول څخه
ورروسته غلط بیاني کړی ده.
۵-میکډی برجنس وایی چي پولس غلط بیانونه ورکړی دي.

## دنړیوالوعیسایی علماء اعتراف

### داکهارن صاحب اعتراف

اکهارن صاحب چي یوعیسایی فاضل اوعالم دی اوډېرکتابونه ئې په دې هکله
لیکلی دي پخپل یوه کتاب کي په ۵۳ مخ کي وایی:
دانجیل متی لومړی دوه بابونه دده لیکنه نه ده.
په ٦۳ مخ کي بیاوایی:
دیهودي اسخریوطی کیسه چي په انجیل متی باب ۲۷ کي بیان شوې ده د۳- ۱۰ ایاته
پوری بلکل درواغ دي. اوهمدارنگه په دغه باب کي ۵۲ او۵۳ ایاتونه الحاقي دي.
په ۷۰ مخ کي لیکي:
انجیل مرقوس باب ١٦ ، ۱۲ ایاتونه ټول درواغ دي.
په ۸۹ مخ کي لیکي:
انجیل لوقاکي باب ۲۲ کي ۴۳ او۴۴ ایاتونه الحاقي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بياوايي:

اصل انجيل ورک دی،په اوسني انجيلونوکي هم درست بيانونه شته اوهم دروا‌غ،په
دې انجيلونوکي تحريف هم شويدی،بت پرستو علماء هم کارپکښې
کړيدی،عيسايانوخپل انجيلونه درې ياڅلورځلی بدل کړيدي،تردې اندازې پوری
چي مضامين ئې هم بدل شويدي.[۱۱۴]

دډاکترگراهام سگروگی[۱۱۵] (Dr. Graham Scoggie) اعتراف:

گراهام سگروگی پخپل کتاب[۱۱٦] په ۱۷ مخ کي ليکي:

مقدس بايبل انسان جوړکړی دی،اوځينی خلک زماداخبره ردوی زه نه پوهيږم چي
ولی؟په اصل کي داکتاب دانسان له مغزوڅخه راوتلی دی، انسان ليکلی دی
اودانسان په ژبه سره ليکل شوی دی اوهرڅه ئې انساني دي.

کنيت گرېگ (Kenneth Cragg) چي يوعيسايي عالم دی وايي:

نوې عهدنامه چي دبايبل يوه برخه ده دادخدای کلام نه دی،په دې کي دخلکوهغه
کيسې اوپيښې شتون لری چي په سترگوئې ليدلی وي اوياورېدل شوي دي
دادکليسااوازه ده چي دادخدای کتاب دی.

پروفيسرگيسر(Prof. Geiser) اعتراف کوي:

سپېڅلی بايبل دخدای کتاب نه دی،ددې باوجودهغه يو مقدس کتاب دی.[۱۱۷]

دپروفيسرجان سکاټ اعتراف:

---

[۱۱۴] بايبل سے قرآن تک ج۔ ۱، ص ۵۳۸۔ ۵۷۲، (اظہار الحق کا اردوشرح )ليکوال: شيخ الاسلام حضرت مولانامحمدتقی عثمانی

[۱۱۵] A member of the Moody Bible Institute.

[۱۱۶] Is the Bible the Word of God?

[۱۱۷] Islam and Christainity /Husain Hilmi ۲۰۱۱ Istanbul Trukey

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسنی بایبل په دې دخدای کتاب نه دی چي حضرت عیسی علیه السلام په آرامي ژبه سره خبرې کولې اواوسنی نسخې په یوناني ژبه سره دي، لکه دبایبل ترټولوزړه نسخه سینایی نسخه؛ دبایبل ترټولوپخوانی نسخه دحضرت عیسی علیه السلام څخه (٦٠٠) کاله وروسته لیکل شوېده،که بایبل په غورسره مطالعه شی نوداسی جوتیږی چي بایبل په تدریجي ډول سره تکامل موندلی دی، بله دیادونې وړخبره داده چي موږاصلي دحضرت عیسی علیه السلام لیکنه اویاوینانه لروهغه څه چي وده ته منسوب دي هغه ټول په یوناني ژبه سره دي اوحال داچي حضرت عیسی علیه السلام په ارامي ژبه سره خبرې کولې.[118]

## دډاکترجوزف پارکر(Dr. Joseph Parker) اعتراف:

ده پخپل کتاب کي [119] لیکلی دي چي بایبل ټوله دنوم ورکواومبهمو نومونوڅخه ډک دی، په بایبل کي دنسب پاڼو(شجرو) څخه ماسیوابل شی نشته،نه داخرت په هکله شی پکښې ترسترګوکیږی اونه هم دمذهب په هکله،که موږدحضرت عیسی علیه السلام شجره وڅېړونودتعجب خبره داده چي روح القدس دڅلوروانجیلونود لیکوالانوڅخه ولی ودوولیکوالانوته داشجره ورونښودل؟ اوحال داچي په دې دواړوکي هم ژوراختلاف شته،متی دعیسی څخه ترداؤدپوری (٢٦) پښته راوړی دي اولوقادعیسی څخه تر داؤدپوری (۴۱) پښته راوړی دي نوموړیپه ساده توروداسی ویلای شوچي دادخدای کلام نه دی؛ اودادمتی اولوقاخپلی لیکنی دي اوروح القدس هیڅ هم نه دي ورته ویلی.

---

[118] The Major Changes in the Bible,pp۵۲-۶۰
[119] Bible, What a book?

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فاضل عالم ریو- پیکر(Rev. Packer) اعتراف:

فاضل عالم ريو- پيکر(Rev. Packer) تردې سرليک لاندی چي اياپه بايبل کي غلطيانې شته؟ دی وايی: غلطياني په بايبل کي شته،په ځانګړی ډول سره په پخوانيونسخوکي،کلمې بدلی شوی دي، حتی مکملي ليکې اوجملې له منځه تللی دي، ځينی جملې بيابياتکرارشوی دي،چي دغلطيانوشتون نشوردولای اوپه ځينونسخوکي داسی شوی دي چي په غلطياسره نوي عبارتونه ورسره يوځای شوی دي. دامنوچي دادانسانانوپه لاسونوسره نوشته شوی دي اودهربدلون امکان پکښې دی.[۱۲۰]

## دښاغلی ګراهام سکورګي[۱۲۱] (Dr. WGraham Scroggie) اعتراف:

ښاغلی ډبليو ګراهام سکورګي چي دامريکادشيکاګوايالت دموډی بايبل انسټيټيوټ يووتلی نړيواله څهره اومبشر دی وايی:

بلی دامنو! چي دادانسان په لاس ليکل شوی دی،دانسانانوله ماغزوڅخه راوتلی دی،دانسانانوپه ژبه سره ليکل شوی دی

دبيت المقدس دانګليکن کليسادلوی راهب کينيت کريګ[۱۲۲] اعتراف:

---

[۱۲۰] Deseret News Publishing Co. ۲۰۰۳
[۱۲۱] . Dr. W Graham Scroggie of the Moody Bible Institute, Chicago, a prestigious Christian evangelical mission
[۱۲۲] Kenneth Cragg, the Anglican Bishop of Jerusalem

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوې عهدنامه اوټوله بايبل دکليساله ماغزوڅخه راوتلی دی،ليکوالان ئې هم مبهم دي،دامنوچي بايبل دتجربواوتاريخي پيښونماينده‌گې کوي. په پيل کي بايبل دخلکوپرژبه باندی ياداوه دامنوچي بايبل دحضرت عيسی عليه السلام په ژوندکي نه دی ليکل شوی اودليکلوپرمهال مقدس پولس داسی شيان پکښې ورګډکړل چي داصلي محورسره په تضادکي دي.

## دډاکترلوبيګاټ اعتراف:[۱۲۳]

دنوې عهدنامې ځينی عبارتونه دزغملونه دي،دردناکه دي،اوپه اصل کي دحوارييونودويناووسره په ټکر کي دي. اودامنوچي په اوسني بايبلوکي داسی څه شته چي دپخوانيونسخوسره پوره توپيرلري، نوځکه دبايبل اصليت هم ترپوښتنولاندی راځي.

## **دامريکادسي اين اين(CNN) تلويزون اعتراف:**

په سي اين اين تلويزونی چاينل کي په ۲۰۰۸[۱۲۴] او۲۰۰۹[۱۲۵] کي پردې باندی بحث کيدی چي ايابايبل څومری درست دی؟ اووهغوپوښتنو ته دعيسايي نړۍ ځواب څه دی چي دبايبل په هکله کيږی؟

---

[۱۲۳] Our Bible and the Ancient Manuscripts/ Dr. Lobegott Friedrich Konstantin Von Tischendorf, one of the most adamant conservative Christian defenders of the Trinity

[۱۲۴] July ۲۴, ۲۰۰۸ -- Updated ۱۱۱۳ GMT (۱۹۱۳ HKT)/ By Ed Payne

[۱۲۵] July ۶, ۲۰۰۹ -- Updated ۱۶۲۸ GMT (۰۰۲۸ HKT/By Richard Allen Greene CNN

(c) ketabton.com: The Digital Library



دابحث چي خوورځي روان ؤپايله ئې داراووتل چي بايبل شکمن دی داځکه چي پروتستان ۱۴ کتابونه پخپل بايبل کي نلری ولی؟ ولی عيسايی نړۍ دبايبل وځينوکتابونوته اپوکريفه (شکمن) کتابونه وايی ايادالهي کتابونه نه دي؟ دبحث په جريان کي پردې هم بحث وشوچي اوسني بايبلونه له اصلي نسخوسره پوره واټن اوتوپير لري.

## دسي ايس لويس (C.S Lewis) اونورواعتراف:

په ټوله بايبل کي شرمونکې برخه، تردې سرليک لاندی يوه ليکنه خپره شوې وه[۱۲۶]، په دې برخه کي ډيروعيسايي علماء کارکړی دی اوپه دې شرمونکې برخه کي (دمتی انجيل ۲۴ باب) اودبايبل نورکتابونه دي خوموږدلته بواځی اويواځی ومتی انجيل و۲۴ باب ته راځو واقعاداسی څه پکښې دي چي شرمونکي دي اوداعيسايی عالم رښتنی دی په دې برخه کي وحضرت عيسی عليه السلام ته منسوبی يوڅه وړاندوينې دي هغه وړاندوينې رښتنې نه شوې نوځکه اوس عيسايی علمافکرکوي چي کيدای شی دابه دحضرت عيسی عليه السلام وړاندوينې نه وي اومتی به خطاوتلی وي اواوس په شرميږی.

## ولی په مطابق؟؟!

يوه ډېره روښانه اوهېښونکې خبره داده چي دهرانجيل په سرليک کي داسی ليکلی دي:

دمتی په مطابق انجيل

---

[۱۲۶] Prepared by Pastor Aaron Goerner (۷/۱۰/۲۰۰۵). See Dt.۳۳:۸-۱۰; Ezra ۷:۱۰; Malachi ۲:۷; Matt.۱۳:۵۲; Acts ۱۷:۱۱; Col.۱:۲۸،۲۹; ۱Tim.۴:۱۲-۱۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلوقاپه مطابق انجیل

دمرقوس په مطابق انجیل

دیوحناپه مطابق انجیل

چي په انگلیسي بایبلوکي داسی لیکلی دی:

The Gospel According to Saint Luke

The Gospel According to Saint John

The Gospel According to Saint Mark

The Gospel According to Saint Mathew

دلته ولی (په مطابق) ورسره دی، هرڅوک چي یوکتاب ولیکي، خپل لاسلیک اویائې هم مهرپرلگوي ، اودایقیني وی دادده کتاب دی نوهغه ته نوشته وی دادفلاني کتاب دی، لکه څرنگه چي پردې انجیلونوباندی نه دمتی لاسلیک اومهر ،نه دلوقالاسلیک اومهر، نه دیوحنالاسلیک اومهراونه هم دمرقوس لاسلیک اومهرشته له دې څخه علاوه نه په دې هکله پاخه شواهدشته اونه هم بل ثبوت نوځکه (په مطابق) توری ئې ورسره لیکلی دی، که داانجیلونه متی ، لوقا، یوحنااومرقوس لیکلی وای نودوی به ضرورورته لیکلی وای چي:

دمتی انجیل، دیوحناانجیل، دلوقا انجیل اودمراقس انجیل۔

له دې څخه په ښکاره ډول سره جوتیږی چي داکتابونه نوم ورکوخلکو لیکلی دی اوبیایی ودوی ته منسوب کړی دي ترڅوداپه خلکوکي عام کړی اوپه خلکوکي ئې سپیڅلي وساتي اوخلک ودې ته مجبوره کړی چي په دې باندی عمل وکړی، وبل لورته که چیری هرانجیل وکتل شی نوداسی معلومیږی چي دایوانجیل دیوه لیکوال لیکنه هم نه ده، دلیکلودسبک اولیکدودڅخه داښکاری چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دامختلفولیکوالانولیکلی دي په مختلفووختونو کي نوموړداسی ویلای شوچي داالهی کتابونه نه دي.

دآرایس وي (Revise Standard Version) بایبل اعتراف:

هغه بایبلونه چي دبایبل دټولنوله لوری چاپ شوی دی یوه ډله دبلې ډلی وبایبل ده بداوردوایی، چي زه دلته یواځی اویواځی دیوه بایبل بیلګه راوړم:

آرایس وي (RSV) بایبل چي خپله عیسایانوچاپ کړی دی [۱۲۷]اوددوی له لوری خپورشوي دي ، پرهغه باندی یوه سریزه لیکل شوې ده،اوپه هغه سریزه کي ئې دادلایل ویلی دي چي ولی دابایبل اصلاح شوی دی، پردې بایبل باندی لیکل شوي دي چي کله په لومړي سرکي کینګ جیمزورژن (KJV) بایبل په ۱۶۱۱ کي ترتیب شو نوبیاپه۱۸۸۱ کي اصلاح شو،له هغه وروسته بیاپه ۱۹۰۱ کي اصلاح شواواخري ځل په۱۹۵۲ کي اصلاح شو داولی؟

تراوسه دکینګ جیمزورژن بایبل ډیرغټ عیبونه اونیمګرتیاوي لري،اودانیمګرتیاوي ډیري دي اوډیري مهمي اودفکروړدي نوځکه موږبیااصلاح کړی.

یادونه: ددوی دااصلاح به ترقیامته پوری دوام ولری اوهیڅ بایبل به اصلاح نشی، له دغه بایبل څخه وروسته بیاډیرځله همدابایبل اصلاح شوی اودالړی لاروانه ده.

## دتثلیث ریښه اوحقیقت

عیسایي نړۍ دتثلیث الهام دیونان دفلاسفه و واودنورومشرکانو څخه اخیستی دی، چي پردې باندی پخپله عیسایی کتابونه ګواه دي،لکه دبایبل دایرة المعارف، اودبریتانیکادایرة المعارف اوداسی نور.. دتثلیث اودحضرت عیسی علیه السلام

[۱۲۷] The Bible(RSV)/Publishe by: WM.Colins Sons & Co. LTD.
The British & Foreing Bible Society ۱۹۵۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



دالوهيت نظريه دلومړي ځل لپاره پولس(ساو، شاول) وړاندي کړه او بيا وروسته دعيسائيت يوه عقيده وګرځېده.

لومړی سړی چي په نصرانيت کي ئې دتثليث عقيده دودکړه،پولس (پاول، ساول،شاول) ؤده دعيسی عليه السلام دالوهيت اودروح القدس دالوهيت اعلان وکړ، دتثليث عقيده په۳۲۵ ميلادي کال دنيقيه په غونډه کي تائيدشوه، ديونان دفيلسوف افلاطون نظرياتو دنصرانيت په دين باندی ښکاره اغيزه درلوده،ده ويلئ دي چي نړۍ په چلښت اوتدبيرکي له دريوڅيزونوڅخه اغيزمنه کيږي:

۱: ازلي لومړی پيداکونکي.

۲:هغه عقل چي له هغه څخه راوتلی دی.

۳: هغه روح چي دټولوارواحومصدراوچينه ده.

ده پخپله په دغې عقيدې باندی دتثليث بنسټ ايښی دی، څکه ازلي پيداکونکي خدای جل جلاله،عقل ئې زوی حضرت عيسی عليه السلام (ددوی په نزد)اوروح ئې روح القدس حضرت جبرائيل عليه السلام دی؛ په عيسايانوکي داسی ډلې هم شته چي دخدای په توحيدقايل دي اوعيسی عليه السلام دالله جل جلاله بنده اوپيغمبر ګڼي د(برناباس) يابرناباانجيل چي دعيسويانوپه نزد له پنځو منل شوو انجيلونو(متی، لوقا، يوحنا، مراقس) څخه يودي خدای يواوداسمانواوځمکوخالق ئې ګڼي.

په هندومذهب کي هم دتثليث اصطلاح شته،ددې دين پيروان باورلري چي خدای درې نومونه لري(وشنو) ساتونکي،(سيفا) يعنی وژونکي او(براهما) يعنی پيداکونکی.[۱۲۸]

---

[۱۲۸] آريانادايرة المعارف، دوهم توک،مخ:۶۲۵- ۶۲۶، چاپدافغانستان دعلوموااکاډمي ددايرة المعارف دمرکزرياست ۲۰۰۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



دتثليث عقيده دحضرت عيسى عليه السلام څخه ۱۰۰۰ کاله مخکې موجوده وه،قسطنطين (Constantine)په ۳۲۵ ميلادي کال کې چې دروم امپراطورؤ دنقيه غونډه (Council of Nicaea) جوړه کړه،په دغه غونډه کې دحضرت عيسى عليه السلام الوهيت اوتثليث تائيداوله خلکوڅخه ئې رايه واخيستل په هم دغه ورځ باندى دادعيسائيت يوه عقيده اوبرخه و ګرځيدله.

وبل لورته په اوسني تحريف شوي بايبل کې که موږوګور نودابه راته معلومه شي چې تثليث په هربايبل کې نشته داځکه چې داپه اصل کې داصلى انجيل برخه نه ده، اودادپولس اونوروعقيده وه چې په عيسائيت کې ئې ګډه کړه لکه:

For there are three that bear record in heaven, the Father, the Word, and the Holly Ghost: and these three are one. (۱ john,۵ : ۷)

ژباړه:

درې دي چې ګواهي ورکوي په اسمان کې پلار،ځوى اوروح القدس اودادرې سره يو دي. (لومړى ليک ديوحنا ۵: ۷- ۹)

داپه (King James Version) بايبل کې اوپه اردوبايبل (کلام مقدس، کاتوليک بايبل کميشن پاکستان ۲۰۱۱) کې شته اوپه (Holly Bile Revised Standard Version ۱۹۵۲) کې بيا دادتثليث ايات نشته، اوکه وعربي اردواوپښتوبايبلوته راشونونوپه هغوکې هم داتثليث نشته په عربى بايبل، پښتوبايبل اواردوبايبلو کې همداديوحناايات ۷ نشته او واتم ايات ته ئې د۷ شماره ورکړيده يعنى تثليث نشته. لاندى بايبلونه وګورئ:

الکتاب المقدس، جمعية الکتاب المقدس فى لبنان- ۱۹۹۳ الطبعة الثلاثون

انجيل شريف، اول جيبى چاپ ۱۹۹۶ميلادى، بايبل سوسايټى پاکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتاب مقدس، پاکستان بايبل سوسايټی انارکلی لاهور ۲۰۱۱
انجيل مقدس، پاکستان بايبل سوسايټی انارکلی لاهور- ۵۴۰۰۰، ۲۰۰۹
پخپله قسطنطين په سول انويکټس (Sol Invictus)باندی عقيده درلوده دادلمرخدای ؤ ياپه لنډوکي ده په مترايزم (Mithraism) باندی باورؤده ديهودومقدسه ورځ شنبه ئې ويکشنبې ته واړول چي دادلمردخدای دپيدايښت مقدسه ورځ وه،په انگليسي ژبه کي ويکشنبې ته سن ډې (Sun Day) وايی سن (Sun) ولمرته وايی اوډې (Day) وورځې ته وايی يعنی دلمرورځ ؛ خوپه اصل کي داورځې ته دلمرورځ په دې وايی چي دلمرخدای په همدغه ورځ باندی پيداشوی دی ، دمشرکانوپه آند،همداسی دحضرت عيسی عليه السلام په هکله چي کومه عقيده دوی لري همداسی بې شمېره دلمرخدايان تيرشويدي چي دحضرت عيسی عليه السلام هره نيټه، دده درواغجن صليب، دده بيا راژوندی کيدل ددوی په آند، وخلکوته خلاصون ورکول ددوی په آنداوداسی نور... داهرڅه دحضرت عيسی عليه السلام څخه ۱۰۰۰ کاله مخکي شتون درلودی ، تاسی گران لوستونکي کولای شی چي داهرڅه زماپه راتلونکي کتاب ((دعيسائيت حقيقت)) کي ولولئ په پوره تفصيل سره ا نشآء الله.
طرطوليان لومړی هغه کس ؤچي دتثليث اوجوهردحضرت عيسی عليه السلام اودخدای وينايی وکړل،[۱۲۹]
له دې څخه مطلب دادی چي ده هم دساول/شاول څخه الهام اخيستی ؤاوپه عيسايی لويوغونډوکي ئې وويل چي تثليث دعيسائيت يوه بنسټيزه اونه بېلېدونکې عقيده ده،هرهغه څوک چي به دتثليث څخه منکراويابه ورته شک پيداشوهغه کس ياډله به ئې په بدعتيانو کي حساب کړل اومرگ به ئې ورته رواکړ.

[۱۲۹] تاريخ کليسا،پاڼه۱۰۳، ليکوال:ډاکټرډونلډ ډي سميټن،خپرونکي:پُل گاسپل اسمبلی آف پاکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



وبل لورته په ټوله بایبل کي هرورژن چي وي نه حضرت عیسی علیه السلام وچاته ویلی دي چي زه خدای یم اوزماعبادت وکړی اونه هم یوحواری شاهدشته چي په دغه ورځ په دغه وخت کي حضرت عیسی علیه السلام وویل چي زه خدای یم اوزماعبادت وکړی برعکس ده به ویل:

زه پخپله هیڅ نشم کولای زه فیصله کوم څنګه چي ماته ویلی شوي دي اوزما فیصله هم دانصاف ده ځکه چي زما مقصد زمادمرضۍ نه دی بلکې دهغه مرضی ده چي زه ئې رالېږلی یم- (یوحنا ۵باب ۳۰)

بل ځای حضرت عیسی علیه السلام وایی چي (زماخدای ترمالوی دی)، اوهغه ترټولولوی دی.

عیسی وویل: آیاماتاسوته دانه وه ویلی چي که تاسوایمان لری نودخدای جلال به ووینی،نوهغوی ډبره لیری کړه بیاعیسی پورته وکتل اووئې ویل ای ربه! زه ستاشکراداکوم زماخبره دی واورېدل ماته داجوته وه چي ته تل زماخبره اورې، خوماددې حاضروخلکودپاره سوال وکي چي ددوی داباورراشی چي زه تاارالیېږلی یم.
(یوحنا ۱۱ باب ۴۱- ۴۳)

نوعیسی په چیغووویل: که یوڅوک پرماایمان راوړی نوهغه نه یواځی داچي پرمائې ایمان راوړ بلکې پرهغه چائې هم ایمان راوړچي زه ئې رالېږلی یم. (یوحنا ۱۲ باب ۴۴)

چي دی په واضح ډول سره وایی چي زه هیڅ شی نه یم اوهرڅه دخدای جل جلاله په امرسره ترسره کوم، که چیری دی خدای وای نوده به بیادبل چاواجازې اوواک ته اړتیانه درلودای .

## دصلیب ریښه اوحقیقت

همدغه دروم امپراطور قسطنطین په ۳۱۲میلادي کال کي یوسیال درلودي دمیکسنشیس (Maxentius) په نامه سره داچي په دغه وخت کي دروم په امپراطورۍ کي عیسایان ډیروو نودهغودجلب اوجذب اودهغودلاسته راوړلوپه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاطريي ځینی کارونه وکړل، ده په ۳۱۲ میلادي کال کي خوب و لیدی چي یوچاورته وویل چي دصلیب په نښان باندی وخپل سیال ته ماته ورکه هغه نښان ئې ورته ښکاره کړه ، چي له هغې ورځې څخه صلیب هم دعیسایانومقدس سمبول شو. ده وهغه خپل سیال ته ماته ورکړه اوصلیب دفوځ رسمي نښان شو، په عیسایانوکي ئې په دې خپل عقایدګډکړل چي دهغوزړونه ئې ولاسته راوړل دهغووژل مطلق منع اعلان شوه که عیسایی هرڅه کړی وای هغه نه مجازات کیدی،امتیازونه ئې ورکړل اوداسی نور.....[۱۳۰]

قسطنطین په ۳۳۰ میلادی کي خپل پلازمینه دروم څخه دبزنطینې وښارته نقل کړاونوم ئې قسطنطیه پرکیښودچي بیاپه ۱۹۳۰ میلادی کال کي ئې نوم په استانبول بدل شو.[۱۳۱]

نوقسطنطین پاچاپخپله دلمردخدای عبادت کاوه هغه داصلیب په عیسائیت کي داخل کړ، دانښان نه خدای منتخب کړی دی اونه هم حضرت عیسی علیه السلام.

## دنوی عهدنامې ۱۰٪ سلنه لاهم دحضرت عیسی علیه السلام ویناوې نه دي!

که موږوهغه بایبل ته راشوچي په هغه کي دحضرت عیسی علیه السلام ته منسوبی ویناوی په سره رنګ باندی لیکل شویدي، چي ودې بایبل ته سورلیکي بایبل (Red Letter Bible) وایی هغه ویناوی چي وحضرت عیسی علیه السلام ته منسوبې دي هغه ټولې دیوې ورځپانې درې کالمه نه کیږی، اویاهم دغه ټولې ویناوې دنوی

---

[۱۳۰] Encyclopedia of Biblica
Encyclopedia of Bretaneca

[۱۳۱] تاریخ کلیسا،پانه۱۵۱، لیکوال:ډاکټرډونلډ ډي سمیټن،خپرونکي:پل ګاسپل اسمبلی آف پاکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



عهدنامې حتی ۱۰٪ سلنه لاهم نه پوره کوي،نوکه موږله عیسایانو سره ومنوچي دادحضرت عیسی علیه السلام ویناوي دي نوتر۹۰٪ سلنه زیات ئې دحضرت عیسی علیه السلا ویناوي نه دي همدابایبل له ماسره شتون لری .[۱۳۲]
وبل لورته که موږراشوونوی عهدنامې ته نوداټول ۲۷ کتابونه دی چي په دې ۲۷ کتابونوکي ۱۴ کتابونه یواځی اویواځی مقدس پولس رسول لیکلی دي، چي له دې څخه داجوتیږی چي نوې عهدنامې نیمایی ښاغلی پولس(ساول/شاول) لیکلې ده، نوځنگه موږنشوویلای چي ښاغلی پولس دعیسائیت بنسټ ایښودونکي دی.

## اوسنی عهدنامه قدیم ځکه دخدای کتاب نه دی

پربنی اسرائیلوباندی (۷) ځلی دقیامت په شان تباهی راغلی دي،چي په دې پیښوکي بنی اسرائیل تباه شوی اوهم ددوی مقدس کتابونه اومقدس ځایونه له منځه تللی دي.

۱- په ۸ ق م پیړی کي کله چي دسامریه شمالی سلطنت تباه شونوبنی اسرائیل ئې ونیونواته بوتلل،په دې پېښه کي تباهې دومره زیاته وه چي دبنی اسرائیلو(۱۰) ډلی له منځه ولاړلې.

۲- په ۹۷۱ ق میلادکي دمصرپاچاپربیت المقدس باندی یرغل وکړاوټول ئې تباه کړ.

۳- په ٦۰۰ ق م کي دبابل پاچابخت نصرپربیت المقدس باندی حمله وکړه بیت المقدس ئې وسوځاوه هغه تبرکات اومقدس کتابونه چي دبنی اسرائیلووو هغه ټول له منځه ولاړل اویهودئې ونیول اوټول ئې وبابل ته بوتلل اوهلته ئې بندیان کړل اویائې ختم کړل.

---

[۱۳۲] Holly Bible (NKJV): Thomas Nelson, Inc. USA ۱۹۸۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- په ۱٦۸ ق م کې په انطاکیه کې یوناني پاچااینتونیس پربیت المقدس باندی حمله وکړه اوهغه څه چې یهودوسره راټول کړی وو هغه ټول ئې له منځه یووړل.
۵- په ۷۰ میلادي کې رومیانواوطیطس پربیت المقدس باندی حمله وکړل اوټول ئې له خاوروسره خاوری کړ چې یهودونشوای کولای چې ددوهم ځل لپاره ئې ابادکې هغه مقدسې نسخې چې یهودوله پیړیو راهیسی سره راټولی کړی ئې وې هغه ئې له منځه یووړې.
٦- داځل دروم قیصرپریهودوباندی حمله وکړه اوپنځه لکه یهودئې ووژل اوهرڅه ئې له منځه یووړل.
۷- په ٦۱۳میلادی کال کې دایران پاچاخسروپرویزپر بیت المقدس باندی حمله وکړه او(۹۰۰۰۰) یهودئې ووژل اوټول ئې له خاوروسره خاوری کړ.[۱۳۳]

## دبایبل ورک کتابونه

ډیرداسی کتابونه شته چې په بایبل کې ئې یادونه شوېده،داکتابونه اوس چیری دي؟ ولی په بایبل کې ئې بیان شوی دی اوپه نړۍ کې شتون نلری؟ که دادبایبل برخه وي نوبیاخوموږپه ډاډه زړه سره ویلای شو چې اوسنی بایبل ناقص دی اوبایدعمل پرې ونشی، اوکه دبایبل برخه نه ده نوبیائې ولی په بایبل کې یادونه شویده؟ داخوهم هغولیکوالانولیکلی دي چې بایبل ئې لیکلی دی،دهغوپه موندلو کې ولی عیسایی نړۍ چوپه ده؟ له دې څخه داپه ښکاره جوتیږی چې دبایبل (۴۰) لیکوالانوډیرکتابونه لیکلی دي اوهرڅه چې په خوله ورغلی دي اوبائې په خوب کې لیدلی دي لکه د(کتاب مکاشفه) هغه ئې لیکلی دی اوهغولیکوالانوهم په دې نیت باندی نه دي لیکلی چې داکتابونه به یووخت دعیسایی نړۍ بنسټ اوسپیځلی کتابونه وي؛ داچې اصلي تورات ، اصلي انجیل اواصلي زبورله منځه

[۱۳۳]یهودیت، عیسایت اور اسلام،لیکوال: شیخ احمددیدات،خپرونکي عبدالله اکیډمی لاهور ۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړل اوهيځ شتون نلری نوځکه ئې داکتابونه دهغوپه نامه سره منسوب کړل اواوس عيسايان اويهودداصلی نسخومينه په دې جعلي کتابونوباندی ماتوی اوحال داچي دسليم عقل خاوندنشی کولای چي ددې کتابونودلوستلوڅخه وروسته په دې عقيده شی چي ګوني داکتابونه دي الهي وي ،پخپله عيسايی علماء په دې آنددي چي داکتابونه الهي نه دي،اونه هم له اسمانه څخه نازل شوی دی بلکې دادانسانانوپه ګوتوليکل شوي دي اووهرکتاب ته د ليکوال نوم نوشته دی اودځينوکتابونوليکوالان لا ورک دي هغه کتابونه چي په بايبل کي ئې يادونه شويده هغه دادي:

- خدای دجنګونوپه کتاب کي ويلی دي.(اعداد۲۱:۱۴)
- دصداقت په کتاب کي نه ليکل کيږی. (يوشع۱۰: ۱۳)
- اوهغه په کتاب کي ليکلی دي.(لومړی سموئيل۲۵:۱۰)
- هغه دسموئيل په غيب بين په تاريخ کي،ناتان دنبی په تاريخ کي، اوجاددغيب بين په تاريخ کي.(دلومړيوورځوتاريخ ۲۹:۲۹)
- شمع ياه نبی دعداوغيب بين په تاريخ کي په مسلسل ډول سره نه دی ثبت شوی.(دوهم تواريخ ۱۲: ۱۵)
- دسليمان لومړی اواخرحال دناتان نبی په تاريخ،اوداحی ياه سيلونی په نبوت،دياربعام بن نياط په عدوغيب بين کي ثبت نه دی.( دوهم تاريخ ۹: ۲۹)
- ديوشافاط لومړی اوورستنی کاردياهوبن حنانی په تاريخ کي ليکل شوی دی،چي داسرائيلودپاچاهانوپه کتاب کي شامل دی.( دوهم تواريخ: ۲۰: ۳۴)
- دعزياه نورمخکنی اووروستنی حال اشعيابن آموص نبی ليکلی دی.(دوهم تاريخ۲۶: ۲۲)
- ديوشی ياه مخکنی حال اوورستنی حال داسرائيلواويهودو دپاچاهانوپه کتاب کي ليکي دی.( دوهم تواريخ ۳۵: ۲۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



☚ اودعهدکتاب ئې واخیستی اوخلکوته ئې واوروی.(خروج ۲۴: ۷)دیادابښت لپاره په هغه کتاب کي ولیکه.(خروج۱۴:۱۷)

☚ هغه کتاب چي تالیکلی دی دهغه څخه ماایسته که. (خروج۳۲:۳۲)

اوداسی نور...

## دعیسایت بنسټ ایښودونکی پولس(ساول / شاول) دی

پولس په لاطیني ژبه اوپولوس په یوناني ژبه کي ورته وایي چي معنایی ده (کوچنی)، په عبراني ژبه کي ورته ساؤل/شاول (یعنی دخدای څخه غوښتونکي) وایی؛پولس دیهودي نسل څخه یورومی کس ؤدی دحضرت عیسی علیه السلام په ژوندکي دهغه اودهغه دحوارییونوسخت دښمن اومخالف ؤکله چي دی عیسایي شو نودمشق ته لاړی اوهلته ئې دحضرت عیسی علیه السلام دالوهیت اودخپل ځان په هکله ئې وویل چي زه مسیح یم اوزه په روح القدس سره معموره شوم،ده خپله وخپل ځانته رسول ووایه، اوهرڅه ئې له ځانه جوړکړل، چي ډیروله ده سره مخالفت وکي هغه په دې وجه نه چي دئ عیسایي دی بلکې هغودباوردرلودی چي پولس یویهودي دی، دی نه دحوارییونوڅخه دی اونه هم دی دحضرت عیسی علیه السلام په ژوندکي عیسایي شوی دی، دی لیکي چي زه کله ودمشق ته تلم نوپرلاری می یونورولیدی چي وماته ئې وویل ساول !........

هغه لاپه لاره ؤاودمشق ته ورنژدې کیدوچي ناڅاپي له اسمانه یوه رڼادهغه شاوخوا وځلیده،هغه په ځمکه راپریوتواوداسی یواوازئې واوریدی ساوله! ساوله! ته ماولی ربړوې؟ هغه تپوس وکي مالکه ته څوک ئې؟ ځواب راغی زه عیسی یم...

(اعمال درسولانونهم باب: ۱- ۲۰)[۱۳۴]

---

[۱۳۴] انجیل شریف اول جیبی چاپ ۱۹۹۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې څخه وروسته دحضرت عیسی علیه السلام ځای ناستی دی شو، عیسایی فاضلان لیکي:

خلکو دده درسالت څخه انکاروکي داځکه چي دده رسالت دنوررسولانوپه شان نه ؤ.[۱۳۵]

دپولس په هکله مؤرخین فلویډراس (Floyd Ross) اومیرمن ټاینیټی هلز (Mrs. Tynette Hills) لیکي:

په هغوټولوخلکوکي چي دعیسائیت په لومړی کي ؤ ترټولوئې پولس ذمه واره دی،داځکه چي عیسائیت دده دعقایدوترسیوری لاندی شو ،ده دعیسائیت لپاره نوې تگلاره وټاکل.[۱۳٦]

پولس چي څه وخلکوته تبلیغول نه دحضرت عیسی علیه السلام ویناوي وې اونه هم دحوارییونوویناوي وې،فاضل عیسایی څېړونکي پروفیسرآرنلډمئیر (Arnord Meyer) وایی:

که څوک داسوال وکي چي پولس رسول چي وخلکوته کوم تعلیم ورکاوه هغه له کومه اخذکاوه؟ ددې ساده ځواب دادی چي ده هغه ویل چي دحوارییونوڅخه وده ته رسیدلی وو،خوپولس خپله ددې پوښتنې ځواب بل شانته ورکوی اودی وایی؛ماانجیل له انسانانو څخه نه دی حاصل کړی بلکې مادیسوع مسیح څخه په مکاشفه باندی ولاسته راوړی دی، چي ددې څخه مطلب دادی چي ده له هغه څه چي حضرت عیسی علیه السلام اوحوارییونوویل له هغوڅخه انکاردی.[۱۳۷]دپولس داخبره په بایبل کي داسی ده:

---

[۱۳۵] Encyclopedia of Religions and Ethics ۱۹۱۷
[۱۳۶] Floyd.H.Ross and Tyentte Hills: op.cit ۱۳۷
[۱۳۷] Arnold Meyer: Jesus or Paul, London ۱۹۰۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



زماوروڼو!زه تاسوته داخبره صفاکوم چي کوم زیری چي مادرته اورولی دی هغه دبنی آدم جوړکړی نه دی، ځکه چي هغه ماته دچاانسان دطرف نه رارسیدلی اونه چاښنی آدم وماته ښوولی دی بلکې دکشف په معرفت دعیسی مسیح دطرفه شوی دی.

(دګلتیانوپه نوم دپولس رسول خط اول باب: ۱۱- ۱۳)[۱۳۸]

همدارنګه پولس یوناني فلسفه اومشرکانه توهم پرستی اوخیالات په عیسائیت ګډکړل چي پردې باندی عیسایی عالمان هم په یوه خوله دي،
دپولس په لیکونوکي (دیوناني فلسفې په ځانګړی ډول سره دافلاطونیت) پوره اثارمعلومیږی.[۱۳۹]دده ټوله تعلیم پرمکاشفه باندی ولاړؤنه دحضرت عیسی علیه السلام پروښناووانه هم دحوارییڼوپروینااو؛دپولس مکاشفه داسی امکان نلری چي په یوګړی دي ده سره ترتیب اوبرابره کړی وي بلکې دادده دډیروخت پیغام ؤچي بیایی دمکاشفې په ډول سره وخلکوته ښکاره کړه، اواوس ده دعیسائیت څخه یونوی دین جوړکي.[۱۴۰]داچي دپولس لیکونه دانجیلونوڅخه مخکي لیکل شوي دي نوداسی موږویلای شوچي دده لیکونه دانجیلونو لپاره سرچینه ده،فاضل عالم ارنلډ دپولس په هکله زیاتوی:
که دعیسائیت موخه داوي چي حضرت عیسی علیه السلا م دخدای زوی دی،اوپه انساني بڼه سره ومځکي ته راکښته شو ،اوزموږ دګناهونولپاره ئې خپله وینه توی کړل، زموږشفاعت به کوي،اودی زموږدګناهونوکفاره شو نودادحضرت عیسی علیه السلام تعلیم نه دی بلکې ددې بنسټ پولس ایښی دی اوبس.[۱۴۱]ټول عیسایی

[۱۳۸]انجیل شریف اول جیبی چاپ ۱۹۹۶
[۱۳۹] Hammerton: Universal History of the World
[۱۴۰] Encyclopedia of Brit ۱۹۶۲
[۱۴۱] Arnorl Meyer: Jesus or Paul

(c) ketabton.com: The Digital Library



مؤرخین اوخېړونکي په دې باوردي چې داوسني عیسائیت بنسټ ایښودونکي پولس دی.

پولس دعیسائیت ریښې ترهرڅایه پوری ورسولې اودنوی عهدنامې تقریبانیمایی ده لیکلې ده،ده دلومړی څل لپاره ئې دکلیساؤطبقه بندې پیل کړل اوله همدې لپاره ئې یوه غونډه هم وکړل [142] زموږله څېړنوڅخه داپوره معلومیږی چې داوسني عیسائیت بنسټ ایښودونکی پولس دی،ددې څخه علاوه دپولس څرګندونې دحضرت عیسی علیه السلام له ویناووسره په ټکرکي دي،دبیلګې په ډول سره حضرت عیسی علیه السلام وایی چې خدای یو دی لکه په انجیلوکي چې راغلي دي:

ته یواځی ریښتینی خدای ئې اوعیسی مسیح چې تارااستولی دی.

(یوحنا: ۱۷: ۳)[143]

واوری ای بنی اسرائیلوخداوندزموږخدای یودی نوتاسوپه ټول زړه ټول روح اوټول ځواک سره دخپل واحدخدای په وړاندی مینه ولری. (استثناء باب ٦ فقره جات ۴-۵)

عیسی ځواب ورکړ، اول دادی چې ای اسرائیلوواوری! مالک زموږخدای یومالک دی، تاسی دخپل خدای سره دټول زړه سره، دخپل ټول روح سره دخپل ټول عقل اودخپل ټول طاقت سره مینه کوي. (مرقوس ۱۲ باب ۲۹- ۳۱)

اوخدای دټولې نړۍ پاچاشو،هغه خدای یودی اودهغه نوم واحد(یودی). (زکریا ۴۱باب ۸)

اوخدای صرف یوخدای دی.( خط درومیانوپه نامه ۳باب ۳۰)

---

[142] تاریخ کلیسا، پاڼه: ۴۹- ۵۲، لیکوال: ډاکټرډونلډ ډي سمیټن، ژباړن: لیاقت قیصر، خپرونکي: فل ګاسپل آف پاکستان کوټ لکهپت لاهور

[143] عیسایت کیاهے؟ لیکوال: شیخ الاسلام محمدتقی عثمانی، خپرونکي: دارالاشاعت کراچی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای يودی، ايمان يودی، بپتسمه اودټولوخدای يودی.

(خط دافسويونوپه نامه ۴: ٦)

اوس دازلی پاچا يعنی غيرفانی ناليدلی واحدخدای عزت اوجلال دی تل ترتله وی.

(اول خط دتيموتيوس په نوم ۱: ۱۷)

ته په دې خبره ايمان ولره چي خدای يکي يو دی. (خط ديعقوب ۲: ۱۹)

خدای يوائې اويوائې يودی.(خط ديهوداه ۲۵)

په بايبل کي دخدای وحدانيت په ډيروځايونوکي په ښکاره ډول سره راغلی دی، اوداتاسی چي ئې نه منی داستاسوبې انصافې اوگمراهې ده، وتاسوته دابايبل هم دهيڅ شی ارزښت نه لری.

## په بايبل کي دخدای زوی

په بايبل کي چي کوم لفظ د(ځوی) استعمال شوی دی،چي په عبراني ژبه کي دخدای زوی دهرهغه چالپاره استعماليده چي خدای ته به نژدې ؤلکه بايبل چي وايی:

هرڅوک چي دخدای دروح په هدايت چليږي هغه دخدای زوی دی.

(خط درومیانوپه نوم ۸: ۱۴)

دبايبل ددې تعريف څخه وروسته دخدای دزوی استعمال دحضرت عيسی عليه السلام څخه ماسيوا ونوروته هم شوېدي دبېلگې په ډول سره:

نودخدای زامنوولیدل چي دانسانانولونې ښکلی دي. (تکوين ۴: ۲)

دخدای زامن دانسانانودلوڼوسره ولاړل.( تکوين ۴: ۴)

وفرعون ته ووايه چي اسرائيل (يعقوب عليه السلام) زمازوی دی بلکې زمالومړی زوی دی، اوزمازوی پرېږده چي زماعبادت وکړی. (خروج ۴: ۲۲- ۲۴)

زه داسرائيل پلاريم اوابراهيم زمالومړی زوی دی.(ارمياه ۳۰: ۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هغوځايوکي چي وعيسى عليه السلام ته دخداى دزوى لفظ راغلى دى، نودبايبل په حواله ددې مطلب دادى چي عيسى عليه السلام دخداى زوى نه بلکې دالله دحکم منونکي وو.

داچي وحضرت عيسى عليه السلام ته دخداى ځوى ويل شوى دى په عبراني ژبه کي (دخداى زوى) يعنى وخداى ته نژدې،چي په بايبل کي داسى زامن ډير دى چي پورته بيان شول.نوداتوله پولس له ځانه ځخه جوړى کړى خبري دي اوداچي خداى دحضرت عيسى عليه السلام په جسم کي حلول کړيدى، تثليث اوکفاره اوداسى نور تعليمات ئې دعيسائيت بنسټ وگرځول.هغه خبرې چي وحضرت عيسى عليه السلام ته منسوبې دي په انجيلونوکي هغه هيڅکله حضرت عيسى عليه السلام نه دي ويلى چي خدايان (نعوذبالله) درې دي.

## پولس که حضرت عيسى عليه السلام

په بايبل کي راځي:

اته (۸) ورځي وروسته هغه سنت شو اودهغه نوم عيسى کښېښودل شو.(انجيل لوقا۲: ۲۱)

نوبياخداى دابراهيم سره دسنت وعده وکړه اوچي دابراهيم نه اسحاق پيداشونوهغه ئې په اتمه ورځ سنت کړواوهغه شان اسحاق دخپل ځوى يعقوب اويعقوب دخپلوزامنو.(اعمال درسولانو۷: ۸)

هرنرهلک بايدسنت شي. (پيدايښت ۱۷: ۱۰)

ابراهيم د۹۹ کالوؤچي سنت شو.(پيدايښت۱۷: ۲۴)

داسماعيل سنتيدل په يوه ورځ وشوه.(پيدايښت ۱۷: ۲۶)

اسحاق سنت شو.(پيدايښت۲۱: ۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسرائیل ددوهم ځل لپاره سنت شو.(یشوع ۵: ۲)

اوداسې نور......

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پولس وایی:

سنت شوی اوناسنته دواړه هیڅ شی نه دی.(اول خط دکورنتیانو په نوم ۷: ۱۹)
هغه په سنتولومجبورنه کړی.(خط دګلتیانوپه نوم ۳:۲)
اودسنت کیدلوګټه څه ده؟(خط دروميانوپه نوم ۳: ۱)
ګوری زه پولس تاسوته وایم چي که تاسوسنت شی نودمسیح نه به تاسوته هیڅ ګټه نه وي.(خط دګلتیانوپه نوم ۵: ۲)

تاسی وګوری حضرت عیسی علیه السلام په اتمه ورځ سنت شو نوهرهغه عمل چي دی(حضرت عیسی علیه السلام) ئې کوي هغه کاربایدعیسایان هم وکي، وبل لورته پولس بیاوایی چي سنتول کومه ګټه نلری، نوکه ګټه نلری نوحضرت عیسی علیه السلام ولی سنت شو؟ همدااوس ټوله عیسایی نړۍ دپولس خبره منی دحضرت عیسی علیه السلام وخبري اوفعل ته هیڅ ارزښت نه ورکوي ،یوعیسایی هم نه دی سنت. هغه بایبل چي دوی ورباندی ایمان لري په هغه باندی دوی عمل نه کوي،اوس دملګروملتوله لوری یوپروګرام پیل شوی دی اوهغه داچي هغه کسان چي سنت شوي نه وي هغه دډېرو ناروغیوسره لاس اوګرېوان دي نوځکه نړۍ اوس پردې باندی په سلاشوې ده چي بایدهرنرسنت شي هغه که عیسایی وی،هندووی، بودایی وی لادینه وی اوکه بل..... دروغتیادلاسته راوړلوپه موخه.
دسنتولوګټه تاسی زماپه کتاب (اسلام اونوي ساینسي څېړنې ۴ ټوک) کي لوستلای شي.

## پولس له حواری برناباس سره:

پولس په عیسائیت کي داعقایدورزیات کړل،عشایی ربانی، حضرت عیسی علیه السلام دخدا ځوی دی،تثلیث،دختنې (سنتولوحکم) ئې ختم کړ،دتورات احکام ئې منسوخه کړل،په لومړی سرکي کله چي پولس وویل چي زه عیسایی شوی یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



حال داچي ډيروحوارييينو ورباندی باورنه کاوه خوبرناباس ورباندی باوروکي لکه په بايبل کي چي راځي:

کله چي ساؤل وبيت المقدس ته ورسيدی نوهغه کوښښ وکړچي دعيسی منونکوسره يوځای شي اوپه ډله کښې ئې شامل شی خوهغوی ټول دهغه څخه ويريدل ځکه چي دهغوی په دې يقين نه راتلوچي گنی هغه ايمان راوړی دی خوبرنابا(برناباس) دلاسه ونيولور سولانو ته ئې بوتلی اودهغو سره ئې پېژندگلوي وکړه. (اعمال درسولانو۲۷،۲٦:۹)

له دې څخه ورسته پولس دډيروخت لپاره دبرناباس سره ؤ:

اودډيري مودې لپاره پولوس اوبرنباهلته پاته شول اودخدای په توکل ئې په ډاگه اوپه زړه ورتياکلام واورولو.(اعمال درسولانو۳:۱۴)

اوهمدارنگه دپولوس اوبرنبابيان په (اعمادرسولانو۱۳باب،۱۴باب،۱۵ باب) کي لوستلی شی. له دې څخه وروسته دبرناباس له پولس سره اختلاف راغی هغه اختلاف پردې باندی راغی چي کله پولوس خپل نظريات بيان کړل لکه دتورات احکام منسوخول، تثليث،په عيسی عليه السلام کي دخدای حلول،دکفارې عقيده اوداسی نور...

## په بيت المقدس کي دحوارييينوغونډه

په بيت المقدس کي حوارييينوپه دې باندی غونډه جوړه کړه چي بايددتورات په احکاموباندی عمل وشی لکه ختنه(سنتول) اوداسی نورپه دې غونډه کي پطرس، برناباس اويعقوب هم گډون درلود، خوپولس ددې غونډې دپريکړی سره مخالفت وکي :

ددې غونډې بيان په ۱۵ باب کي دی، اودبرناباس اوپولس مخالفت هم پکښې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که تاسودموسی دشریعت په مطابق سنت نه شی نوخلاصون نه شی موندلای په دې
دهغوی سره دپولس اوبرنباډیرسخت بحث وشو.
(اعمال درسولانو۲،۱:۱۵)
له دې څخه وروسته پولوس اوحواری برنباسره بېل شول:
بیاددوی (پولوس اوحواری برناباس) ترمنځ جګړه دومره سخته شوه چې هغوی
یودبل نه جداشول اوبرناباس مرقوس دځان سره کړو او داوبوپه جهازکي وقبرص ته
روان شو.
(اعمال درسولانو۳۹:۱۵- ۴۱)
پولس وویل:
ګوری زه پولس تاسوته وایم چې که تاسوسنت شی نودمسیح نه به تاسوته هیڅ فایده
نه وی. اوڅوک چې دمسیح عیسی سره یووالی لری دهغه نه خوسنتېدل څه
معنالری؟
(خطدګلتیانوپه نوم ۵: ۲- ۱۰)
له دې اختلافاتوڅخه وروسته پولس د(ګلتیانوپه نوم دپولس رسول خط) ولیکي
اودائې وویل چې:
زماوروڼو! زه تاسوته داخبره صفاکوم چې کوم زیری چې مادرته اورولی دی هغه
دبنی آدم جوړکړی نه دی ځکه چې هغه ماته دیوانسان له لوری نه دی رارسیدلی
اونه چابنی ادم وماته ښوولی دی بلکې د کشف  په معرفت دعیسی مسیح دطرف
نه شوی دی.
(دګلتیانوپه نوم دپولس خط۱: ۱۳-۱۱)
داخط ئې خپورکړدحوارییونوپه خلاف باندی اووخلکوته ئې وویل چې وماته کشف
شوی دی اوزه په هرڅه پوهیږم، داخط ئې دبیت المقدس دغونډی څخه وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولیکي دپولس ټول لیکونه ددې غونډې څخه وروسته لیکل شوي دي، داځکه چي دعیسایي عالمانو مطابق دګلتیانولیک دپولس لومړی لیک دی.

برناباس ددې لپاره چي اصل دین له منځه ولاړنشی نویوانجیل ئې ولیکي داانجیل په ۱۷ پېړۍ کي دپاپ اسکټس پنځم په کتب خانه کي وموندل شو برناباس ددې انجیل په لومړۍ پاڼه کي داسی لیکلی دي:

ای انسانانوداسخت کفردی چي څوک وایی چي مسیح دخدای ځوی دی،اودختنې (سنتولو) څخه انکارکوي داهغه حکم دی چي خدای همېشه ددې حکم کړیدی،هری نجسې غوښې جایزي ګڼي، ددې کبله پولس هم ګمراه شو زه په افسوس سره داخبره کوم اوزه له همدې کبله حق وایم.[۱۴۴]

دختنې (سنتولو) حکم دحضرت ابراهیم علیه السلام څخه روان ؤ، په تورات کي هم ددې حکم ښکاره شته، لکه:

زمااوستاترمنځ تړون دادی چي هرنربایدسنت شی، اوکه سنت نه شی نوهغه وعده پوره نکړه اوهغه ایسته که.

(کتاب پیدایښت ۱۷: ۱- ۱۴)

اوحضرت موسی علیه السلام خطاب کوي:

اوپه اتمه ورځ باندی بایددهلک ختنه وشی.

(لاویان/احبار ۱۲: ۳)

خپله حضرت عیسی علیه السلام هم سنت شوی ؤ لکه:

اته ورځی وروسته هغه سنت شواودهغه نوم عیسی کښېښودل شو.

(انجیل لوقا۲۱:۲)

[۱۴۴] (انجیل برناباس ایاتونه ۳- ۸)خپرونکي اداره اسلامیات لاهور ۲۰۰۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوبل خواته لکه چي موږذکرکړل پولس داټول ردکړل اوحتی دحضرت عیسی علیه السلام دسنتولوڅخه انکاراومخالفت ئې ورسره وکړهمدااوس ټوله عیسایی نړۍ دپولس خبره مني اووبل لورته دحضرت عیسی علیه السلام خبره نه منی (چي سنتېدل دی)نوکه دیوسالم عقل خاوندوی خپله به دافیصله وکړی چي ایا اوسنی عیسائیت دحضرت عیسی علیه السلام لارښوونې دي اوکه دپولس خرافات دي؟؟؟

دپولس څخه همدارنګه پطرس اویعقوب هم جلاشول اوهمداسی برخلیک ئې شولکه دبرناباس.

## دبایبل اوتالمودپه هکله دقرآن عزیزبله وړاندوینه

أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ ٱلْقُرْءَانَ ۚ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ ٱللَّهِ لَوَجَدُوا۟ فِيهِ ٱخْتِلَٰفًا كَثِيرًا ﴿٨٢﴾ سورت النسآء: ۸۲

ژباړه:ایانوفکراوغورنه کوي دوی په دې(فصیح بلیغ معجز) قرآن کښې اوکه وي دا(قرآن) له جانبه دغیرالله څخه نوخامخاموندلی به ؤ(دوی) په هغه کښې اختلاف ډیر(لکه چي دبشرپه کلام کښې دمعناګانوتناقض اودالفاظوتفاوت موندل کیږی).

له دې ایات مبارک څخه داجوتیږي چي دهرهغه کتاب چي والله ته منسوب وي په هغه کي به تېکرونه، غلطیانې اونورڅه نه وی پکښې لکه قرآن کریم،اوهرهغه کتاب چي انسان لیکلی وي هغه به ضرورډتېکرونوڅخه ډک وي، غلطیانې به پکښې ترشماروتلی وي،خرافات به زښته پکښې ډېروي،اوداسی بې هوده اوسرګردانه جملې به پکښې وي چي دانسان به سرنه په خلاصیږی چي له دې جملې څخه ئې موخه څه ده لکه بایبل اوتالمودچي عیسایي اویهودي نړۍ ئې وخدای ته منسوبوی اوحال

(c) ketabton.com: The Digital Library



داچي انسانانوليکلی دي اودخدای جلا جلاله دوينامطابق دخرافاتو، غلطيانواوهرڅه څخه ډک دي. چي په راتلونکوکرښوکي به وتاسوته پوره جوته اوروښانه شي.

په بايبل کي تحريفات، غلطياني،تکرونه،فحشا،پوچي اوبې بنسټه خبرې ،درواغ ،اختلافونه،اوداسی نورزښته ډېردي؛ زمادمطالعې په اساس زه ويلای شم چي په بايبل کې لېردخدای خبرې، لږ د پيغمبرانوويناوې ،ډيرې دمؤرخينوخبرې،د يهودو شجرې اوډيرې

داسی ويناوې پکښې شته چي موږنشوکولای چي وخدای، دخدای ورسول،وحواری،وراهب اوزاهد اوحتی ويوه ښه سړي ته ئې منسوبې کړو.

## بايبل ليکلي وحي نه دي!!!

عيسايي علماء وايی چي بايبل داسی وحی نه دي لکه قرآنکريم چي نازل شويدی، چي کله به يوسورت يااياتونه نازيدل هغه به ليکل کېدل اودوحی کاتبان به ورته ناست وو، دوی وايی چي دبايبل ليکوالان چي څلويښت کسه کيږی داپه روح القدس (جبرائيل عليه السلام) باندی معموره وو، روح القدس له دوی سره ؤاودوی ته به ئې څه ويل داوحی دي، اودوی بياليکل،داپه مختلفووختونوکي مختلفواشخاصوليکلی دي، که موږوبايبل ته راشونوپه بايبل کي په روح القدس باندی معموره کيدل،ددې بيلګې ډيري دي لکه:

اليشع دروح القدس نه معموره شوه.(لوقا۱:۴۱)

دهغه پلاررزکرياپه روح القدس معموره شو.(لوقا۱: ٦٧)

عيسی چي دروح القدس نه معموراردن سيندنه واپس شو. (لوقا۱:۴)

اوټول په روح القدس معموره شول،(اعمال درسولانو ۲:۴)

بياپطرس په روح القدس معموره شو.(اعمال درسولانو۴:۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوساول چي ورته پولس هم وايي په روح القدس معموره ۋ.(اعمال درسولانو ۱۳:۹)
وبل لورته که موږوتثلث ته راشو نوروح القدس ئې يوه برخه ده لکه :
For there are three that bear record in heaven, the Father, the Word, and the Holly Ghost: and these three are one. (۱ john,۵ : ۷)

ژباړه:
درې دي چي گواهي ورکوی په اسمان کي پلار،ځوی اوروح القدس اودادرې سره يو دی. (لومړی ليک ديوحنا ۵: ۷- ۹)
داپه (King James Version) بايبل کي اوپه اردوبايبل (کلام مقدس، کاتوليک بايبل کميشن پاکستان ۲۰۱۱) کي شته اوپه (Holly Bile Revised Standard Version ۱۹۵۲) کي بيا دادتثليث ايات نشته، اوکه وعربي اردواوپښتوبايبلوته راشونونوپه هغوکي هم داتثليث نشته په عربی بايبل، پښتوبايبل اواردوبايبلو کي همداديوحناايات ۷ نشته او واتم ايات ته ئې د۷ شماره ورکړيده يعنی تثليث نشته. لاندی بايبلونه وگورئ:
الکتاب المقدس، جمعية الکتاب المقدس فی لبنان- ۱۹۹۳ الطبعة الثلاثون
انجيل شريف، اول جيبی چاپ ۱۹۹۶ميلادی، بايبل سوسايټی پاکستان
کتاب مقدس، پاکستان بايبل سوسايټی انارکلی لاهور ۲۰۱۱
انجيل مقدس، پاکستان بايبل سوسايټی انارکلی لاهور- ۵۴۰۰۰، ۲۰۰۹
په تثلث کي خدای، روح القدس اوحضرت عيسی عليه السلام شامل دي، نودوی وهريوه ته خدای وايی، يعنی خدای خدای دی، روح القدس خدای دی اوحضرت عيسی عليه السلام خدای دی (نعوذبالله من ذالک)او اوس به موږوگوروچي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایادادرسته ده چي ودې خلکوته روح القدس وحی کړیدی اوبیادوی نوشته کړیدی؟؟؟نه هیڅکله داسی نه ده.
که چیری دغه یوروح القدس وی اووټولوته ئې وحی کړې وي نوبیاپه بایبل کي غلطیانې، ټکرونه،تحریفونه اونور.... ولی شتون لری موږبه ئې په یوه بیلګه سره روښانه کړو.په بایبل کي ترسلو(۱۰۰) زیات ټکرونه شتون لری چي موږئې یوه بیلګه وړاندی کوو:

## په بایبل کي ټکرونه

ټکر#۱:

**داود چاوهڅاوه چي داسرائیلوجنګیالی وشمېری؟**

**ا: خدای داکاروکي۔ (دوهم سمئول،۲۴ باب، ۱ ایات)**

**ب: شیطان داکاروکي۔ (لومړی تواریخ، ۲۱ :۱)**

**دنړی په هیڅ مذهب کي داسی نه ده چي خدای اوشیطان دی سره یوشی.**

**ټکر# ۲:**

**دجنګ لپاره څومره داسرائیلوجنګلیالی پیداشول؟**

**ا: ۸۰۰۰۰۰۔ (دوهم سمئویل ۲۴: ۹)**

**ب: ۱۱۰۰۰۰۰۔ (لومړی تواریخ ۲۱: ۵)**

**دایواځی دصفرغلطیانه ده اونه ئې داسی څه معمولی توپیرشته بلکې فرق ئې لکه دځمکي اواسمان.**

**ټکر# ۳:**

**په یهوداه کي څوجنګیالی پیداشول؟**

**ا: ۵۰۰۰۰۰۔ (دوهم سموئیل ۲۴: ۹)**

**ب: ۴۷۰۰۰۰۔ (لومړی تواریخ ۲۱: ۵)**

**ټکر# ۴:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای دخپل پېغمبرداوددترټلولپاره پرهغه څوکاله قحطی راوستله؟

ا: ۷ کاله- (دوهم سموئیل ۲۴: ۱۳)

ب: ۳ کاله- (لومړی تواریخ ۲۱: ۱۲)

ټکر# ۵:

اخزیادڅوکالووچي دده سلطنت پربیت المقدس پیل شو؟

ا: د ۲۲ کالووو- (دوهم پاچایان ۸: ۲٦)

ب: د ۴۲ کالووو- (دوهم تواریخ ۲۲: ۲)

ټکر# ٦:

یهویاکین دڅوکالووچي دبیت المقدس پاچاشو؟

ا: د ۱۸ کالووو- (دوهم سلاطین ۲۴: ۸)

ب: د ۸ کالووو- (دوهم تواریخ ۳٦: ۹)

که ته وماته ووایی چي دادکاتب غلطیاده اویوتوری ورڅخه پاته شوی اویاهم زیات شوی دی، نوزه درته وایم چي په هغه وخت کي عددپه تورولیکل کېدل نه په هندسی اعدادوباندی لکه(اتلس او اته)، اوپاته دی نه وی چي په هغه وخت کي هندسی عدد نه وو.

ټکر# ۷:

داود چي خپله نېزه پورته کړله څوخلک ئې مړه کړل؟

ا: ۸۰۰ خلک ئې مړه کړل- (دوهم سموئیل ۲۳: ۸)

ب: ۳۰۰ خلک ئې مړه کړل- (لومړی تواریخ ۱۱: ۱۱)

ټکر# ۸:

داود کله دعهد صندوق وبیت المقدس ته راوړی دفلسطینیانوترماتې مخکي که وروسته؟

ا: وروسته - (دوهم سموئیل ۵ او٦)

ب: مخکي- (لومړی تواریخ ۱۳ او ۱۴)

ټکر# ۹:

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوپاکې جوړې حیوانات حضرت نوح علیه السلام دخدای په امرسره وکښتی ته ورواچول؟

ا: ۲ جوړې. (پیدایښت ٦: ۱۹، ۲۰)

ب: ۷ جوړې. (پیدایښت ۷: ۲)

ټکر# ۱۰:

عیسی وبیت المقدس ته پرڅوحیواناتوولاړی؟

ا:پریوه ـ بهاڼ. (مراقس ۱۱: ۷، لوقا ۱۹: ۳۵)

نوهغوی عیسی ته بهاڼ راوستی اوخپلې جامې ئې پرې واچولې اوهغه پرسپورشو.

ب: پردووحیواناتو ـ بهاڼ اوخر. (متی ۲۱: ۷)

دوی وعیسی ته بهاڼ اوخرراوستی اوخپلې قباگانې ئې پرکښېښودلې اودی پرسپورشو.

یوائې په نسب نامه کې ٦ ټکرونه دي دبیلگې په ډول سره:

#عیسی دیوسف زوی هغه دعیلی زوی[۱۴۵].(لوقا۳: ۲۳)

په نوروبایبلو کې ئې (عالی) لیکلی دی.[۱۴٦]

#عیسی دیوسف زوی هغه دیعقوب زوی.(متی ۱:۱٦)

اوس به دیوه ټکرڅېړنه وکړو اوهغه داچې حضرت عیسی علیه السلام په بایبل کې څلورپلرونه لري لکه:

۱-حضرت عیسی علیه السلام دیوسف زوی دی. (متی ۱:۱٦)

۲- حضرت عیسی علیه السلام دخدای زوی دی. (مرقوس ۱:۱)

۳- حضرت عیسی علیه السلام دداؤدزوی دی. (متی ۱: ۱)

۴- حضرت عیسی علیه السلام دابراهیم زوی دی .(متی ۱:۱)

Jesus Christ, the son of David, the son of Abraham.

---

[۱۴۵] انجیل شریف، اول جیبي چاپ ۱۹۹۶ میلادي، پاکستان بایبل سوسایټی

[۱۴٦] کلام مقدس، کاتهولک بایبل کمیشن پاکستان،۲۰۱۱

الکتاب المقدس عربی، لبنان، ۱۹۹۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



داځنگه روح القدس دی چي په عين حالت کي ئې ومتی ته وويل چي حضرت عيسی عليه السلام ديوسف زوی دی،بيادده څخه هيرشواوبيائې ورته وويل چي دداؤدزوی دی اوبيائې هيرشول اوورته ئې وويل چي دابراهيم زوی دی،اوبيائې ومرقوس ته وويل چي حضرت عيسی عيسی عليه السلام دخدای زوی دی.

داروح القدس چي دوی ئې خدای بولي څومره ئې هيره زياته ده؟ څومره ئې علم لږدی؟ څومره ئې تجربه لږده؟ ولی پخپلوغلطيانونه پوهيږي؟ ولی ئې وخپلوغلطيانوته نه فکرکيږی؟ ولی هغه څوک چي دروح القدس ويناوی ليکي ولی دهغه نه ورته فکرکيږی؟ په صفت ديوه انسان بايدوخپلوتېکرونوته ئې فکروي،دغه ټول تېکرونه چي راواخستل شی نودمځکي اواسمان ترمنځ ئې توپيرشته ،نوموړويلای شوچي داروح القدس نه دي ورته ويلی، اونه هم دوی په روح القدس باندی معموره شوی دي، بلکې دوی پخپله ليکلی دي اودادبايبل مقدس کتابونه په سلگونوليکوالان لري نه يواځی ۴۰ کسه،کيدای سی چي يوانجيل څوتنوليکوالانوليکلی وي يوه ليکوال داگمان کاوی چي حضرت عيسی عليه السلام دخدای زوی دی، بل داگمان کاوی چي دی ديوسف نجارزوی دی، بل داسی فکرکاوه چي دی دابراهيم زوی دی اوبل داسی گمان کاوه چي دی دداؤدزوی دی اوداسی نور...

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بایبل څکه دخدای کتاب نه دی چي !

## په بایبل کي فحشات دبیلګې په ډول سره:

☚ بیاشمشون وغزې ته ولاړی،اوهلته ده ویوې فاحشی ښځي ته وکتل اودهغې سره دننه ولاړی( جماع ئې ورسره وکړه) .( قضاة ۱۵: ۱)

☚ هغه زناوکړه اودزناله کبله ئې داملک ناپاک کړ اوهغه دډبرې اولرګې سره زناوکړل. (ارمیاه ۳باب: ۹)

☚ هغوی په اسرائیلوکي بدکاري وکړه اودخپلوهمسایه ګانو دښځوسره یی زناوی وکړې. (ارمیاه ۲۹باب: ۲۳)

☚ هغې زناکاری دخپلی چهرې څخه اوبدکارې دخپلوتیودمنځ څخه لیری کړل، زه هغه ټوله نه لوڅوم اوداسی نه کوم لکه دپیدایښت په ورځ چي لوڅه وه. (هوشیع ۲باب: ۲)

اوداسی نور...

☚ په بایبل کي دزناتوری (۲۳) ځله راغلی دی، دزناکارتوری (۱۱) ځله راغلی دی، دزناکاری توری (۸) ځلی راغلی دی، دزناکارانو توری (۴) ځلی راغلی دی، لمن لیکونه ئې دبیلګې په ډول سره:

پیدایښت ۳۸: ۲۴، خروج ۲۰: ۱۴، احبار ۲۰: ۵، استثناء ۲۲: ۲۲، قضات ۲: ۱۷، قضات ۱۵: ۱، امثال ٦: ۳۲ اوداسی نور...

د[هم بستری اوهم اغوشی] (جماع) توری په بایبل کي (۱۵) ځلی راغلی دی، دتیوبیان په بایبل کي(۲۳) ځلی راغلی دی. په دې ټولوفقروکي وزناته تشویق له ورایه معلومیږی اوپرزناباندی بندیزاو مجازات، وشهوت پرستی ته بلنه ده نه رټنه. که په بایبل کي وفحشاء تورو، اياتواوفقروته وګورونوداسی ویلای شوچي په بایبل کي داسی فحشاء شته چي یورښتنی عیسایی ئې وخپلې مور، خوراومېرمنې ته ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشي ويلای، اونه داسی فحشاء يوه ربنتنی عيسايی ښځه اوری،نوموړوېلای
سوچي دادخدای کتاب نه دی بلکې دادخلکوپه گوتوليکل شوی دي،دا داسی
کتابونه دي چي ليکوالانوئي داسی فکرنه کاوه چي دابه وداسی شهرت اومقبوليت
ته ونه رسيږی،بلکې دادنوم ورکو خلکو فاحشي ليکنې دي چي اوس
کليساوحوارينو، وانبياء اونورو عيسايی علماء ته منسوبی کړيدی.
که تاسی پوښتنه وکي چي په قرآنکريم کي خوهم دزناتوری اوبحث راغلی دی، نوزه
به درته ووايم چي په قرآن کريم کي دزناکيسې نشته نه هم وزناته بلنه ده بلكي
حکم ، يندېزاومجازات ئې راغلی دي،
په قرآن عزيزكي دزناپه هکله راځئ:

وَلَا تَقْرَبُوا۟ ٱلزِّنَىٰٓ ۖ إِنَّهُۥ كَانَ فَـٰحِشَةً وَسَآءَ سَبِيلًا ﴿٣٢﴾ .(الاسراء : ۳۲)

ژباړه: اوزناته مه نژدې کيږی، بې شکه چي (زنا) بده کړنه اوبده لاره ده.
يالکه چي قرآن عزيزدزناکارولپاره حدتاکلی دی اوسزاء ئې ورته بيان کړيده اووايي:

ٱلزَّانِيَةُ وَٱلزَّانِى فَٱجْلِدُوا۟ كُلَّ وَٰحِدٍ مِّنْهُمَا مِا۟ئَةَ جَلْدَةٍ ۖ وَلَا تَأْخُذْكُم بِهِمَا رَأْفَةٌ فِى دِينِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْـَٔاخِرِ ۖ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَآئِفَةٌ مِّنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٢﴾ (النور: ۲)

ژباړه:که تاسی پرالله اوداخرت پرورځ ايمان لرئ نوزناکاره (ښځه) اوزناکار (سړی)
له دواړونه هريوسل دُرې ووهئ دالله ددين په اړه دی په تاسی کې پردوی باندی دزړه
سوي احساس نه پاريږی او هغوته دسزا ورکولوپه وخت کښې دی دمؤمنانويوه ډله
موجوده وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په قرآنکریم کې په څومرې ښه اندازسره دزناڅخه منعه شوی ده، اوپه څومرې شدت سره ئې دسزاء حدتاکل شوی دی، اوداهم پکښې بیان شویده چې یوڅو مؤمنان دی دعبرت لپاره موجودوي؛ سبحان الله.

او زناپه ډېرشدت سره منعه شوې ده، په قرآنکریم کې داسې څه نشته لکه په بایبل کې چې حکم ئې نشته اویواځې دزناکیسې دې اووزناته تشویق دی، فلانکې یوه فاحشه پیداکړل اوجماع ئې ورسره وکړل، اوداسې نور..

په بایبل کې داسې فحش بحثونه شته چې انسانیت خولاپرېږده ترحیوانیت لاهم ښکته ځودرجې لوړې دې، دبیلګې په ډول سره حزقیل ۲۳ باب، چې زه یې دشرم له کبله نشم ذکرکولای، اوپیل ئې داسې دی:

دوې ښځې دیوې مورلونې وې، هغوی په مصرکې زناکوله، اوپه ځوانۍ کې ئې سره زناکوله او......

له همدې کبله داسلام دوهم خلیفه امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه اصحاب کرام داهل کتابیه ښځوسره دنکاح څخه منعه وکړل اوهغه داسې:

دکتابیه ښځوسره نکاح کول وامت مسلمه ته په تاریخ کې تاوانونه هم رسولی دی، اووامت ته ئې نقصانات رسولی دي، امیرالمؤمنین حضرت عمررضی الله عنه داحس کړه، اومسلمانان حکمرانان یی په خصوصی ډول سره داهل کتابوسره د نکاح کولوڅخه منع کړل، دحضرت شقیق بن سلمه رضی الله عنه څخه روایت دی چې حضرت حذیفه بن یمان رضی الله عنه کله چې ومداین ته ورسیدی نوهلته ئې دیوی یهودۍ نجلۍ سره نکاح وکړه حضرت عمرفاروق رضی الله عنه چې کله خبرشونوخبریی ورکې نوورته ئې ولیکل چې طلاق ورکړه، حضرت حذیفه رضی الله عنه ورته ولیکل چې ولی دازمالپاره حرامه ده؟؟؟ امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه ورته ولیکل چې حرامه درته نه وایم لیکن ددی خلکوپه ښځوکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



عموما پاکدامنۍ اوعفت نشته، په دی وجه بیرېږم چي ددې خلکوپه ذریعه ستاسوپه کورنی کښې فحاشی اوبدکاری داخله نشی.

دحضرت عمررضی الله عنه دوهم لیک دادی:

**اعزم علیک ان لاتضع کتابی حتی تخلی سبیلها فانی اخاف ان یقتدیک المسلمون فیختاروانسآء اهل الذمة لجمالهن وکفی بذالک فتنة لنسآء المسلمین (کتاب الآثار ص ۱۵٦، بحواله معارف القرآن)**

ژباړه: زه وتاته قسم درکوم چي زماددې لیک نه مخکي چي پخپل لاس کي ئې کښېږدې نووهغې (ښځې) ته طلاق ورکړه، ازاده یی کړه ځکه چي زماویره ده چي نورمسلمانان به هم ستاڅخه عبرت واخلی اوذمیانوکتابیانوښځو لره به ددوی دښکلاپه وجه سره په مسلمانو ښځوباندی ترجیح ورکړی نودمسلمانانوښځودپاره به ددې نه لوی مصیبت بل څه وی.[147]

## ولی وبایبل ته اجازه نشته چي په اسلامي نړۍ کي تبلیغ شی؟

دلبنان یوعیسایی راهب راڅخه پوښتنه وکړه چي دافغانستان اوسعودي په شان اسلامي هیوادونوکي ولی وعیسایانوته اجازه نشته چي بایبل تبلیغ کړی؟،سعودي عربستان دېرسخت بندیز ورباندی لګولی دی اودطالبانوپرمهال هم پوره بندیزورباندی لګېدلی ؤاوحال داچي تاسی مسلمانان په هرعیسایی هیوادکي حق لرئ چي خپل مقدس کتاب قرآن کریم تبلیغ کړی؟

## ځواب:

قرآن کریم خودژوندیوه بشپړضابطه اومکلمه تګلاره ده،دانسان وهری غوښتنې ته ئې ځواب ویلی دی،قرآن کریم دانساني ژونددمثبت ژوندون ضامن دی،انسان

---

[147] (ابوبکر جصاص رازی، احکام القرآن ج۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دبدبختی اوبربادئ ځخه وسوکالۍ اوخوشحالی ته رهبري کوي،دلېونتوب ځخه وسرېتوب ته رهنمایی کوي، دجهالت دتورتم ځخه دخوښی وساحل ته رهبري کوي ؛ وبل لورته وبایبل ته په دې اجازه نشته چې:

۱- بایبل دفحش ځخه ډک دی.

که موږوبایبل ته راشونوبایبل دخرافاتو، پوچو خبرو اوفحاشاتویوخورجین دي، اسلامي ټولنه خولاپرېږده هیڅ دسالم عقل ښتن نه غواړی چي داسی فحاشات پخپله ټولنه اوکورنی کي خپاره کړي، اسلامي ټولنه یوه صفااوشفافه ټولنه ده ، اواسلام وهیچاته اجازه نه ورکوي چي په دې پاکه ټولنه کي گند اوفحش خپور کړي نوځکه په اسلامي نړئ کي دبایبل تبلیغ بنددی. په اسلام کي دفحشاء، بربنډتوب اوبې حیایی منع ده اوپه اسلام کي داسی څوک چي داکارکوي ورته سزاورکول کیږی قرآن کریم ددې په هکله وایی:

إِنَّ ٱلَّذِينَ يُحِبُّونَ أَن تَشِيعَ ٱلْفَٰحِشَةُ فِى ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةِ ۚ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿١٩﴾

ژباړه:

بیشکه هغه کسان چي خوښوی دغه (خبره) چي خپره شي فاحشه بدنامي په حق دهغو کسانوکښې چي ایمان ئې راوړی دی شته دغو(کسانو)ته عذاب دردناکه په دنیاکښې او آخرت کښې اوالله ښه عالم دی اوتاسی نه پوهیږی. (سورت نور:۱۹)

بل ځای په قرآنکریم کي راځي:

قُلْ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّىَ ٱلْفَوَٰحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ

(سورت اعراف: ۱۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه:

ووايه (ای محمده ! دوی ته) بیشکه همداخبره ده چي حرام کړیدی رب زما فواحش(کبیره گناهونه چي موجب دلوی عذاب گرځي) هغه چي ظاهر وي له هغوڅخه اوهغه چي باطن وي.

داچي په بایبل کي دجیمی سویگاټ په آند لس ځایه دمحرماتوسره زناپکښې ده نوځکه دبایبل تبلیغ په اسلامي نړۍ کي منع دی.

۲- دالله جل جلاله په نزدیواځی اویواځی اسلام یواځنی دین دی اوبس، لکه الله جل جلاله چي فرمایي:

إِنَّ ٱلدِّينَ عِندَ ٱللَّهِ ٱلْإِسْلَٰمُ (سورت آل عمران: ۱۹)

ژباړه: بیشکه دین (چي په ټولودینونوکي غوره دی) په نزددالله دین اسلام (محمدی شریعت) دی.

داچي دالله جل جلاله په نزدسره یواځی اویواځی داسلام مبارک دی چي غوره دی نوځکه وعیسائیت، یهودیت، هندومذهب، بودایی مذهب، شنتومذهب، کنفیوشیس مذهب اوداسی نورمذهبونو ته اجازه نشته چي په اسلامي نړۍ کي خپاره شي.

۳- داچي اسلام اوسیاست سره نښتي دي نوځکه په هراسلامي حکومت اوټولنه کي دبایبل تبلیغ منع دی، داځکه چي داسلام قانون ومنسوخودینونوته اجازه نه ورکوي چي تبلیغ شي په اسلامي ټولنه کي، اسلام دعیسائیت په شان دسیاست څخه بیل نه دی، په اروپا، امریکا اونوره نړۍ کي عیسائیت یواځی اویواځی ترمذهبي مراسمواوتشریفاتوپوری منحصردی اوبس.

۴- په حدیث شریف کي راځي:

الاسلام یعلواولایعلی علیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: اسلام به لوړوي اوپرده هیڅ دین نشي لوړیدلای.

داچي اسلام ترټولودینونولوړدی په حقیقت، ماهیت، افکارو ،جوړښت، اصولو،دانسانیت په تعمیرکي، دټولنې په جوړښت کي، دبشریت دسوکالۍ اوخوښۍ لپاره نوځکه وبل دین ته اجازه نشته چي ددې لوړدین (اسلام) لپاره خنډشي، نوځکه وبایبل ته اجازه نشته چي په اسلامي نړۍ کي تبلیغ شي.

۵- داچي بایبل دساینس په رڼاکي ټول غلط دی، اوپه بایبل کي داسی څه نشته چي یادی اخروي گټه پکښې وی اویادی دنیوي گټه پکښې وي داپه لغوکي راځي نوپه اسلام کي هرلغوه حرام دي، نوځکه په اسلامي نړۍ کي وبایبل ته اجازه نشته چي په اسلامي ټولنه کي تبلیغ شي.

دداسی سوالونوپوره ځوابونه تاسی زماپه چاپ شوی کتاب (سوال ځواب) کي لوستلای شي.

۴:په بایبل کي بی معنا، غیرمعقولی،دعقله لیری اوپوچي خبری بی شماره دي.

دبیلگې په ډول سره:

☚خراوبهاڼ ئې راوستل هغوی خپلی قباگانی پرواچولی اوعیسی پری سپورشو.(متی ۲۱: ۵)

اوس که یوڅوک ورته وگوری نودابه ورته جوته شی چي څنگه امکان لری چي یوسړی دی پردووحیواناتو باندی سپورشی، داله عقله څخه لیری خبره ده.

☚اوپه هغه ورځ خدای دخریلوپه ماشین چي دفرات دسنددهغه خوا څخه ئې په کرا یه راوړی ؤداسُوردپاچا دسراوپښوویښتیان ئې وخریل اوحتی ږره ئې هم ورکوچنی کړه. (یسعیا۷: ۲۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس تاسی دغه وخت لپاره پکښې فکروکي، لومړی خدای داسې کمزوری دی (نعوذبالله)چي دسرتراشی ماشین ئې دسینددبلی غاړی څخه په کرایه راوړ، اوبیایې دپاچاسراوپښې وروخریلې اوږره ئې هم ور کوچنۍ کړه یعني که په لنډوکي داسره راټول کړونوبایبل دخدای څخه سرتراش جوړکړ(نعوذبالله)اوهغه هم کمزوری چي هرڅه نلری اوپه کرایه یې راوړی په دې ایاتونوکي حضرت عیسی علیه السلام نه ښئ بلکې لوی لایزال واحد او لاشریک خدای جل جلاله ښئ. (نعوذبالله من ذالک)

☚دده دخدای دسږموڅخه دودراووتی اودخولې څخه اورچي دډېرو سکاره وربلاندی بلیدل (۲ سموئیل ۲۲: ۹)

اوس که ودې ته ځیرشونودخدای پاک څخه ئې څه شی جوړکړیدی، نعوذ باالله من ذالک، څومری پوچه، مالایعنی اوبې هوده خبره ده.

☚اوهغه (شمشون) دخره دزامې تازه هډوکي پیداکي اوپخپل لاس کي ئې واخیستی اوزرکسان ئې په وواهل اوشمشون وویل چي مادخره دزامی په هډوکي سره ۱۰۰۰ کسان فناه کړل .(قضات، ۱۵: ۱۵)

☚له دې وروسته شمجرزوی دعنایت (٦۰۰) فلسطینان ئې دچوکه (هغه لښته چي حیوانات په هی کیږی) ووژل اوده هم اسرائیل خلاص کړل.(قاضیان ۳: ۳۱)

نواوس به قضاوت کووچي یوسړی راولاړیږی اودخره دزامی په هډوکي سره زرکسان وهی اوټوله وژنی داڅنگه عقل منی؟؟؟ که دازرکسان یواځې پرده باندی ناړې تف کړی نودی به له منځه ولاړشی خودازرکسان وده ته ولاړوو اوده ټول په هډوکي وواهل اوده مړه کړل، څومره بی اساسه اوپوچه خبره؟؟!!

☚شمشون ۳۰۰ گیدړی ونیولې، اوشمعې ئې راوړلی اوددوی لکی ئې سره وتړلې اوددولکیو په منځ کي ئې یوه شمعه ورکښیښودل اودوی ئې دفلسطینیانوپه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښتونوکي خوشی کړې اودفلسطینیانو کښت کروندې باغونه اودزیتون وني ئې ټوله وروسوځلې. (قضاة ۱۵: ۴- ۵)

اوس که یوڅوک دعقل په سترګوورته وګوری نوپریکړه به عقل وکړی، چې یوځل ۳۰۰ ګیدړی پیداکول، اودټولولکیانې سره تړل اوبیاشمعه پکښې ایښودل داڅنګه امکان لری؟؟؟

- خرې خبرې وکړی.(اعداد۲۲: ۲۷- ۲۹)
- مرغان پرځلوروځي.(لاویان ۱۱: ۲۰)
- پړانګ ۷ سرونه اولس ښکرونه لري (مکاشفه ۱۳: ۱- ۳)
- ګندګي (غول) خوري اوبولې څښی. (دوهم پاچایان ۱۸: ۲۷)
- زه ستاپرمخ ګندګي (غول) پاشم.(ملاکي ۲: ۳)
- یوحیوان دمرغه په شان څلوروزرونه اوڅلورسرونه درلودل.( دانیال۷: ٦)
- زه به انګولم کالي به کاږم اولوڅ به یم.(میکا۱:۸)
- مارالوځي.(اشعیا/یسعیاه۳۰: ٦، ۱۴: ۲۹، ۳۴: ۱۵)
- خلک دقبرونونه راوتلل اوبیت المقدس ته ولاړل.(متی ۲۷: ۵۱،۵۲)

خلک دقبرونوڅخه راپورته شول اولوڅ روان وو، وبیت المقدس ته دادتعجب خبره ده چې یواځی متی ولیدل اوهغه ولیکل اوبل هیچا ونه لیدل اونه بل انجیل پکښې خبره کړې ده، حال داچې که چیری داسی کاروشی نوټوله نړۍ ورباندی خبریږی داځکه چې دایوه حیرانونکې خبره ده، په بایبل کي ددې تفصیل نورنشته چې داخلک چې راپورته شول داخالص هډوکي (اسکلیټ) ؤ،غوښې ورباندی پرتې وې، کفنونه ئې په تن وو که یا؟ دبایبل په څلویښتولیکوا لانوکي یواځی متی ولیدل اوبس،اوبله خبره داده چې دادحضرت عیسی علیه السلام معجزه هم نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده،اوبیاکله چي یوڅوک له قبره ژوندی شی هغه بیاداغواړی چي وقبرته ولاړشي نه هیڅکله نه.داخلک بیاڅه شول؟ څه ئې وکړل؟ اوچیری ولاړل؟

☚داؤدپورته شودئ اودده خلک ولاړل اودفلسطینیانودوه سوه (۲۰۰) سرې ئې وواهل اوداؤدئې پوستکي راوړل اووپاچاته ئې وشمېرل ترڅودپاچازوم شی اوشاول خپله لورمیکل په نکاح ورکړه.. (۱سموئېل ۱۸: ۲۷)

له (۲۰۰) کسانوڅخه پوست کښل اوبیادیوه حیوان دپوستکي په شان هغه راوړل اوبیاشمارل چي دادیوې ښځې مهرشو.

داخوئې یوڅوبیلګې وې اوهمداسی په زرهاووپوچي، بیهوده اوبې ثمره ویناوي ډیري پکښې شته.

یوه ورځ مي داپوچي اوله عقله لیری فقرې دبایبل دیوه عیسایی راهب سره شریکې کړې، هغه هم حیران شوداځکه چي وهغه ته هم تولی معلومی نه وې،ددوی هغه دبایبل فقرې ښه یادوي چي ددوی په ګټه وي،بیامنکرشواوکله چي مادهرایات اوباب شماره ورکړه بیایی راته وویل دامه خپره وه داګوره چالیکلی اوګوره په څه وخت کي دخدای دکلام سره یوځای شوې وي،اودائې هم راته وویل چي داچټیات دخدای کلام نه دادیوه سپک کس یاکسانو څرګندونې دي. ماورته وویل چي ته خطاوتلی ئې دادخدی کلام دی، چي خدای نه په شرمیږی نوته ولی په شرمیږې؟ ده راته وویل چي دا زه په پوره یقین سره درته ویلای شم چي دادخدای کلام نه دی دادحوراپینوکلام نه دی اونه هم دادیوه عیسایی عالم وینا ده.

نوپه بایبل کي داسی خرافات شته چي خپله عیسایان وربandی شرمیږی.

لکه څرنګه چي داکتاب یوائې پربایبل باندی رڼااچوي نوځکه دلته دبایبل نوم ذکرکوو، الله جل جلاله دبایبل په هکله یوه بله ښکلې خبره کوي اوفرمایي:

﴿يُحَرِّفُونَ ٱلْكَلِمَ مِنۢ بَعْدِ مَوَاضِعِهِۦ﴾ (سورت المآئدة:۴۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه:دوی اړوي کلمې وروسته له هغوځایونوځپلوځخه.
دادیهودواوعیسایانودپیرپوراهیسی داناروغې ده چي یوځل بایبل یوشانته کي اوکله ئې بیابل شانته،کله ئې یوه کلمه یوځای کنښېږدی اوکله ئې بیابل ځای کنښېږدي یعنی پخپلومقدسو کتابونوکي تحریف ددوی دزرگونوکلونوراهیسی ناوړه ناروغې ده،کله یوه فقره یوځای وصل کړی اوکله بل ځای دادهمدې تحریف وجه ده چي دبایبل (۲۴۰۰۰) زره نسخې لیکل شوي دي اودوې نسخې ئې یوشانته نه دي اوهم هغه بایبلونه چي په مختلفوژبوکي لیکل شوي دي هم یوډول نه دی، نوالله جل جلاله وموږته وایی چي تاسی ودوی ته وگوری لومړی ئې پخپلولاسونوباندی لیکلی دي،دوهم داچي هغه دتکرونواوغلطیانوډک دي اودریم داچي دابه ترقیامته پوری درست نه شی داځکه چي تحریف به پکښې شروع وي، چي همداتحریف هرانسان پخپلوسترگولیدلای شي.
هربایبل چي چاپیږی نوپرهغه باندی لیکل شوي وی اصلاح شوی (Revised) نودبایبل دااصلاح به ترقیامته پوری وي اودابایبل به اصلاح نشي.

## په بایبل کي تحریف

کتاب آستر/استیر:
هورن صاحب دانجیل په تفسیرکي لیکي:
زموږسره چي کوم داسترکتاب موجوددی هغه استرباب ۱۰ ایات ۳ باندی ختم دی،لیکن په یوناني اولاطیني نسخه کي ددې باب دلسوایاتونوځخه اضافه ٦نوربابونه شتون لری دیونان اوروم کلیساوی داټول مني.[۱۴۸]
بله بیلگه ئې لکه موږچي مخکي بیان کړل هغه داچي:

[۱۴۸] اعجاز عیسوی،۱۶۵یکوال: مناظر اسلام مولانارحمت الله کیرانوی رح، اداره اسلامیات لاهور

(c) ketabton.com: The Digital Library



دتثلیث ایات  چي په یوه بایبل کي شته اوپه بل کي ئې غورځولې وي.هغه ایات دادی:

درې دي چي گواهې ورکوی په اسمان کي پلار،ځوی اوروح القدس اودادرې سره یو دي. (لومړی لیک دیوحنا ۵: ۷- ۹)

داپه  (King James Version) بایبل کي اوپه اردوبایبل  (کلام مقدس، کاتولیک بایبل کمیشن پاکستان ۲۰۱۱

)  کي شته اوپه Version  (۱۹۵۲ Holly Bile Revised Standard) کي بیا دادتثلیث ایات نشته، اوکه وعربي اردو او پښتوبایبلوته راشونوپه هغوکي هم داتثلیث نشته په

عربی بایبل، پښتوبایبل اواردوبایبلو  کي همدادیوحناایات ۷ نشته او واتم ایات ته ئې د۷ شماره ورکړیده یعنی تثلیث نشته. لاندی بایبلونه وگورئ:

الکتاب المقدس، جمعیة الکتاب المقدس فی لبنان- ۱۹۹۳ الطبعة الثلاثون

انجیل شریف، اول جیبی چاپ ۱۹۹۶میلادی، بایبل سوسایټی پاکستان

کتاب مقدس، پاکستان بایبل سوسایټی انارکلی لاهور ۲۰۱۱

انجیل مقدس، پاکستان بایبل سوسایټی انارکلی لاهور- ۵۴۰۰۰، ۲۰۰۹

همداسی په سلهاونورمثالونه.

## الله که خدای؟

که موږدبایبلوتحریف ته وگورنودمکتب دلومړی ټولگی شاگردهم په دې پوهیږی چي په بایبل کي څومری تحریفونه هره ورځ ومخی ته راځی زه به دهغوبایبلوبیلگه درکړم چي زماسره شتون لری

هغه بایبل چي په ۱۸۹۵ میلادی کال کي دلویی برطانیې دامپراطوری پرمهال په لندن کي په پښتوباندی چاپ شوی دی دهغه بایبل نوم دی (دالله کلام) اوپه ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتاب کې وخدای ته د(الله) توری راغلی دی،یواځې دکتاب یشوع په لومړی باب کې (۵) ځلې دالله توری راغلی دی وبل لورته د اوسني وخت بایبل په (۲۰۰۰) ژبوباندی ژباړل شوی دی ماسوادعربی بایبلوڅخه بل په هیڅ بایبل کې د(الله) توری نشته،نه په پښتوکې، نه په اردوکې، نه په انگلیسي کې، نه په هسپانوی کې، نه په جرمني کې اونه هم په بله ژبه کې.

عیسایی نړۍ هوښیاره ده، دالله نوم ئې ځکه استعمالاوه چې مسلمانان ورته الله وایی، اومسلمانان ورباندی غولوي ودوی ته داپه فکرکې ورکوي چې داهم دالله کلام دی،وبل لورته اوس امت مسلمه ورسره اشناشوی دی اوپه مالیزیاکې پردې باندی بندیز ولگیدی، هیڅ غیرمسلمان ( په ځانگړې ډول سره عیسایان) نشی کولای چې په خپلوبایبلواولیکنوکې دالله توری استعمال کړی دمالیزیادستری محکمې قاضی قضات محمدآفندی علی وویل چې دالله دتوری استعمال دعیسائیت سره هیڅ تړاونلري. په مالیزیاکې دعیسایانوورځپاڼه هیرالډ (Herald) کې عیسایی راهبانولیکلی وه چې موږداتوری (الله) د۱۷۳۱ میلادي کاله راهیسی استعمالوو خو محکمې ورته وویل چې تاسی ددې سپیڅلی نامه څخه استفاده کوئ اومسلمانان تاسی په دې سره مرتدکوئ، اومحکمې داپریکړه صادره کړه. تاسی کولای شی ددې بحث تړوله لیکنه په لاندی لنک کې دانټرنیټ له لاری وگوری:

http://rt.com/news/malaysian-court-ban-allah-۱۶۰

## ولی عیسایان دالله جل جلاله نوم نشی استعمالولای؟

<u>دالله جل جلاله دنامه څېړنه</u>

الله، معبودبحق، اصله (أله) دخلت علیه (أل) ثم حذفت همزته وادغم اللامان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله ومعبوبرحق ته ویل کیږی، دالله نوم په اصل کي (أله)ؤ، چي وروسته (ألْ) پرداخل شو یعنی (أل أله) شو، دوه لامان سره یوځای شول، چي ددوی دادغام له کبله همزه ولاړه او(الله) ورڅخه جوړشو.

اللهم: کلمة تستعمل فی النداء مثل، یاالله

د(اللهم) کلمه دنداء لپاره استعمالیږی، چي کله موږوالله ته خپل اوازکوو لکه (یاالله).[149]

اوس داجوته شوه چي د(الله) نوم دالله جل جلاله لپاره اسم ذات دی، اودمعبودبرحق په معناسره دی، چي دالفظ دهیچالپاره نشی استعمالیدلای،داچي عیسایان وحضرت عیسی علیه السلام اوحضرت جبرائیل علیه السلام ته هم الله وایی اودا(تثلیث) دعیسائیت اصل دی نوځکه وعیسایانوته اجازه نشته چي ددې سپیڅلی نامه (الله) څخه غلطه استفاده وکړی اودوی داکار کوي په ځانګړي ډول سره په عربي اوغیرعربي نړۍ کي.

## په بایبل کي خیالي ،مبهم اوسرګردانه نومونه

په بایبل کي داسی نومونه شتون لري چي نه په ټوله عیسایی نړۍ کي شتون لري اونه هم یوراهب په پوهیږي دبیلګي په ډول سره:

مصرایم،عمامیم،لهابیم،نفتوحیم،فترونیم،کسلوحیم، فلستیم،کفتوریم. (اول روزنامه ۱: ۱۱، ۱۲) اوداسی نور...

---

[149]المعجم الوسیط: دار الدعوة مؤسسة ثقافیة للتالیف و الطباعة و النشر و التوزیع استانبول – ترکیه- ۱۹۸۹ میلادی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرحوم شیخ احمددیدات رحمة الله علیه چي کله دیوه فلسطیني عرب عیسایی انیس شروش سره مناظره وه (کوم یو دخدای کلام دی؟ قرآن که بایبل؟) نو۱۲۰۰۰ ناستوخلکوته ئې وویل چي که چاوماته دیوه عیسایی دپیدایښت پانه راوړه چي داپورته یونوم پکښې راغلی ؤزه به دهرنامه پرسرباندی ۱۰۰ پاونډه ورکړم، خوهیڅ یوپیدانشو، بیایی پوښتنه وکړه چي څوک ددې نومونوپه معناباندی پوهیږی؟ هیڅوک پیدانشو.

چي ددې څخه مطلب دادی چي خپله عیسایان هم نه ورباندی پوهیږی اونه ئې هم اورېدلي دي، ددې کتاب (روزنامه) لیکوال چي څه په فکراوتخیل کي راغلی دي هغه ئې لیکلی دي.

## په بایبل کي غلطیانې دبیلگي په ډول سره:

کتاب خروج باب ۱۲: ۴۰ کي راغلی دي:

بنی اسرائیلوپه مصرکي ۴۳۰ کاله تیرکړل.

ددې اصلي نېټه ۲۱۵ کاله ده،چي پردې باندی عیسایی مفسرین اومؤرخین په یوه خوله دي.

کتاب سموئیل دوهم باب ۱۵:۷کي څلویښت دی، اوپه ۸ ایات کي (ارام) دی چي دادواړه غلط دي اوپه اصل کي د(۴۰) پرځای (۴) دي اود(ارام) پرځای (ادوم) دی. په ځینوبایبلوکي ئې اصلاح کړی دي اوپه ځینوکي لاپاتي دي. [۱۵۰]

اوداسی نورې په سلهاوو....

[۱۵۰] بایبل سے قرآن تک ج۔ ۱، ص ۴۵۱ظہار الحق کااردوشرح )لیکوال: شیخ الاسلام حضرت مولانامحمدتقی عثمانی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په بایبل کي پنځوس زره (۵۰۰۰۰) غلطیانې:

دعیسایي علماء له لوری خپرېدونکې یوه مجله چي داوېک (Awake) په نامه سره یادېږی په ۸ سپتمبر۱۹۵۷ په سرلیک کي لیکل شوی وه : ((۵۰۰۰۰ پنځوس زره غلطیانې په بایبل کي))داسرلیک ورکول شوی ؤ،[151] چي ددې مجلې کاپي وماته دجنوبی افریقاڅخه راغلې ده،داچي خپله عیسایی علماء په دې باندی اعتراف کوي چي په بایبل کي په دومری زیات شمېرسره غلطیانې شته نواخرله بایبل څخه څه شی جوړشو؟؟؟

## په بایبل کي دانبیاء په هکله گستاخي

۱- دحضرت نوح علیه السلام په هکله گستاخي.
۲- دحضرت لوط علیه السلام په هلکه گستاخي.
۳- دحضرت یعقوب علیه السلام په هلکه گستاخي.
۴- دحضرت سلیمان علیه السلام په هکله گستاخي.
۵- دحضرت داؤدعلیه السلام په هکله گستاخي.
٦- دحضرت موسی علیه السلام په هلکه گستاخي.
۷- دحضرت هارون علیه السلام په هکله گستاخي.
۸- دحضرت ایوب علیه السلام په هکله گستاخي.

ټول انبیاء علیهم الصلوة والسلام معصوم دي،ټوله ۱۲۴۰۰۰ زیات اوکم چي انبیاء کرام دانسانانودهدایت لپاره رالیږل شوي دي داټوله دالله جل جلاله غوره خلک وو،داڅنگه امکان لري چي الله جل جلاله دی یو څوک خوښ کړی وی دانسانانودهدایت لپاره اوبیادی هغه دالله جل جلاله داحکاموڅخه نافرماني

[151] Is the Bible God*s Word?pp.۱۲،۱۳ by Ahmed Deedat۲۰۰۸/ printed: Ministry of Awqaf and Islamic Affairs Department State of Qatar

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړی؟!! په گستاخیوکي شراب خوړل، زناکول،بې صبري کول اوداسی نورشامل دي العیاذبالله، بلکې کومولیکوالانوچي بایبل لیکی دادهغودچټل ذهن محصول دی داسی امکان نلري چي لایزال جل جلاله دی یو څوک انتخاب کړی وی اوبیادی هغه نافرماني وکړی اوغیرمعصوم دي وي داهیڅ امکان نلري. بلکې انبیاء ټوله معصوم دي.

## په بایبل کي ساینسي غلطیانې دبیلگې په ډول

په بایبل کي ساینسي هیڅ شی نشته چي پردې باندی دفرانسې وتلی ساینس پوه ډاکترموریس بوکایی یوکتاب (قرآن اوبایبل دساینس په رڼاکي) هم لیکلی دی،خوموږاوس نشوکولای چي دبایبل ټولې ساینسي غلطیانې دلته راوړودبیلگې په ډول سره به پریو څو غلطیانوباندی یوڅه رڼاواچوو،نورقضاوت تاسی خپله کولای شی.

۱- که دښځې هلک پیداشودهغې ناپاکي (نفاس)۷ ورځې ده اوکه ئې نجلی پیداشوه نودهغې ناپاکي دوې اوونی (۱۴ ورځې ) ده.

احبار۱۲: ۱- ۷)

په اوسني ساینس کي دهلک اونجلی په پیداکیدوکي دښځې په ناپاکی کي هیڅ توپیرنشته،کله دهلک موده اوږده شی اوکله دنجلی موده اوږده شی چي هغه خپل وځانته عوامل لري؛ نوځکه ویلای شوچي داغلط دی.

۲- بیاابلیس هغه دیوه دنگ غره څوکې ته وخیژاوه اودنیاټولې پاچاهی ئې ورته په پوره شان اوشوکت سره څرگندی کړې.

(متی ۴: ۸)، (لوقا۴: ۵)

اوس شیطان حضرت عیسی علیه السلام ویوه غټ غره ته وخیژاوه اوټوله دنیائې په ولیدله،چي له دې څخه دامعلومیږی چي داهغه وخت امکان لری چي کله ځمکه

(c) ketabton.com: The Digital Library


اواره وي ټوله اوحال داچي اوسنی ساينس وايی چي ځمکه کروي اوياهم وهګی ته ورته شکل لری،چي له همدې کبله په يوه ځای کي شپه اوپه بل ځای کي ورځ وي؛ نو ويلای شوچي داهم غلطه ده.

۳- خدای په لومړی ورځ رڼاپيداکړل.(پيدايښت ۳:۱- ٦)

خدای ستوري لمراونورپيداکړل په څلورمه ورځ(پيدايښت ۱: ۱۴- ۱۹)

اوس دلته څنګه امکان لري چي لمراوستوري دی نه وي اورڼادي وي. داهم دساينس له دايرې څخه وتلې اوغلطه ده.

۴- ځمکه په دريمه ورځ پيداشول(پيدايښت ۱: ۹- ۱۳)

شپه اوورځ ئې په لومړی ورځ پيداکړل. (پيدايښت ۱: ۵)

شپه اوورځ دځمکې دحرکت څخه ولاسته راځی داڅنګه امکان لري چي ځمکه دي نه وي اوشپه اوورځ دي وي داهم په ساينس کي غلطه ده.

۵- ځمکه په دريمه ورځ پيداشوه(پيدايښت ۱: ۹- ۱۳)

لمراوسپوږمی په څلورمه ورځ پيداشول. (پيدايښت ۱: ۱۴- ۱۹)

داڅنګه امکان لري چي ځمکه دی ترلمراوسپوږمی مخکي پيداشوی وي اوسنی ساينس وايی چي داټول سره يوځای وه اوکله چي په حرکت کي راغلل بياځمکه ، سپوږمی، ستوري او نور پيداشول چي داهم غيرساينسي اوغلطه ده.

٦-سبزيجات، نباتات، ونې اوميوې ئې په دريمه ورځ باندی پيداکړل (پيدايښت ۱: ۱۱- ۱۳)

لمراوسپوږمی په څلورمه ورځ پيداشول. (پيدايښت ۱: ۱۴- ۱۹)

نباتات، وني ، ميوې اونور... څنګه بې دلمردشعاؤڅخه امکان لری، داهم غيرساينسي اوغلطه ده.

۷- اسمان ستنې لري. (ايوب ٢٦: ۱۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



داهم ترلرسپينه ده چي داغيرساينسي اوغلطه ده، اواسمان هيڅ ځای ستنې نه لري.
۸- نه داچي يواځي اسمان ستنې لري بلکې په بايبل کي راغلی دي چي ځمکه هم ستنې لري لکه:
(لومړی سموئيل ۲: ۸)، (ايوب۹: ٦)،(زبور ۷۵: ۳)
چي داهم په ساينسي توگه سره ښکاره درواغ اوغلطه ده.
۹- اوخدای وويل وگوری هرنبات چي تخم لري،اوټولې ونې وتاسوته درکوم اوداستاسوخوراک دی،اودمځکې وټولوحيواناتو اوداسمان وټولومرغانوته اوټوله چي پرځمکه باندی گرځي اوژوند کوي وهغوټولوته شنه نباتات ددوی خوراک ورکوم.
(پيدايښت ۱: ۲۹- ۳۱)
داپه دې غيرساينسي اوغلطه ده چي په نباتاتوکې داسی زهرجن نباتات شتون لري چي دژونديوموجوداتو دمرگ سبب گرځي،انسان له منځه وړی، مرغان له منځه وړی اوحيوانات له منځه وړي.
۱۰- دايمان په راوړلوبه تری دامعجزې څرگنديږی، چي زماپه نوم به پيريان ليري کوي اوپه نااشناژبوباندی به خبرې کوي، که هغوی مارانوته لاس وروړی يازهروخوری نوهغوی ته به ضررنه رسيږی اوپه کومونارو‌غانوچي هغوی لاس کښيږدی هغوی به جوړشي.
(مرقوس ۱٦:۱۷- ۱۹)
دادبايبل ازمايښت دی دعيسايانولپاره،ايادعيسائيت په ۲۰۰۰ کلن تاريخ کي داسی څوک پيداشوی دی چي زهروخښبي اوهيڅ په ونشي؟؟ نه هيڅکله نه**!**ايااپه اوسنی نړی کي به داسی راهب، پاپ، بيشف، پاسټراوعيسايي وي چي زهروخښبي اوهيڅ په ونشي؟؟؟ نه هيڅکله نه**!** ايادعيسائيت په تاريخ کي داسی پاپ ياراهب تيرشوی دی چي دخلکودناروغيودرملنه ئې په لاس تيرولوسره کړې وی؟؟؟ نه هيڅکله نه**!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایاداسې پاپ یابیشف په اوسني وخت کي شته چي په ۱۰ ژبوسره خبرې کوي؟؟؟ نه هیڅکله نه! داټوله اوهرڅه غیرساینسي دي .

۱۱- دوبااوبلاڅخه دخلاصون لپاره په بایبل کي درملنه:

دوې چوغکي ونیسی،یوه چوغکه دخاورې په لوښی کي حلاله کړی اووینه ئې دروانواوبوسره ګډی کړی، لرګی راواخلی اواندازه ئې کي اوهغه بله ژوندی چوغکه په روانواوبوکي چخ کړی،په دغو اوبوباندی خپل دکوردیوالونه ۷ ځلی ولړی.

(لاویان۱۴: ۴۹- ۵۲)

اوس ساینس داثابته کړې ده چي په وینه کي تر۲۰۰۰ څخه زیات جراثیم شتون لری، اوپه سلهاوومرګونی ناروغی ورڅخه پیداکیږی دبیلګې په ډول سره:

حساسیت (Allergy)، دزړه بدوالی (Nausea)، هرپس (Herpes)، کاندیدیا(Candidia)، سالمونیلا (Salmonella)، دکورو(Kuru)، سکراپی (Scrapie) ، حجرومرګ (Cell-Death)، انسفالوپاتی (Encephalopathy)، دماغي پریشانی (Depression)، زهر(Toxin)،(Haemochromatosis) ، (Syphilis)، هیپاټایټس اي، بي اوسي،اوداسی نور...

۱۲- په بایبل کي دزنادمعلومولولپاره ازموینه:

که یوې ښځې زناوکړه نوکاهن دی سپیڅلی اوبه دخاوروپه لوښی کي واخلی اودمځکي ګرځ دی ورواچوی اوس دااوبه ترخې شوې کله چي کاهن لعنت ورباندی ووایی نودااوبه دي ودې ښځې ته ورکړی که چیری دې ښځې زناکړې وه نس به ئې وپړسیږی اوورون به ئې وروست شي،اوخلک به لعنت ورباندی ووایی،اوکه چیری ښځې زنانه وه کړې نودابه پاکه پاتي شی اواولادبه ئې پیداشی.

(اعداد۵: ۱۱- ۳۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس دبايبل ودې خرافاتواوچټياتوته تاسی وګوری،اياکله هم په عيسايی ټولنه کې داسی ازمايښت شوی دی؟ ولی ئې دوی نه کوی؟ داځکه چې داخپله يوتخيل دی نه حقيقت،داځنګه غيرمعقوله خبره ده که ئې زناکړې وه دهغې اولادنه پيداکيږی اوکه ئې زنانه وه کړې دهغې اولادپيداکيږی چې داهم له عقله ليری ده، هم له ساينسه ليری خبره.

په بايبل کې په سلهاوساينسي غلطيانې شتون لري چې دلته پرهرې غلطی باندی رڼااچول ناشونې ده.

## په بايبل کي ساينسي غلطيانې دموريس بوکايی له نظره:

ډاکټرموريس بوکايی پخپل کتاب[۱۵۲] کې پردې باندی پوره بحث کړيدی اوبايبل اوقرآن عزيزئې دساينس په ترازوکې څېړلې دي ،اودده لومړۍ خبره داده چې بايبل دساينس سره په ټکرکې دی ،ده ډېرمثالونه هم رااخيستی دي چې زه به ئې يوڅوبيلګې درته راواخلم.

☚په لومړي سرکې خدای اسمان اوځمکې پيداکړلې.(خروج ۱:۱)

دادساينس سره په دې باندی په ټکرکې دی چې ساينس وايی چې داټوله نظام دمځکې اواسمانويودودؤ.

☚مارخاوره خوري.(ميکاه ۷: ۱۷)

اوس ومورته معلومه ده چې ماران مختلف شيان خوري ماران موږکان خوری، ماران خوری، چوغکې خوری،اوداسی نور... نودبايبل داخبره چې ماران خاوره

---

[۱۵۲] The Bible, The Quraan and Science

By: Dr. Maurice Bucaille

Translated From French by: Alastair D. Pannell and The Author

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوری داداوسني ساینس سره په پوره ټکرکي ده، دمیکاه لیکوال په هغه وخت کي دومره پوهه درلوده چي ماران یواځی اویواځی خاوره خوری اوبس اوداخبره داسی نه ده.

ددې کتاب ټول بحث تاسی زماپه راتلونکي کتاب (ایابایبل دخدای کتاب دی؟) لوستلای شي انشاء الله.

## یادونه:

تاسی کولای شی چي زماپه راتلونکي کتاب (ایابایبل دخدای کتاب دی؟) دبایبل دتحریفاتو، غلطیانو،ټکرونو، فحشاؤ، بې هوده خبرو،پوچواوسرگردانوویناووپه هکله پوره تفصیل ولولی، په دې کتاب کي (ایابایبل دخدای کتاب دی؟) پردې باندی ټول بحث شوی دی چي بایبل په هیڅ صورت دخدای کتاب نه دی اونه ئې یودسالم عقل خاوندوخدای جل جلاله ته، وپیغمبرته اویاویوه حواري ته منسوبولای شي.

## دراهب یوحنالبناني سره دبایبل په هکله بحث

زه تل دعیسایی علماء سره بحث کوم، کله له دوی څخه معلومات راټولوم، کله پوښتني ورڅخه کوم، کله دوی پوښتنې راڅخه کوی داسلام په هکله،چي له همدغوعیسایی علماء څخه یوهم راهب یوحنا لبناني دی، چي وماته ئې یوعربي بایبل (الکتاب المقدس) دلبنان څخه راولیږی، ددې کتاب په پیل کي می ورڅخه وپوښتل چي تاسی څه نظرلری چي ایابایبل دخدای کتاب دی؟ نوده دبایبل درې ایاتونه راته وړاندی کړل اوراته ئې وویل چي په دې ایاتوسره موږویلای شوچي دادخدای کتاب دی.

١- هره صحیفه دخدای دروح دالهام په وسیله ده.
(دتیموتیوس په نوم دپولس رسول دوهم لیک باب٣: ١٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- خولومړی په دې پوه شی چي دکتاب مقدس دنبیانوکلام دځه خبری تاویل دچاپه واک کي نه کیږی .

(دوهم خط دپطروس باب۱: ۲۰ - ۲۱)

۳-په بایبل کي ډیرځلی داسی راغلی دي:

خدای وموسی ته وویل، موسی وخدای ته وویل، خدای ویوشع ته وویل اوداسی نور...

## وښاغلی یوحنالبناني ته زماځرګندونې

دبایبل هغه ایات چي تاسی لومړی وړاندی کړ په هغه کي صحیفه ذکرشوې ده،کتاب نه دی پکښې ذکرشوی ، په کوم وخت کي چي پولس رسول دالیک لیکي نوپه هغه وخت کي دبایبل نوې عهدنامه خوبالکل نه وه،اوحتی دعهدنامه قدیم ډیرکتابونه هم نه وو،نوپولس رسول ضرورخبره په صحیفوکي دحضرت ابراهیم علیه السلام اوپه صحیفوکي دنوروانبیاء کوله، که تاسی داراته ووایاست چي په هغه وخت کي وحضرت موسی علیه السلام ته منسوب تورات شتون درلودی، نوزه درته وایم چي لومړی پولس رسول دالیک خپله لیکلی دی اودی دانه وایی چي خدای وماته الهام وکي اویاروح القدس وماته وویل، دوهم داچي پولس رسول دالیکونه په هغه وخت کي دخاصوخلکولپاره په خاص وخت کي لیکلی دي ده هم دافکرنه کاوه چي یووخت دی زمادالیکونه دبایبل یوه برخه وګرځي.

ستاسوددوهم ایات په هکله بایدووایم چي پولس رسول چي کومه خبره کړې ده دادعهدنامه قدیم په هکله ده، نه دنوی عهدنامې په هکله، بل داچي پولس رسول چي څه لیکل هغه داپه یوخاص حالت کي وخاصوخلکوته لیکل،داچي په اوسني بایبل کي (۱۴) کتابونه شکمن دي اوټوله عیسایي نړۍ ته دمنلونه دي اودپولس رسول په وخت کي نوی عهدنامه نه وه موجوده، یعنی (۲۷) کتابونه چي ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲۷+۱۴=۴۱) دي نوهلته په بایبل کي څه شی پاتي شول یوڅومحدود کتابونه ویهودوته پاتی شول اوهغه هم دپولس رسول څخه په ورستو برخوکي څوځلي له منځه ولاړل.

ستاسوددریم دلیل په ځواب کي بایدووایم چي دامنم چي په بایبل کي راغلی دي چي موسی وخدای ته وویل، اوخدای وموسی ته وویل، یوشع وخدای ته وویل اوخدای ویوشع ته وویل اوهمدارنگه دنوروپه هکله،اوس دادلیل څوک وړاندی کولای شی چي په واقعیت کي خدای داخبره وموسی علیه السلام اویاهم وبل نبی ته کړیده که یا؟ خپله حضرت موسی علیه السلام اویاهم بل نبی نه دی لیکلی چي خدای وماته وویل اوماوخدای ته وویل ، داداسی شوي دي چي دانبیاء کرامودمرگ څخه ډیروخت ورروسته یونوم ورکي کس لیکلی دي، ده هم له خلکواوریدلی دی چي پلانکي نبی وخدای ته داسی وویل اوخدای بیاداسی ورته وویل، نووداسی ویناووته څنگه موږویلای شو چي دادي دخدای کتاب شي اویادی هم دپیغمبرانو لیکنه اوکتابونه شی حال داچي هیڅ نبی نه دي ورته لیکلی چي داکتاب مالیکلی دی اویاهم مالاسلیک اویامهرکړی دی.

زه غواړم چي ستاسوددریوایاتوپه مقابل کي درې دبایبل ایاتونه درته روښانه کړم چي بایبل دخدای کتاب اویاهم کلام نه دی. اوپولس رسول وایی چي زه درته وایم نه خدای.

۱- نوروته هم زه وایم، نه چي مالک که دچاوروربڼځه ایمانداره نه وي اودهغه سره په استوگنه کي راضي وي نوهغه دي هغه طلاقه نه کړي.
(دکورنتیانوپه نوم دپولس رسول لومړی لیک باب۷: ۱۲)
تاسی اوس ودې ایات ته وگوری چي پولس رسول وایی چي زه درته وایم نه مالک (خدای)، یعنی دی په دې ځای کي نه وایی چي یاوماته الهام وشو،یاروح القدس

(c) ketabton.com: The Digital Library



وماته وويل بلکې دی وایی چې زه درته وایم اودازماشخصي رایه ده، نوداځنګه دخدای کتاب یاکلام کیدلای شي.

۲-څوک چې واده شوی نه وي دهغوی په باب کښې زماسره دمالک څه حکم نشته، خوزه خپله رایه درکوم لکه څوک چې پرې دمالک رحم شوی دی چې ایمانداره شي.

(دکورنتیانوپه نوم دپولس رسول لومړی لیک باب۷: ۲۵)

دلته پولس رسول وایی چې زماسره دخدای هیڅ حکم نشته خوزمارایه داده چې دابه داسی وي، دلته پولس رسول نه داوایی چې روح القدس وماته وويل اویاوماته الهام وشو، نودپولس رایه به څنګه دخدای کتاب یاکلام وي؟؟؟ نه هیڅکله نه.

۳- زه چې اوس څه وایم دمالک په طورنه بلکې په بې وقوفی سره اوپه هغه جرأت سره ئې وایم چې په فخرکولوسره وي.

(دویم خط دکورنتیانوپه نوم باب ۱۱: ۱۷)

دلته بیاپولس رسول وایی چې زه دخپله ځانه څه وایم اوهغه هم په بې وقوفی سره نه دخدای له لوری، نوکله چې یوه خبره نه دخدای له لوری وي، نه الهام ورته شوی وی، نه روح القدس ورته ویلی وي اونه هم دوقوف په دایره کې وي نودابه څنګه دخدای کلام اویاکتاب وي ؟؟ نه هیڅکله نه. نوحقیقت اوواقعیت داسی دی چې پولس رسول وایی چې زه درته وایم نوبیادده وینادلیل نشی جوړیدلای اوبیادپولس رسول داخبره منل چې ګنی بایبل دخدای کلام دی نودپولس ټولې ویناوي همداسی دي؛ پاتی شو دپطروس رسول لیکونه،دالیکونه هم وځانګړو خلکوته په خاص حالت کي لیکل شوي دي لکه پطروس چې وایی:

ماپه سلوانوس چې زماپه خیال کي دیانتداره وروردی څه لږشی می ورته ولیکي.

(اول خط دپطروس رسول باب ۵: ۱۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوهمدارنگه پطروس رسول وايي چي

زماورونړو!، زماخويندو! زماملگرو! زه درته وايم! اوداسی نور... چي په ښکاره داورځخه ځرگنديږی چي داهرڅه پطروس له ځانه ځخه ليکلی دي، دئ نه وايي چي حضرت عيسی عليه السلام وماته وويل، روح القدس وماته وويل، وماته الهام وشو اوداسی نور...

دابيله خبره ده، چي خپله عيسايي علماء وايي چي په واقعيت کي دپولس رسول ليکونه دپولس نه دي، اودپطروس رسول ليکونه دپطروس نه دي.

له دې ځخه علاوه زه به ډيرژرپه بايبل کي تکرونه، غلطيانې، تحريفونه،سرگردانه جملې،بې مفهومه اوسرگردانه بحثونه ،اونورڅه درولیږم اوکيدای شی چي زماپه هره ليکنه دي دعيسائيت په هکله وحقيقت ته ورسيږي، دعيسائيت ريښه اوماهيت ښه درته معلوم شي، تاسی خودبايبل په هغو جملو اوفقروباندی ښه خبر ياست چي تاسی ئې په مذهبي اوتشريفاتي مراسموکي استعمالوئ تراوسه په ټوله نړی کي داسی ځوک نشته چي د۲۰۰۰ کلونوراهيسی دي بايبل حفظ وي، برعکس الحمدلله ثم الحمدلله دقرآنکريم حافظان په هره سيمه کي ترشماروتلی دي چي داهم دقرآنکريم حقانيت دي. نودبايبل په (۳۳۰۰۰) اياتونوکي دانشته چي دادي دخدای کتاب وي، اويادی بايبل خپله ووايي چي زه دخدای کتاب يم.

# انجيل برناباس

## برناس ځوک دی؟

دبرناباس اصلی نوم يوسف وودسيدناعيسی عليه السلام حوارييتو دانوم(برناباس) ځکه پرکښېښودچي ده ډيرنصيحت اودعوت کاوه (برناباس) يعنی ددعوت اونصيحت ځوی، يامرسته کوونکي چي بايبل وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



اویوسف نومی یوسړی ووچي رسولانوبه ورته برناباس(برنابا) وایه چي معنی ئې مرسته کوونکي، اوهغه له اصله دقبرص اوسیدونکي ؤ اودهغه یوپټی ووکوم چي هغه خرڅ کړاوهغه پیسې ئې راوړی اوهغه ئې درسولانوپه پښوکي کښېښوولې. (اعمال درسولانو ۴: ۳٦، ۳۷)

چي بابیل په ښکاره وایی چي هغه څومره دحوارییونوسره جوړ اوڅومره خدمت ئې کاوه، هغه یوه ټوټه ځمکه ئې درلوده هغه ئې هم دالله درضاء لپاره خرڅه کړه اوددین خدمت ئې پرمخ بیوی. یوه بله خبره دیادونې وړده هغه داچي دالقب ئې ځکه وده ته ورکړل شوچي په دغه وخت کي ده ډېره مرسته وکړه اوترده زیات دعوت هیچا نه دی کړی داځکه چي هرڅوک له یهودوڅخه په ویره کي ؤاوهغوواژه، نوځکه برناباس خاص ارزښت لری.برناباس له جایداده تېرشو،دخپل مرګ پروائې نه درلوده دادڅه شی له کبله؟ یواځي اویواځی ددین په خاطرنه دشهرت په خاطرنه ددنیاپه خاطراونه هم دبلی دنیوي ګټې په خاطر بلکې داخروي ګټې په خاطرده هرڅه وکړل.

خلکوبه دبرناباس په نامه قربانی کولې اوخلکوورته دیوتا وایه، چي دی ورسره مخالف ووله دی کاره سره لکه په (اعمال درسولانو ۱۴: ۱۲)

اوبیابایبل وایی:

موږدافیصله کړې ده چي خپل خوښ کړي نماینده ګان دخپلوخوږوملګروبرناباس اوپولس سره درولیږو، چي دوی خپل ځانونه دعیسی علیه السلام لپاره قربانی کړیدي.

(اعمال درسولانو ۱۵: ۲۵).

برناباس یوښه سړی ؤ اوپه روح القدس معموروو اوایمان ئې مضبوط وو، نوډېروخلکوپه مالک باندی ایمان راوړ.

(اعمال درسولانو ۱۱: ۲۴).

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي ددې ايات څخه ښكاره شوه چي برناباس لكه عيسى عليه السلام په روح القدس معموروو، ښه سړی وو، اوايمان يي دومره ټينګ وو چي كله به خلكووده ته وكتل اودده نصيحت به ئې واوريدی نوايمان به ئې راوړی، چي په ټولوكي دی يووتلې څهره وه اوخلكوبه دده په نامه قربانۍ كولې چي دی بيادډې كارسره مخالف هم ؤ

دعيسايانودارُالتبليغ انطاكيه وه چي په هغه كي برناباس معلم وو، اوده نصيحت كاوه لكه :

اعمال درسولانو۱۳: ۱ـ ۴)

اوهغوبرنباس ته زيوس..... وويل.(اعمال درسولانو۱۴: ۱۳)

## زيوس څه شي ته وايي؟

اسماني اوفضايي ديوتا،دادديوتاګانوترټولولومړی دی،داچي برناباس ښه قداوقامت درلودی اوښه چهره ئې وه نوځكه وده ته زيوس ويل كيده.[153]

برناباس په عيسائيت كي خاص نوم اولقب لری، نوځكه دده انجيل هم دنوروډېرو انجيلونوڅخه غوره اوښه دی، داچي دی دسيدناحضرت عيسى عليه السلام په ژوندكي ترټولوښه نصيحت كوونكي وونوځكه دده هره خبره سندده، داځكه چي كه چيری ده سمی خبرې نه كولای نوكيدای سی چي بايبل ورباندی پټه خوله وای، اوبرعكس اوسنی بايبل دده پرښه والی اوغوره والی باندی اعتراف كوی، نوځكه دده انجيل واصل انجيل ته نژدی دی

چي دلته په ښكاره سره جوتيږی چي برناباس ترسيدناعيسى عليه السلام څومره ځان قرباناوه، اوڅومره ارزښت ئې ورته درلودی.

---

[153]قاموس الكتاب،مخ ۴۸۹، ليكوال:ايف ايس خيرالله، خپرونكي:مسيحى اشاعت خانه ۳۶ فيروزپورلاهور۲۰۰۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دبرناباس انجیل

برناباس یوانجیل ولیکي چي داانجیل به له ده سره تل ورسره ؤکله چي دده قبروکیندل شونوداانجیل له ده سره پروت ؤداانجیل ۱۸ کاله په کلیساؤکي ویل کیدی اوتبلیغ کیدی،دده داانجیل هغه څه منعکسوی چي په قرآن کریم کي شتون لری،داانجیل داوسني عیسائیت خلاف دی،په ۴۹٦ میلادي کال کي راهبانوپردې انجیل باندی بندیزولګوی،داانجیل تر۱۰۰۰ کلونوپوری داروپاپه کتب خانوکي پروت ؤ، وروسته یوځل داانجیل یوه عیسایی راهب فریمیرینو(Fermarino) پیداکړ، ددوهم ځل لپاره داانجیل په ۱۲۰۹ میلادی کال کي په ایمسترډام کي وموندل شوچي داسټریاپه شاهی کتابتون کي موجودؤ،په ۱۸ پیړۍ کي په هسپانوی ژبه باندی ددې انجیل نسخه وموندل شوه،چي بیاونوروژبوته وژباړل شو.[۱۵۴]

انجیل برناباس چي اصلي نسخه ئې په ایټالوی ژبه ده اوداسټریاپه پلازمېنه ویاناکي پروت دی دا۲۲۲ فصلونه لري،په دې انجیل کي نه دحضرت عیسی علیه السلام صلیب شته،نه داپکښې شته چي حضرت عیسی علیه السلام دخدای زوی دی، نه دحضرت عیسی علیه السلام الوهیت شته، نه کفاره شته، نه عشاء ربانی شته اوداسی نور...

داانجیل پر۲۲۵ پاڼوباندی مشتمل دی،اوجلدئې دپوستکي دی،په ۱۸ میلادي پیړۍ کي دبرناباس انجیل په هسپانوی ژبه باندی وموندل شوچي هغه۱۲۲ بابونه درلودل،دانسخه دډاکټرجنک هوس ته په لاس ورغله چي هغه داکسفورډکالج غړی ؤ اوهغه ددې انجیل ژباړه وانګلیسي ژبې ته وکړه.

---

[۱۵۴] یهودیت ، عیسایت اوراسلام، مخ:۲۱۴ لیکوال: مرحوم شیخ احمددیدات،خپرونکي:عبدالله اکیدمی لاهور۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسی کولای شی چي پوره معلومات دانجیل برناباس په هکله په انجیل برناباس اردوژبه کې وګورئ.[۱۵۵]

## پرانجیل برناباس بندیز

دبرناباس پرانجیل باندی پاپ جلاشیوس(جلاشیس) په ۵ میلادي پېړۍ کي بندیز ولګاوه،یعنی دحضرت محمدصلی الله علیه وسلم تررااتګ ۱۰۰ کاله مخکي،پاپ جلاشیوس(جلاشیس) وویل که هرچاددې کتاب مطالعه وکړل هغه مجرم دی،اوداحکم ئې جاری کړ،خوځینی کسان لادا وایی چي دایوه مسلمان لیکلی دی ،خو داحقیقت نلري داځکه چي داانجیل لاهغه مهال شتون درلودی چي اسلام نه ؤ،چي پردې باندی انسایکلوپیډیاامریکانا ګواه ده تاسی کولای شی وئې ګوری.[۱۵٦]

(انسایکلوپیډیاامریکانامخ،۲٦۲ ټوک ۳)

## دبرناباس دانجیل بله اصلي نسخه پیداشوه

دانجیل برناباس بله نسخه په ترکیه کي ومومندل شوه دغه په طلایی آب لیکل سوې لاسی نسخه چي ۱۴ ملیونه پاونډه قیمت لری ، او د عیسی (ع) په خپله مورنی یعنی آرامي ژبه لیکل سوې ده ، د ده پخوانی ښوونی لری او هم د راتلونکي پیغمبر پیش ګویی پکښی کوی.

دغه کتاب چي د حیواناتو پر پوستوکو لیکل سوی دی ، په کال ۲۰۰۰ کي د ترکي پولیسو لخوا د قاچاقبرانو پر ضد په عملیاتو کي پیدا سوی دی . هغه تر ۲۰۱۰ کال پوری په ښه

---

[۱۵۵] انجیل برناباس اردو،ژباړه:مولانامحمدحلیم انصاری صاحب، مقدمه: مولانامحمدامین صفدرصاحب، ترتیب: خالدمحمدصاحب
خپرونکي:اداره اسلامیات کراچی لاهور۲۰۰۳
[۱۵٦] عیسایت کیاهے؟ ۱۴۹مخ، لیکوال: شیخ الاسلام محمدتقی عثمانی، خپرونکي: دارالاشاعت کراچی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټینګه ساتل کېدئ ، څو چي د انقرې« د نژادونو څیړنیز موزیم« ته وسپارل سو ، او ډېر ژر به په لږ قیوداتو سره د خلکو پر مخ پرانیستل سی . د دې لرغونی لاسی نسخې د صرف یوې صفحې فوټوکاپي کول به څه نا څه یو نیم ملیون پاونډه وی.

اواوس ئې داانجیل په ۲۰۱۲ کال کي اعلان کړدااانجیل ۱۵۰۰ کاله مخکي لیکل شوی انجیل دی، پاپ شپاړسم بن ډیک په رسمی توګه دترکیې دحکومت څخه غوښتی دي چي داانجیل له نژدې څخه وګوری، اودې انجیل دوی هم حیران کړیدي؛ په دې انجیل کي نه تثلیث شته، نه دعیسی علیه السلام الوهییت شته، نه دحضرت عیسی علیه السلام صلیب شته، بلکې د دغه انجیل په متن کي ویل سوي دي چي هغه یو اسقف یعنی پادري ته داسی وویل شول : هغه مسیح به څه نومیږی ؟ راهب ځواب ورکړ: مبارک نوم یې محمدصلی الله علیه وسلم دی. نړیوالوڅیړونکوچي دانسخه دنژدې لیدلې ده په دې اندړی چي دانسخه تراسلام مخکي لیکل شویده،دوی شواهدوړاندی کوی چي دلیکنو، طلایی آب، پوستکواولیکدودڅخه داپه ښکاره جوتیږی چي دادبرناباس رسول انجیل دی، چي ټوله عیسایی نړی ئې حیرانه کړې هم ده اوډیرژربه په نوروژبووژ باړل شی اوپه نړی کي به خپورشی.

له دې څخه علاوه هغه دبرناباس انجیل چي په نړی کي شتون لري اوپه مختلفوژبوباندی ژباړل شوی دی په هغه کي دفخرالموجودات حضرت محمدمصطفی صلی الله علیه وسلم مبارک په هکله داسی لیکي دی:

## په انجیل برناباس کي دفخرالموجودات صلی الله علیه وسلم په هکله ربښتنې اوسپینې وړاندوینې:

ژرده چي خدای له دغه یوموټي خاورې څخه یوسل اوڅلویښت زره پیغمبران په نښه کړی اورسول الله هم په نښه کړی، خدای درسول الله صلی الله علیه وسلم روح له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولوژوندیوموجوداتو څخه مخکي یعنی شپیته کاله مخکي پیداکړ. دوی ټول پیغمبران راغلل ، خورسول الله به ژرراشی څکه چي دغه خدای غواړی چي دهغه لاره برابره کړی. (انجیل برناباس فصل ۳٦: ٦)

نوخدای انسان ته هغه لیکنه ورکړه، دښی لاس دگوتی په نوک چي نص یی (لااله الاالله) دی، اودهغه دچپ لاس په نوک (محمدرسول الله) لیکلی ؤ، نواول انسان (آدم علیه السلام) دامچ کړل اوپرسترگوئي وموښل اووئي ویل چي رحمت اوسلامتیادی وی پرتاپه هغه ورځ چي ته ودې نړی ته راځی. (انجیل برناباس فصل ۳۹: ۲۸-۲۴)

کله چي آدم پرپښوروان شونوپه هواکي ئې دلمرپه شان یوځلانده کلمه ولیدل چي په هغه کي نوشته وه(لااله الاالله محمدرسول الله). (انجیل برناباس فصل ۳۹: ۱۴)

آدم علیه السلام وویل: اې خدایه! زه وتاته په دې کلمه سره دعاکوم، محمدرسول الله. (انجیل برناباس ۳۹)

آدم دجنت پردروازې ولیدل چي لیکل شوی وو( لااله الاالله محمدرسول الله). (انجیل برناباس فصل ۴۱: ۳۳)

اوازپورته شواوخلکوویل اې خدایه! خپل پیغمبرژرراولیږه، اې محمدصلی الله علیه وسلم ژرراشه اودې نړی ته نجات ورکه.
(انجیل برناباس فصل۹۷: ۱۸)

کاهن په خوب کي ورته وویل چي دمحمدرسو ل الله څخه وروسته نورپیغمبران هم راځی؟
حضرت عیسی علیه السلام ځواب ورکي: له ده څخه وروسته حق نبی نه راځي البته ددرواغجنونبیانویو تعداد راځي.
(انجیل برناباس فصل ۹۷: ۷- ۹)

کله چي دخدای سپیڅلی پیغمبرمحمدراشی، نورسوایی اوبدنامي به ختمه شی. (انجیل برناباس فصل ۱۱۲: ۱٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چي دی (محمدصلی الله علیه وسلم) راشی نوټول شیطانان به چیغې کړی، اووبه وایی چي ترسکروټولاندی شی اویودبله به ووایی چي والوځی، اوله دغه ځایه څخه زموږ دښمن محمدراځی.

( انجیل برناباس فصل۱۳٦: ۱۴)

حوارییونوویل اې باداره! داڅوک دی چي ته ئې په هکله خبرې کوي اودې نړی ته راځی؟ عیسی دزړه په خوښی سره ځواب ورکړ چي هغه محمدرسول الله دی، اوکله چي هغه راشی نوداداسی مثال لری لکه چي پریوه مځکه چي باران وشی اوهغه مځکه ډیره ښه میوه وکي اوبیاشاړه نشی. (انجیل برناباس فصل ۱٦۳).

په انجیل برناباس کي ٦ ځلی نورهم دمحمدصلی الله علیه وسلم نوم راغلی دی، چي دلته پورتنی ایاتونه کفایت کوی انشآءالله.

په انجیل برناباس کي ۱۵ ځلی دمحمدصلی الله علیه وسلم نوم مبارک راغلی دی،اواشارتاًخوډېرزیات دی، چي په قرآنکریم کي په همدومره اندازه سره دفخرالموجودات صلی الله علیه وسلم نوم مبارک نه دی راغلی، چي بیاهم عیسایی نړی ورباندی سترګې پټوی، اودوی داوایی چي دابایبل برناباس نه دی لیکلی اویومسلمان لیکلی دی،داځکه چي دبرناباس دانجیل احکام وقرآن ته نژدې دي، اوحال داچي داانجیل دسیدناحضرت عیسی علیه السلام یوحواری برناباس لیکلی دی، اودلومړي پاپ جلاشیوس(جلاشیس) په واسطه منع شو، اوتاریخ ګواه دی چي لومړی پاپ جلاسیوس داسلام دسترپیغمبرصلی الله علیه وسلم څخه مخکي تیرشوی دی، اونه داانجیل یومسلمان لیکلی دی اونه یی هم لاس پکښې وهلی دی.

په اوسني بایبل کي هم دحضرت محمدصلی الله علیه وسلم بیان راغلی دی خوتاسی ګران لوستونکي کولای شی چي داهرڅه په (نبی کریم صلی الله علیه وسلم په بایبل اوقرآن کي) کي ولولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انجیل برناباس مسلمان نه دی لیکلی

ځیني عیسایی علماء اوفاضلان په دې عقیده دي چي انجیل برناباس یوه مسلمان لیکلی دی داځکه چي زیات ایاتونه داسی پکښې دي چي دقرآن سره موافق دي خوموږدلته ډیردلایل لروچي انجیل برناباس مسلمان نه دی لیکلی داځکه چي:

۱: انجیل برناباس تراسلام مخکي لیکل شوی دی،اوهغه نسخې چي اوس پیداشوي دي اوپه آرامي ژبه سره دي هغه دنن څخه ۱۵۰۰ کاله مخکي لیکل شوي دي.

۲: په انجیل برناباس فصل ۲۰۹: ۴ کي دځینوفرشتونومونه راځی لکه میخائیل، رفائیل اواوریل، همدارنګه ددې فرشتوبیان په (فصل ۲۱۵: ۳)او(فصل ۲۱۹: ۷ ) کي راغلی دی چي دانومونه په قرآن کریم کي نشته نوکه دالیکوال مسلمان وای نودانومونه به ئې نه ذکرکولای.

۳: په (فصل ۲۱۹ اوفصل ۲۲۰) کي راځي چي کله حضرت عیسی علیه السلام واسمانوته پورته شو اودفرشتوسره یوځای شونوبیایی له خدای څخه وغوښتل چي ماته بیرته اجازه راکه چي ومځکي ته ولاړشم چي دخپلی موربی بی مریم علیها السلام اوزمادشاګردانوسره یوځای شم اوخدای همداسی وکړل دی ئې دفرشتوپه ذریعه ودنیاته راوستی اودی دخپلي موراوشاګردانوسره یوځای شو اوبیرته واسمانوته ولاړی. چي داواقعه هم داسلام څخه خلاف ده،په اسلام کي دانشته چي واسمان ته ترختووروسته دئ بیرته ودنیاته راغلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴: په (فصل ۳۱: ۵) کې راغلي چې دقيصرحق وقيصرته ورکړه اودخدای حق وخدای ته ورکړه، چې له دې څخه په ښکاره معلومېږي چې دين اوسياست سره بېل دي داهم داسلام خلاف ده، نوځکه دامسلمان نه دی ليکلی.

۵: په (فصل ۱۰۵: ۳) کې راغلي چې اسمانونه ۹ دي، اوحال داچې په قرآن کريم راغلی دي چې اسمانونه ۷ دي، نوځکه مورږويلای سوچې داکتاب مسلمان نه دی ليکلی.

اوداسی نورپه سلهاؤ

## مسلمانان بايددانجيل برناباس په هکله څه عقيده ولري؟

ددې په هکله مستقل يوکتاب ليکل شوی دی د(العقائدالاسلامية وانجيل برنابا) خوزه غواړم چې ددې کتاب يوڅوکرښې دلته راوړم.

انجيل برناباس داسلام دځلوروغټوعقايدوسره موافق دی:

۱ - سيدناحضرت عيسی عليه السلام دخدای بنده دی، دخدای رسول دی وبل لورته نه حضرت عيسی عليه السلام خدای دی ، نه دخدای زوی دی اونه هم دتثليث برخه دی.

۲ - فخرالموجودات حضرت محمدمصطفی صلی الله عليه وسلم رسول دی،خاتم الانبياء دی اويونړيوال پيغمبردی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ - حضرت ابراهیم علیه السلام چي خپل کوم زوی ذبحه کاوه هغه حضرت اسماعیل علیه السلام ؤ، نه حضرت اسحاق علیه السلام.

۴ - حضرت عیسی علیه السلام نه دی وژل شوی،اونه هم صلیب (ځړول ) شوی دی، بلکې دده پرځای یهودااسخریوطی ووژل شو.

په دې کتاب کي لس نوری عقیدې هم شته چي داسلام سره موافقې دي چي داداسلام حقانیت دی،خودلته همداڅلورکفایت کوي،له دې څخه وروسته ددې کتاب لیکوال عبدالحمیدخالدسرحان صاحب وایی:

موږنشوویلای چي دادی هغه انجیل وي چي پرحضرت عیسی علیه السلام باندی نازل شوی وو، بلکې موږویلای شوچي؛ موږنه ددې انجیل تصدیق کوو، او نه هم ددې انجیل تکذیب کوو.[۱۵۷]

والله اعلم

اللهم انصرمن نصردين محمدصلى الله عليه وسلم وجعلنامنهم

اللهم انانشکرک ونؤمن بک ونتوکل علیک.

سبحان ربک رب العزة عمایصیفون وسلام على المرسلين والحمدلله رب العالمين

[۱۵۷] العقائدالاسلامية وانجيل برنابا
لیکوال: عبدالحمیدخالدسرحان/ خپرونکي: مكتبة الصحابة الاسلامية السالمية- الكويت ۱۹۸۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عبدالغفارجُبيرته ډالی!

تادي خدای (ج) تل لري ابادجُبيره

اوسه کامياب ورسره ښادجُبيره

تاالهي دين ته خدمت کړی دئ

ښه دي پوره دژوندمرادجُبيره

تاقرباني له خپله عقله ورکړه

يې افتخاردخپل هيوادجُبيره

دهرې کرښې به عوض ووينې

دامي وعده ده ساته يادجُبيره

تاته چي څوک په بدنظردرگوري

هغوي دي ټوله شي بربادجُبيره

درته تل دعاوي اميدي کومه

واخله زمادزړگی داد جُبيره

(ايمل اميدي زابل)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دليكوال چاپ اثار

۱: ماولي اسلام قبول کړ؟لومړی چاپ/ دوهم چاپ

۲: زمامناظره ديوه عيسايي راهب سره.

۳: سوال ځواب.

۴: اسلام اونوي سانيسي څېړنې ۱ ټوک.لومړی چاپ/ دوهم چاپ

۵: اسلام اونوي ساينسي څېړنې ۲ ټوک.

۶: اسلام اونوي ساينسي څېړنې ۳ ټوک.

۷: بايبل پېژندنه.

۸: ليک لاربنود.

۹: په انگليسي ژبه کي تلفظ اوبې غږه توري.

۱۰: نبي کريم صلی الله عليه دغيرمسلمانانوپه آند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دليکوال ناچاپ اثار

۱: اسلام اونوي سانسي څېړنې ۴ ټوک.

۲: دعيسائيت حقيقت.

۳: ښکلي څوابونه.

۴: نامتومسلمان ساينس پوهان.

۵: اياقرآن کريم له بايبل څخه اخيستل شويدئ؟

٦:نبي کريم صلی الله عليه وسلم په قرآن اوبايبل کې.

۷: حضرت عيسی عليه السلام په قرآن ،بايبل اوتلمودکې.

۸: په بايبل کې غلطياني اوتحريفات دبايبل په ژبه.

۹: په بايبل کې تکرونه دبايبل په ژبه.

۱۰: په بايبل کې فحشاء، پوچي اوبې هوده خبرې دبايبل په ژبه.

۱۱: ايابايبل دخدای کتاب دی؟

۱۲: جُبيرقلم.

۱۳: ديهوداوعيسايانوالهام له بايبل څخه.

۱۴: داسلام اوعيسائيت پرتله.

۱۵: دنړۍ مذهبونه اوبنسټونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هغه سرچینې چې په دې کتاب کې ورڅخه کاراخیستل شوی دی


۱- قرآنکریم

۲- (احکام القرآن ج۱ابوبکرجصاص رازی،)

۳- بایبل سے قرآن تک (اظہارالحق کااردوشرح )لیکوال: شیخ الاسلام حضرت مولانامحمدتقی عثمانی صاحب

4- بایبل کیاهے لیکوال: شیخ الاسلام مفتی محمدتقی عثمانی صاحب، مکتبه دارالعلوم کراچی ۱۴۳۰ هق

۵- اعجازعیسوی، لیکوال مناظراسلام مولانارحمت الله کیرانوی الهندی رح، اداره اسلامیات لاهور

٦- المعجم الوسیط: دارالدعوة مؤسسة ثقافیة للتالیف والطباعة والنشروالتوزیع استانبول– ترکیه- ۱۹۸۹ میلادی

۷- یهودیت، عیسائیت اوراسلام،لیکوال: شیخ احمددیدات،خپرونکي عبدالله اکیډمی لاهور۲۰۱۰

۸- آریانادایرة المعارف، ، چاپ دافغانستان دعلومواکاډمي ددایرة المعارف دمرکزریاست ۲۰۰۸

۹- مرحوم شیخ احمددیدات

۱۰- قاموس الکتاب- لیکوال: ایف ایس خیرالله، خپرونکي: مسیحی اشاعت خانه ۳٦ فیروزپورروډ لاهور۲۰۰۸

۱۱- انسائیکلوپیډیابریټانیکا، ۱۹۵۰

۱۲- کتاب مقدس،(اردوبایبل) بایبل سوسایټی انارکلی لاهور۲۰۱۱

۱۳- کلام مقدس،(اردوبایبل) کاتولیک بایبل کمیشن پاکستان ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۴- الکتاب المقدس (عربی بایبل)، لبنان، ۱۹۹۵
۱۵- د (اری اسی وی) بایبل چاپ: ۱۹۷۱، ص- ۱۲_ ۱۷)
۱٦- بهیج انگلیسی پښتوسیند
۱۷- درياب، پښتولغت، مولفین قلندرمومند اوفریدصحرایی، ص- ۳۳۷
۱۸- دالله کلام،(پښتوبایبل) درمطبع برټش بایبل فارن سوسایټی لندن ۱۸۹۵
۱۹- تاریخ کلیسا، لیکوال:ډاکترډونلډ ډي سمیټن،خپرونکي:پل گاسپل اسمبلی آف پاکستان
۲۰- تفسیر هورن چاپ ۱۸۲۲، ج- ۲، باب ۲، بحواله اظهارالحق
۲۱- انجیل شریف اول جیبی چاپ ۱۹۹٦
۲۲- انجیل برناباس :خپرونکي اداره اسلامیات لاهور ۲۰۰۳
۲۳- کتاب مقدس(ریفرنس اردوبایبل) پاکستان بایبل سوسایټی لاهور۲۰۱۱
۲۴- العقائدالاسلامیة وانجیل برنابا
لیکوال: عبدالحمیدخالدسرحان/ خپرونکي: مکتبة الصحابة الاسلامیة السالمیة- الکویت ۱۹۸۲

۲۵- Easton's Bible Dictionary
۲٦- Merriam Webster*s Collegiate Dictionary, ۱۰ th Edition (۲۰۰۰)
۲۷- Concise Oxford English Dictionary ۱۱ th Edition
۲۸- Bible Dictionary
۲۹- Encyclopedia of Christianity.p۳۰۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۰ - Encyclopedia Americana, vol.۳.p.٦۱۲

۳۱ - Boyd*s Bible Dictionary, pp.۵٦'۸۲

۳۲ - Jesus in His Time, p. ۷۳

۳۳- Flavius Josephus: Antiquities of the Jews, v:۱۱,x:۳

۳۴- J.p. Boyd: BibleDictionary, p. ۸۵

۳۵- F.G.Bratton: History of the Bible, p.۱۰۰

۳٦- The Catholic Bible

۳۷- Encyclo. Brit. (۱۹٦۲)

۳۸- American People*s Encyclopedia. Vol. ۳, p. ۴۲۰

۳۹- Holly Bible, The British and Foreign Society, ۱۴٦ Queen Victoria Street

۴۰ - Concise Oxford Dictionary of the Church, p. ۳۹۳

۴۱ - Bratton*s History of the Bible, p. ۱۲۲

۴۲ - Encyclopedia Britannica-۱۹۴٦

۴۳- Frank Moore Cross, from Epic to Canon: History and literature in Ancient Israel, Baltimore and 'London, ۱۹۹۸, pp۴۱-۴۲

۴۴-how the Bible became a book? pp,۱۲۴-۱۲٦,

۴۵-R.E. Clements, God and Temple, Oxford, ۱۹٦۵,pp>۸۹-۹۵

۴٦-The Original Torah ,pp۱۴٦-۱۴۷

۴۷- Akenson ,Surpassing Wonder, pp>۲۲۹-۲۴۳

۴۸- The Bible The Biography: by Karen Armstrog-۲۰۰۹

۴۹- Ezra١ :١٠ . Fishbane translation, ibid, p ٦٦

٥٠ - Bruns, Midrash and Allegory, pp. ٦٢٦- ٦٢٧

٥١ - Fishbane, Garments of Torah, pp ٦٧- ٦٩

٥٢ - The invention of the Bible and Talmuds, New york, San Diego and London, ١٩٩٨, pp. ٨٩-٩٠

٥٣-The Bible The Biography: by Karen Armstrog-٢٠٠٩

٥۴-The History of the Scripture through Ages-٢٠٠٥

٥٥- A Collection of these Gnostic gospels was discovered at Nag Hammadi in Egypt in ١٩۴٥

٥٦- Fridricksen, Jesus p ١٩

٥٧- what is scripture?

٥٨- On The Confusion of Tongues

٥٩- What Really Jesus say?

٦٠ - Th e History of the Bibel ١٩٩٠

٦١ -The Origin of the Bible-١٩٨٨

٦٢ -American People*s Encyclopedia, vol. ٣. ۴٢٠

٦٣- Dr.E.Sellier: Introduction to the Old Testament, English Translation by W. Montgomery, London ١٩٢٣

٦۴- John Lewis: Religions of the World Made Simple< London

٦٥- Dr.Maurice Bucaille: The Bible, The Quraan and Science

٦٦- The New Funk and Wagnall*s Encyclopedia, New York ١٩۴٩

٦٧- Stanley Cook: Introduction to the Bible ١٩٥٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦٨- Bratton*s History of the Bible

٦٩- Collier*r Encyclopedia

٧٠ - Encyclopedia.Brit ١٩٧٣

٧١ - New Catholic Encyclopedia

٧٢ - Encyclopedia.Brit ١٩٧٣

٧٣- Encyclopedia Amricana

٧۴- Funk And Waggnall*s Encyclopedia

٧۵- Encyclopedia of Britannica, ١٣th edition, vol ٢. ١٧٩l, ١٨٠

٧٦- Merriam Webster*s Collegiate Dictionary, ١٠ th edition

٧٧- Practical Combined Dictionary

٧٨- Oxford Advanced Learner*s Dictionary ٧th edition (٢٠٠۵)

٧٩- Dr.E.Sellier: Introduction to the Old Testament, English Translation by W. Montgomery, London, (١٩٢٣), pp. ٢۵/٢٦

٨٠ - F. G. Bratton: op. cit, pp , ٨۵, ٨٦

٨١ -Herbert Muller: Use of the Past, p. ٨٩

٨٢ - The History of Church, Sec.٣, p.٣١١

٨٣- Encyclopedia of Biblica

٨۴- Encyclopedia of Bretaneca

٨۵- Holly Bible (NKJV): Thomas Nelson, Inc. USA ١٩٨٠

٨٦- Encyclopedia of Religions and Ethics ١٩١٧

٨٧- Floyd.H.Ross and Tyentte Hills: op.cit ١٣٧

٨٨- Arnold Meyer: Jesus or Paul, London ١٩٠٩

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸۹-Hammerton: Universal History of the World

۹۰-Encyclopedia of Brit ۱۹٦۲

۹۱- Holly Bible(NKJV),Red letter Bible, Thomas Neslson Bible USA-۱۹۸۲

۹۲- The Bible,Revised Standerd Version, the British and Foreign Bible Society ۱۹٥۲

۹۳- The New American Bible, the new catholic translation

۹۴- Text for the Newtestament/Bruece Metzger)

۹٥- Origion of Scriptures

۹٦- Infallible? (Hans Kung)

۹۷- Is the Bible Word of God? (Dr. Graham Scroggie)

۹۸-Islam and Christianity /Husain Hilmi printed in Istanbul ۲۰۱۱

۹۹- Is the Bible God*s Word? by Ahmed Deedat۲۰۰۸/ printed: Ministry of Awqaf and Islamic Affairs Department State of Qatar

۱۰۰- The Bible, The Quraan and Science

By: Dr. Maurice Bucaille

Translated From French by: Alastair D. Pannell and The Author

۱۰۱- Deseret News Publishing Co. ۲۰۰۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰۲ -Our Bible and the Ancient Manuscripts/ Dr. Lobegott Friedrich Konstantin Von Tischendorf, one of the most adamant conservative Christian defenders of the Trinity

۱۰۳- Kenneth Cragg, the Anglican Bishop of Jerusalem

۱۰۴- July ٦, ۲۰۰۹ -- Updated ۱٦۲۸ GMT (۰۰۲۸ HKT/By Richard Allen Greene CNN

۱۰۵- July ۲۴, ۲۰۰۸ -- Updated ۱۱۱۳ GMT (۱۹۱۳ HKT)/ By Ed Payne

۱۰٦-. Dr. W Graham Scroggie of the Moody Bible Institute, Chicago, a prestigious Christian evangelical mission

۱۰۷- Prepared by Pastor Aaron Goerner (۷/۱۰/۲۰۰۵). See Dt.۳۳:۸-۱۰; Ezra ۷:۱۰; Malachi ۲:۷; Matt.۱۳:۵۲; Acts ۱۷:۱۱; Col.۱:۲۸'۲۹; ۱Tim.۴:۱۲-۱٦. (the most embaressing part of the Bible)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**